# د خلکو سندري

ليکوال

حبيب الله رفيع

خپرونکی

د افغانستان اکاډمي
د تاريخ او ادب ټولنه

۱۳۴۹

دتاریخ اوادب ټولنې
خپرونې: نمبر «۹۷»

دافغانستان اکاډیمي
خپرونې: نمبر «۳»

# دخلکو سندرې

## او د فولکلور په باب لنډه څېړنه

لیکوال

**حبیب الله «رفیع»**

خپروونکې

**دافغانستان اکاډیمي**

**دتاریخ اوادب ټولنه**

کابل ـ دولتي مطبعه
د ۱۳۴۹ دوړی «۱»

دچاپ، ترجمی او اقتباس حقوق په لیکونکی پوری اړه لری ،دکتاب دنامه اخیستلو په صورت کی استفاده آزاده ده.

PROPERTY OF
ACKU
5400

أ

# بنام خدای بخشایندهٔ مهربان

ترانه های مردم و فولکلور ازموضوعهای مهم جامعه شناسی وجزوی از تاریخ ادبیات است که درشناسائی روحیات یك ملت وتاریخ وعنعنات آن مقام مهمی دارد .

زبان ملی پښتو ازنظر فولکلور وترانه های دلچسپ مردم ، درتاریخ ادبیات ما ارزش فراوانی دارد وبنابرین فراهم آوری و تحلیل و تشریح آن ازوظایف اکادیمی افغانستان است.

درین کتاب اکثرانواع ترانه های پښتو باتجزیه وتحلیل علمی تشریح وفراهم گردیده ومولف محترم ښاغلی حبیب الله رفیع درفراهم آوری آن دقتی و جهدی کرده است که این اثروی ازنظرتحلیل وجامعیت واحتوابر موضوع ارزش خاصی دارد .

امیدواریم سعی و تلاش مولف محترم ودیگر ارباب دانش ، این موضوع مهم جامعه شناسی وادبی رادر آینده مکمل تر و بصورت کتب جامعتری بمیان آورد ودرباره ترانه های عامه السنه دیگر داخلی نیز اقدامی بعمل آید .

جمال مینه کابل، عبدالحی حبیبی،
رئیس انجمن تاریخ وادب

۲۵ـ اسد ۱۳۴۹

# سریزه

زه له ډیری مودی را هیسی دهغی هینی له کبله چی له فولکلور سره یی لرم د فو لکلور په ډ ټو لو لو بوخت یم، خپل مختلف فولکلوری یادداشتونه می دهیواد په مجلو او جریدو کی خپرول خومی په ۱۳۴٦ کال کی د خپلــو یاد دا شتو منظمه سلسله د (آریانا) په مجله کښی شرو ع کړه چی اوس دادی په کتابی بڼه هم وړاندی کیږی.

په دی مجمو عه کی یوازی او یوازی هغه سندری را ټو لی شوی او تــر څیړنی لاندی نیولی شوی دی چی په خلکو پوری اړه لری، دخلکو له ژوند څخه یی رنګ اخیستی اود فو لکلوری ارزښت در لودونکــی دی اوددی مجمو عی اکثره مطا لب لکه :دمینی او سندری، دما شوما نو سندری، دوړو مشاعری، دلویانو سندری، محلــی سند ری ، دهو ټکو ناری، فا لونه، سانډی او څینی نور بیخی نوی دی چی تر اوسه نه چا لیکلی او نه چا څه پری لیکلی وو اوما په اولس کــی دخلکو له خو لی یاد داشت کړی او لیکلی دی خو بیامی هم په څینی نورو برخو کی له خپلی اولسی مطا لعی سرمــ سره له څینی آثارو څخه هم استفاده کړی ده چی په پــای کــې دماخلو تر عنوان لاندی ښــو دل کیږی .

دا مجموعه د پښتني فولکلور او د خلکو د ادب یوازې د سندرو برخه ده چې که توفیق یاري را سره وکړه نو بیا به د پښتني فولکلور او د خلکو د ادب منثوره برخه هم په خپل وار د دې کار د تکمیل له پاره وړاندې شي او هم څرنګه چې د خلکو سندرې د فولکلور مهمه برخه تشکیلوي نو ځکه له سندرو نه مخکې د فولکلور په باب یوه عمومي څېړنه هم وړاندې شوه.
په پای کې لازمه ګڼم چې د تاریخ تولنې له محترم رئیس استاد حبیبي صاحب څخه د زړه له کومې تشکر وکړم ځکه د دوی په سپارښت د اثر د آریانا تر مجلې سربېره په کتابي شکل کې هم وړاندې کېږي او هم له محترمو لوستونکو څخه هیله د زړه له کومې غلطي، سهوې او خطاوې یې چې تر سترګو شي، ماته یې را په ګوته کړي او په خپلو قیمتي مشورو او وارد و انتقادو مې خوښ کړي.

حبیب الله «رفیع»

کابل — پروان مېنه

۲۳ر۵ر۴۹

# ددې کتاب خپریدل دلاندینیو کارګرانو دزیار محصول دی:

سرمرتبین: ښاغلو تاج الدین او زین العابدین «شمس».

مرتبین: ښاغلو عزالرحمن «نیاز»، عبدالرحمن «عزیزی» عبدالغفار، نورالحق، نشاز احمد او عبدالعلی «سلطانی».

ماشین کاران: ښاغلو خلیفه خیرالدین، محمد نسیم، محمد ابراهیم محمد عوض، علی محمد او غلام علی.

همدا راز: د حروف ریزۍ، زینکوګرافۍ او صحافۍ د څانګو او د دولتی مطابعو د ریاست توجه د منني او کوردوداني وړ ده.

# دمطالبو فهرست


| | مخ |
|---|---|
| سر لیکک | |
| فولکلور | ۱ |
| څو خبرې | ۲ |
| فولکلور څه ته وايي؟ | ۳ |
| فولکلور له کومه شو؟ | ۵ |
| دفولکلور اهمیت | ۸ |
| پوهان او فولکلور | ۱۱ |
| د فولکلور څېړنې مراکز | ۱۳ |
| دفولکلور پستانو نظریات | ۱۳ |
| دفولکلور تصنیف بندی او ویش | ۱۴ |
| فولکلور یک علوم | ۱۵ |
| دفولکلور لار ښوونکی | ۱۵ |
| دمځکې طبقې | ۱۶ |
| د اسمان، هوا، سیمو او... | ۱۷ |
| نباتات او ځاروی | ۱۸ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| انسان | ۱۹ |
| دماادی ژوند وسایلې | ۲۰ |
| کب نیول | ۲۱ |
| کوچیتوب | ۲۲ |
| نقلیه چارې | ۲۲ |
| په بزګری پوری مربوط مسایل... | ۲۲ |
| سبزی کاری | ۲۳ |
| د باغ او باغچې لرلو چارې | ۲٤ |
| باغوانی | ۲٤ |
| دخوړو دپخولو وسایط | ۲٤ |
| داستوګنې ځای اولوازمې | ۲۵ |
| پوښاک او ګهڼې | ۲۵ |
| هغه شیان چې له خلکو سره وی | ۲٦ |
| دموسیقی آلات | ۲٦ |
| دماشومانو لوبې او سامان | ۲٦ |
| صنایع او مسلکونه | ۲٦ |
| متفرقه مواد | ۲۷ |
| عامه فرهنګ | ۲۷ |
| دماشوم زیږیدنه | ۲۷ |
| واده | ۲۸ |
| کورنی ژوند | ۲۸ |
| دخوړو په باب عقیدې او عادات | ۲۹ |
| داستنې ګنځیو په باب عادات او عقیدې | ۲۹ |
| دجامو اغوستلو په باب عقیدې او عادات | ۳۰ |
| دانشان دمړینې او خښولو . . . | ۳۰ |
| دافسونګرې او فالونو په باب . . . | ۳۱ |

| سرلیکت | مخ |
| --- | --- |
| د اخترونو او میلار کوو رحو په باب . . . | ۳۱ |
| د طبیعی عناصرو او موادو په باب عقیدې .. | ۳۲ |
| د افسانوی موجوداتو په باب | ۳۲ |
| د حقوقو، اقتصادو ... | ۳۲ |
| صنایع او د خلکو ادبیات | ۳۳ |
| لوبې نې لوبې د تیاتر په شکل | ۳۳ |
| د خلکو داستانی آثار | ۳۳ |
| چار بیتې | ۳۳ |
| لوی ادبی آثار | ۳۴ |
| د ماشومانو د ساتېرې د پاره جملې افسانې | ۳۴ |
| کیسې (حکایات) | ۳۴ |
| لطیفې (کومیډی کیسې) | ۳۵ |
| **د فولکلور لار ښوونکې ته کتنه** | **۳۵** |
| **بل و پش** | **۳۶** |
| الف ـ اولسی ادبیات | ۳۶ |
| ب ـ د علوم و فولکلور یک مبادی | ۳۷ |
| ج ـ اولسی دوده | ۳۸ |
| د ـ مادی مدارک او فولکلور | ۳۸ |
| هـ ـ د خلکو کسبونه | ۳۹ |
| **د فولکلورو پشنه** | **۳۹** |
| **د خلکو ادبیات** | **۴۱** |
| د خلکو سندری | ۴۱ |
| د اولسی سندرو ډولونه | ۴۴ |

| سر لیکه | مخ |
|---|---|
| لومړی برخه: عمومي سندرې | ۴۵ |
| دا سندرې | ۴۶ |
| دمیندو سندرې | ۴۸ |
| دماشومانو سندرې | ۵۳ |
| دوړو مشاعرې | ۵۸ |
| کیسه | ۶۰ |
| دلویانو سندرې | ۶۳ |
| محلي پارچې | ۶۶ |
| ۱ـ تمثیلي پارچې | ۶۶ |
| ۲ـ هغه پارچې چې د کورس په ډول ویلې کیږي | ۶۸ |
| ۳ـ عادي پارچې | ۶۹ |
| داتڼ نارې | ۷۰ |
| داتڼ د نارو پیدا ېښت او منبع | ۷۰ |
| داتڼ د نارو وېش او ویونکی | ۷۱ |
| بابولالې | ۷۶ |
| د بابولالو پیدا ېښت او منبع | ۷۶ |
| په واده کې د بابولالو ویلو وختونه | ۷۷ |
| الف ـ دستنې راوړل | ۷۷ |
| ب ـ د پوښ ورځ | ۷۸ |
| ج ـ دمال د حلالولو وخت | ۷۹ |
| د ـ د سرخلاصولو وخت | ۷۹ |
| هـ ـ دجامو بدلول | ۸۱ |
| و ـ د نکریزو شپه | ۸۲ |
| ز ـ د سرچوړولو سهار | ۸۲ |
| ح ـ د ښځو ګډېدل | ۸۴ |
| ط ـ د ناوې کتل او د خپلو ښکنځل | ۸۵ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| ی ـ د وراینځی د راتګ وخت | ۸۸ |
| ک ـ د ناوې د را ایستلو وخت | ۹۰ |
| ل ـ د خسر کور ته د ناوې د راوړلو وخت | ۹۳ |
| د بابولالو خصوص ډولونه | ۹٤ |
| الف ـ د بابولالې په سندره کې ... | ۹٤ |
| ب ـ دوه، دوه تاره اخلي | ۹٤ |
| ج ـ خور شادي | ۹۵ |
| د ـ ښه روړا | ۹۵ |
| د بابو لالو څو نورې نمونې | ۹٦ |
| **لنډۍ** | **۹۸** |
| د لنډۍ تقطیع او جوړښت | ۱۰۰ |
| د لنډیو پیدایښت او سرچینه | ۱۰۳ |
| د لنډۍ نومونه | ۱۰٦ |
| ۱ـ لنډۍ | ۱۰٦ |
| ۲ـ مسرۍ او ټپه | ۱۰۷ |
| ۳ـ ټیکی | ۱۰۸ |
| د لنډیو ادبي او معنوي ویشنه | ۱۰۹ |
| د لنډیو اوزان او په هغه کې ... | ۱۱٤ |
| د لنډیو څو نمونې | ۱۱٦ |
| **فالوزه** | **۱۱۹** |
| **سروکی** | **۱۲۳** |
| د سروکیو ډولونه | ۱۲٤ |
| الف ـ داتن د سرڅو نمونې | ۱۲۵ |
| ب ـ د ماموسرو څو نمونې | ۱۲٦ |
| **منظوم متلونه** | **۱۲۷** |
| **د هوتکو ناري** | **۱۳۳** |

مخ


سرلیکک
۱۳٤ د هو تکودنارو پیدا یښت او سرچینه
۱۳٦ د هو تکو دوری ته یو لنډ نظر
۱۳۸ د هو تکودنارو جوړښت او تقطیع
۱۳۹ د هو تکودنارو نمونې
۱٦۰ کاکړۍ
۱٦۱ د کاکړیو جوړوونکی
۱٦۲ د کاکړیو جوړښت
۱٦٤ د کاکړیو تاریخی بڼه ...
۱٦۸ د کاکړیو ژبه
۱٦۹ د کاکړیو ښیگڼی او خصوصیات
۱۷۱ د کاکړیو ډولونه اوویش
۱۷۱ رزمی
۱۷۵ عشقی
۱۷٦ دینی
۱۷٦ دژوری معنی لرونکی
۱۷٦ کومیډی
۱۷۸ ساندې
۱۸۳ دوهمه برخه : خصوصی سندری
۱۸۴ داسندرې
۱۸٦ غړونه
۱۸٦ دغړو د پیدا کیدو تاریخ
۱۸۷ دغړو نوم
۱۸۷ دغړو خصوصیات او ډولونه
۱۸۸ دغړو نمونې
۱۸۸ دفتح خان او ربیا له کیسې څخه
۱۹۵ ددې کیسې دغړو بڼه شا او خوا کې

| | |
|---|---|
| سرلیکک | مخ |
| دفتح خان دکیسې دوقوع وخت | ۱۹۶ |
| دمؤمن خان اوشیرینو له کیسې څخه | ۱۹۷ |
| **دمروتو کسرونه** | **۱۹۹** |
| دمروتو دکسرونو جوړښت او پیدایښت | ۲۰۱ |
| دمروتو دکسرونو ژبه او خصوصیات | ۲۰۵ |
| دمروتو دکسرو نمونې | ۱۰۶ |
| دمروتو نیازیو وال کسر | ۲۰۶ |
| دګرلنګې میداد خپل کلام | ۲۱۰ |
| نیازیو کلام بیګوخان وال | ۲۱۵ |
| قالی زمنو وال کسر | ۲۱۷ |
| **مقامونه** | **۲۲۱** |
| **چار بیتې** | **۲۲۴** |
| دچار بیتو ډولونه | ۲۲۵ |
| الف-ساده چار بیتې | ۲۲۵ |
| ب- ځنځیری چار بیتې | ۲۳۸ |
| **بدلې** | **۲۴۳** |
| **بګتۍ** | **۲۵۵** |
| **لوبې** | **۲۵۹** |
| **کیسې** | **۲۶۲** |
| دکیسو منبع | ۲۶۳ |
| **داستانونه** | **۲۷۱** |
| **مشاعرې** | **۲۷۴** |
| **یادونه** | **۲۸۲** |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| فهرستونه | ۲۸۳ |
| ماخذونه | ۲۸۴ |
| د خلکو نومونه | ۲۸۷ |
| د ځایونو نومونه | ۲۹۵ |
| د ټبرونومونه | ۲۹۹ |
| د کتابو نومونه | ۳۰۳ |
| متفرق نومونه | ۳۰۵ |
| لغات او اصطلاحات | ۳۰۷ |


✿✿✿

# سمون لیک

ددرنو لوستونکو څخه هیله ده چې د کتاب د لوستلو نه مخکې ددې سمون لیک له مخې د کتاب ناسم ځایونه سم او بیا په لوستلو پیل وکړی

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ٦ | ۲۱ | گار | کار |
| ۱۱ | ٤ | سکندرخان | صدرخان |
| ۱۳ | ٦ | تحقیفاتی | تحقیقاتی |
| ۱۵ | ۱۵ | ژندوی | ژوندی |
| ۱۹،۱۸ | ۱٦،۲۳ | هغه | هغه |
| ۲۱ | ۲۳ | پېرغه | پېرغه |
| ۲۷ | ۱٤ | — | «او» تکرار دی |
| ۲۹ | ۲ | ترړو | ترور |
| ٤۱ | ۱٤ | برابر بدلای | برابر بدلای |
| ٤۲ | ۸ | آریایی ژبه | آریایی ژبې |
| ٤۲ | ۱۰ | خوندور | خوندورو |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ٥٢ | ١ (حاشيه) | په لهجی | په لهجه |
| ٦٢ | ١٧ | جوړوو ںکی | جوړوونکی |
| ٦٦ | ٩ | تمثیلی پارچې | ١ـ تمثیلی پارچې |
| ٦٧ | ٢١ | څوارم | څوارلم |
| ٧٦،٢٦٨ | ١٢،١٩ | — | «په» زیات دی |
| ٨١ | ٧ | پېغلی | پېغلی |
| ٨٤ | ٥ | انفرای دی | انفرادی |
| ٨٨ | ٢ (له پای نه) | نایه و | ناویه |
| ٨٩ | ٦ | واسی | داسی |
| ٩٥ | وروستی | وځ | ورځ |
| ١٠٣ | ١٩ | څلوومه | څلورمه |
| ١٠٤ | ٢ | روزنکی | روزونکی |
| ١١٤ | ٣ | دکړمه | دې کړمه |
| ١١٧ | ٢١ | جانامه | جانانه |
| ١٢٤ | ١٤ | نوی ر | نوري |
| ١٢٥ | ١ | آتڼ | اتڼ |
| ١٢٩ | ١٩ | ایلی بیله | ایله بیله |
| ١٢٩ | ٢٣ | سمپوله | سپموله |
| ١٣٠ | ١١ | رخه | برخه |
| ١٤٠ | ١٧ | وروسنه | وروسته |
| ١٤٠ | وروستی | یه لور | په لور |
| ١٤٢ | ١٨ | غوښتل | غوښتل یې |
| ١٤٧ | ٤ (له پای نه) | کوم | دکوم |
| ١٥٤ | ١٤ | ستو گو | سترگو |
| ١٦١ | ١٢ | سیله | وسیله |
| ١٦٣ | ٢ (له پای نه) | هلکلان | هلکان |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۷۸ | ۳ | ټپکی | ټیکی |
| ۱۸۰ | ۱۳ | خیري | خبري |
| ۱۸۲ | ۲ | ښځې | ښځې (٦) |
| ۱۸۵ | ۸ | عمومی سندري | خصوصی سندري |
| ۰۹۶ | ۱۹ | مسلمان | مسلمانان |
| ۲۰۳ | ۲۰ | یا | بیا |
| ۲۰۹ | ۲۰ | ځوا ناتو | ځوا نانو |
| ۲۰۹ | ۲۲ | چن | جن |
| ۲۱۸ | ٥ (له پای نه) | مهبنه | مهینه |
| ۲۳۱ | ۲۱ | سپن | سپین |
| ۲۳۲ | ۱۹ | ویلی | ویل |
| ۲۳۳ | ۲۲ | عمونه | غمونه |
| ۲۳٦ | ۱٤ | په دوهم | په دوهم |
| ۲۳۷ | ٦ | یارای | یارانی |
| ۲۳۸ | ۱۲ | څرنی | څېړني |
| ۲٤۳ | ٦ | د پښتو په څپنو | د پښتنو په څپنو |
| ۲٥۹ | ٤ | اولسی | هم اولسی |
| ۲٦۱ | ۱۱ | پهلون | پهلتون |
| ۲۸۲ | ۱٤ | عفیدی | عقیدي |
| ۲۸٤ | ٦ | ترچمه | ترجمه |

هـ دارا زپه څپنې ځایو کي: «چې، کي، فو لکلو ر» سهواً «چه، کښي او فو لکور» خپاره شوي دي.

# فولکلور

## ددې بحث مطالب

فولکلور څه ته وايي؟ ـ فولکلور له کومه شو؟ ـ دفولکلور اهميت ـ پوهان اوفولکلور ـ دفولکلور څېړنې مراکز ـ دفولکلور پېښتنا نو نظريات ـ دفولکلور تصنيف اوويش ـ فولکلور يک علوم ـ د خلکو ادبيات ـ دخلکو سندرې ـ داولسي سندرو ډولونه اوويش.

# څو خبرې

هسې خو په عمومي توګه د افغانستان فولکلور کما حقه چا نه دی څېړلی او بې له سرسري يادونو په دې لاره کې زيات کار نه دی شوی، البته مستشرقينو څه نه څه څېړنې او يادونې کړې خو مستشرقين زموږ په روحياتو کې دومره وارد نه دي چه افغاني فولکلور په خپله افغاني بڼه وڅېړلای شي.

همدا راز په لومړيو وختو يعنې له ۱۳۱۲ هـ ش کال را په دې خوا تر يوه وخته کابل مجلې ځينې فولکلوري آثار خپاره کړل، د کابل په کالنيو کې هم ځينې فولکلوري مواد چاپ شول، د آريانا مجلې هم په لومړيو وختو کې د فولکلور په باب څه ناڅه نشرات وکړل او په همدې وخت کې د کابل ادبي انجمن د فولکلور يو کوچنی لارښوونکی (رهنمای فولکلور) هم نشر کړ؛ خو متاسفانه دا لار تر پايه تعقيب نه شوه او افغاني فولکلور ته کوم په زړه پورې کار و نه شو.

د «پښتني فولکلور» په باب هم په لومړيو وختو کې ادبي انجمن (وروستنۍ پښتو ټولنې) څه نه څه کار وکړ او خصوصاً ښاغلي محمد ګل نوري د دې لارې پيشقدم و چې د پښتني فولکلور په باب يې مقالې او حتی ځانګړي آثار خپاره کړل خو بل څوک حاضر نه شول چې دې لوی سيند ته ور ګډ شي؛ همدا راز ځينې کسانو فولکلور د مزخرفاتو او چټياتو په نامه او تور مستقيماً له صحنې څخه ويوست.

د دې لپاره چه د پښتني فولکلور پټې او قيمتي خزانې د بې قدرۍ په څپو کښې محوه او له منځه ولاړې نه شي او خوندي وساتلې شي نو لازمي و بلل چه د ادبي انجمن د فولکلور د لارښوونکي او د خپلې اوږدې محيطي او اولسي مطالعې په رڼا کې پښتني فولکلور و څېړم، دا هم بايد زياته کړم چه پښتني فولکلور ډېر غني او د پښتو د عوامي او ملي فرهنګ څېړل يو داسې دروند او لوی بار دی چه د يوه، دوو او څو تنو په اوږو نه شي پورته کېدی او د دې قيمتي خزانو ايستل او خوندي کول ګډ کوښښونه، مشترک هاندونه او دسته جمعي هڅې غواړي او د زياتو څېړنو له پاره يې زيات وخت په کار دی نو که ما زيات وخت وموند البته دا لار به تعقيب کړم او که نه نو دا د ټولو پښتنو کار دی او هر څوک به تر خپله وسه برخه پکې اخلي.

# فولکلور څه ته وايي؟

فولکلور ته په بیلو-بیلوژبو کی د فرهنگ عامه، خلك پيژندنی، توده شناسی، دانش عوام، خلقيات او هم د اساطير او ميتولوژی نومونه ور کړل شوی دی چه هريو د خلك پيژندنی او د خلکو د فرهنگ معنی لری .

**مثلا :**

۱- فولکلور يوه انگليسی جمله ده چی د «فلك» او «لور» څخه جوړه شوی ده، «فلك» د خلکو او عوامو معنی ور کوی او «لور» د علم او پيژندني په معنی راغلی دی او په مجموعی توگه د نيکونو عقايد، دا جدادو رسوم، افسانی او ددوی د عقايدو او رسومو د څیړنی معنی تری اخيستله کيږی .

۲-ميتولوژی (که څه هم ميتولوژی د فولکلور مرادفه نه بلکه د فولکلور يو اهم جزء او څانگه ده خو څرنگه چه د فولکلور په تولو خواؤ کی ميتولوژی برخه لری نو ددی اهميت په غرض دلته معرفی کيږی ) له دوو «ميتوس» او «لوگوس» يونانی کلمو څخه مرکبه ده ، په ابتدا کی «ميت» او ميتولوژی د اساطيرو او افسانو په مفهوم نه استعماليده خو «هومه روس» هغه د حکايت او سرگذشت په معنی استعمال کړه عام له دی که رښتياوی او که دروغ، له ده وروسته «پندار»-د ميلاد نه پنځه پيړی پخوا - له هغه څخه دوهمی او خيالی افسانو يا سرگذشتو په مفهوم تعبير و کړ او د «لوگوس» يا واقعی سرگذشت په مقابل کی يی استعمال کړ ه چه تر ننه پوری په همدی مفهوم استعماليږی او د حيثيم فرهنگ د اساطير و د تاريخ، دار باب انواعو د تاريخ، د اساطير و د علم، افسانو او داستان په معنی ضبطه کړي ده .

۳ـ اساطیر ✲ (دا هم د فولکلور یوه څانګه ده) معرب کلمه او د اسطوره جمع ده، عربي قولو قواميسو او فرهنګو دا کلمه ضبط کړې، دغیاث‌اللغات، المنجد، مهذب الاسماء، فرهنګ انندراج، منتهی الارب او نورو قاموسونو مولفانو ددې کلمې څېړنه کړې او ټولو داسې تعریف او تشریح کړې ده: افسانه، بې معنی خبر، چټیات او باطلې خبرې، همدارنګه په قرآن شریف کې هم اساطیر د وهمي او خیالي کیسو په معنی استعمال شوې دی او څو ځایه یې ذکر راغلی دی مثلاً په:
٦ سورة ۲۵ آیت، ۸ س ۳۱ آ، ۱٦ س، ۲٦ آ، ۲۳ س ۸۵ آ، ۲۵ س ٥ آ، ۲۷ س ٦۸ آ، ٤٦ س ۱٦ آ، ٦۸ س ۱٥ آ، ۸۳ س ۱۳ آ کې.

سربیره پردې شرقي شاعرانو هم اساطیر د وهمي او خیالي کیسو په معنی تعبیر کړې مثلاً مولوي بلخي وایي:

که اساطیر است و افسانه نژند     نیست تعمیقی و تحقیقی بلند

ځېنې پوهان او پلټونکي عقیده لري چې د اسطوره کلمه د یونانی «هیس توریا» څخه جوړه شوې چې د تاریخ او سرګذشت په معنی ده؛ «نولدکه» دا لغت آرامي بولي؛ ځېنې نور پوهان هم دا کلمه یوناني ګڼي او عقیده لري چې د سریاني له لارې عربي ته ننوتلې ده او ځېنې نور بیا پردې عقیده دي چې دا کلمه کورټ سریاني ده.

٤ـ «خلقیات»: ترکانو چه سایکالوژي ته «روحیات» او سوسیالوژي ته اجتماعیات نوم ورکړی، نو فولکلور یې هم د خلقیات په نامه مسمی کړی.

---

✲ څرنګه چې د فولکلور هرې څانګې ته ددې له پاره چې ښه منله شوې وي یو لړ اساطیر، افسانې او روایات هم جوړ شوې چه اکثره یې په دیوانو، پیریانو، غیبي کسانو او مذهبي اعتقاداتو متکي دي چې په دې سبب د فولکلور زیاته برخه اساطیر تشکیلوي نو ځکه بې ځایه نه ده چه کله کله فولکلور په اساطیرو او میتولوژي کې ورګډ او په مساویانه توګه استعمال شي.

۵- همدا راز «توده شناسي»، «دانش عوام»، «فرهنگك عامه» او «خلك پېژندنه» د فولكلور مصطلح نومونه دي

٦- په انګليسي کې «فکشن» هم د افسانې، کيسې، ساختګي داستان او هم او خيال په معنى استعمالشوي دي.

٧- فرانسويان اساطيرو، امثالو او روايا تو ته «فابل» وايي.

له پورتنيو تعريفونو او خبرو نه ثابته شوه چې فولکلور د خلکو له کړو وړو، عاداتو، رسومو، عقايدو، طرز تفکر او حتى صنايعو او کسب او کار څخه عبارت دي، ميتولوژي، اساطير او روايات قول له عاميانه افکارو څخه منبع ته راغلي چه ددوى دعقايدو، غوښتنو او تمابير ومشل ري؛ په دې افکارو، روايا تو او افسانو کې په غالب ګومان خارجي او غير مشخص عوامل او طبيعي عناصر او قواوې ستره برخه لري چې دشخصي عناصرو او افرادو په قالب کې مسخ شوي او دمحيتو پيښو او چارو مصدر ګرځي او هغه څه په دې اساطيرو او فولکلور کې دزيا تې توجه اوزور غور وړ دي هغه د فولکلور سمبو ليکي جنبې او دقهرمانانو رمز کاري او کارونه دي. له دې اساطيرو او افسانو څخه دمړو او وروسته پاتې قومونو د فرهنګك او تمدن په برخه کې زياته استفاده کيداى شي او دقومونو او ملتونو ترمنځ درو ابطو مناسبا تو، مشا بهتو نو او مخالفتونو دڅرنګوالي په څرګندولو کې د فولکلور برخه يو ښکاره او روښانه حقيقت دي.

## فولکلور له کومه شو؟

هغه وخت چې بشر د لومړي محل لپاره دطبيعت له مظاهرو سره مخامخ شونو ددې موجوداتو او اشياؤ په مقابل کې چوپ او غلى پاتې نه شو او دخپل طرز تفکر سره سم يې څېړنه پکښې وکړه، ده له هغې وړځې چې دوجود په ډګر کې قدم ايښې دى تل يې زيار ايستلى چې داشياؤ او موجوداتو حقايق او رښتې محان ته معلومې کړي، نو ځکه له هرڅه سره چې مخامخ شوي فکر او غور يې پکې کړى دى څو يې بوه نتيجه لاس ته وروړي او دخپلې کنجکاوۍ او پلټنې د حس د

تسکین له پاره یې د هر مجهول د معلومولو په غرض منډې رامنډې کړې دي او د خپل محدود فکر له غوښتنې سره سم یې تر یوه حده د خپل ځان قناعت حاصل کړی او څرنګه چه ده په هغه وخت کې د خپل ژوندانه ابتدایي او لومړني مراحل طی کول او فکري وده یې تر دې حده نه وه رسیدلې چه د پیدایښت ټول اسرار او معماوې حل کړي او نه یې دومره تجربه درلوده چه د خپلو تجربو حاصل د خپلې لارې ډیوه وګرځوي او د هغې په رڼا کې خپلو تحقیقاتو ته ادامه ورکړي نو مجبور و چې په یو ډول خیالبافیو او موهوماتو لاس پورې کړي او د هر څه له پاره یې عندي علت او دلیل وټاکه چه همدا دلیلونه او علتونه په ورو ورو د روایاتو، داستانونو، عقایدو او افکارو په شکل او بڼه تل او فولکلور یې تشکیل کړ.

د نمونې په توګه هغه وخت چې بشر لمر ولید چې سهار له اوبو څخه راخیږي او بیګا بیرته په اوبو کې پناه کیږي نو په دې فکر کې شو چې لمر حتماً هر سهار د اوبو له یوې چینې څخه راوزي او بیګا بیرته په بله چینه کې پریوزي، د شپې تر مځکه لاندې دوره وهي او سهار بیرته له لومړۍ چینې څخه راخیږي او څرنګه چه له لاندې څخه د یو شي راخیژول یو زور او قوت غواړي او څوک چې له ځانه څه راباسي رسی ورغځوي، یکي رابندوي او راکشکوي یې نو دوی هم دا روایت جوړ کړ چې په لمر کې پرښتو زنځیر ونه اچولي راکشوي یې او له چینې څخه یې راباسي چې دا ملکي د همدې کار له پاره مؤظفې دي او هر سهار دا وظیفه اجرا کوي؛ همدا راز زیاتوي چې د لمر د چینې اوبه هم د لمر غوندې سپینې دي او څوک چې یکي ولامبي مخ یې لکه لمر غوندې ښایسته کیږي او د دې له پاره چې دې خبرې یې صدق پیدا کړی او په خلکو یې منلې وي نو یو جعلي روایت یې ورته جوړ کړی او وایي: یو تور حبش د یوه پاچا په لور مین شو نو پاچا د دې له پاره چې د ده رنګ تور ؤ لور نه

ورکوله خو ده چې زیات ټینګار وکړ نو پاچا دوزیرانو په مشوره دا شرط پرې کېښود چې ما ته که د لمر د چینې احوال راوړې نو بیا لور درکوم ، هماغه وو چې دی هم روان شو له څه مزل وروسته یو سپین ږیری سړی مخې ته ورته راغی او پوښتنه یې ترې وکړه، ده چې حال ورته ووی نو سپین ږیري سړی ورته وویل چې سترګی پټې کړه! ده سترګی پټې کړې او کوم وخت یې چې سترګی لوڅې کړې د لمر د چینې په خوا کې ولاړ ؤ، څرنګه چې د سفر ګردونه پرې پراته وو نو ژر یې د لمر چینې ته ځان ور واچاوه خو کوم وخت چې له چینې څخه راووت ټول وجود یې د لمر غوندې سپین شوی ؤ او شغلې ترې ختلې ، هماغه ؤ چې بېرته سپین ږیری سړی راپیدا شو ، ده سترګی پټې کړې او کوم وخت یې چې سترګی وغړولی نو بېرته په هماغه ځای کې ؤ له کوم ځایه چې سپین ږیري سړي استولی ؤ ؛ چې بېرته ښار ته راغی ، چا نه پېژانده ، پاچا ته ورغی ځان یې ور وښود او ورته ویې ویل چې ما شرط پوره کړ او د لمر د چینې اسرار مې کشف کړل نو پاچا ډېر خوښ شو او په ډېر ورین تندی یې خپله لور دده په نامه کړه او دخپل تاج او تخت وارث یې وټاکه.

همدا لومړنی فکر ؤ چې وروسته یې د لمر په باب د زیاتو تحقیقاتو زمینه مساعده کړه او محققینو د لمر په هکله څېړنې وکړې او نوې نوې نظریات یې منځ ته راوړل نو په دې سبب فولکلوري کیسې، داستانونه او روایات باید ونه ګڼل شي که څه هم د زمانې په کږلیچونو کې اوښتي راواوښتي، خپل ابتدایي شکل یې له لاسه ورکړی خو بیا هم یو لړ تاریخي وقایع او د ملتونو د پېژندګلوۍ ډېر رازونه پکې پټ دي. میتولوژي ، داستانو او افسانو ته باید سوچ وهم او خیال لونه وایو ځکه چې اوس ـ اوس میتولوژي خپل قدر ښودلی او یو لړ زیات تاریخي او د بشر پېژندنې پرابلمونه یې حل کړي دي .

پخوانيو په بوټو تجربې کړې او طبي استفادې يې ترې کړې؛ په ستورو کې يې فکر کړی؛ د حيواناتو په روزنه، ساتنه او د هغه په جوړښت کې غږېدلي؛ د نباتاتو په جوړښت او نسل ګيرنه کې يې تجربې کړې؛ د خپلو منازعاتو او د ژوند د تامين په غرض يې اولسي پرېکړې منځ ته راوړې او «تيږې» يې اېښې؛ له تيږو، لرګيو او نورو شيانو څخه يې د خپل ژوند لوازم او د اړتيا وړ شيان جوړ کړي؛ د هر څه په باب يې عقيده ښکاره کړې؛ د خپل ژوند د چال چلند د پاره يې اقتصادي لارې چارې طرح کړې؛ شعرونه، سندرې، آوازونه، کيسې او متلونه يې ويلي؛ د موسيقي آلات: دريا، رباب او نور يې غږولي؛ سپورتونه او لوبې يې کړې، مطلب هر څه او هرې خوا ته يې لاس اچولی چې له دې ټولو څخه د علومو مبادي جوړې شوې او د طب، نجوم، بيولوژي، ژيولوژي، قوانين، صنايع، عقايد، اقتصاد، ادبيات، موسيقي، سپورتونه او نور علوم په لومړني شکل منځ ته راغلي او ورو ـ ورو يې پرمختګ کړی، څو چې په عصري او اساسي علومو اوښتي دي.

د نړۍ د ټولو ملتو او خلکو فولکلور که څه هم د بېلو ـ بېلو خصايصو او مزاياؤ له کبله سره بېل دي خو بيا هم په عمومي توګه ډېر شباهتونه سره لري او داتري ښکاري چې فولکلور هم له يوه ځايه بل ځای او له بل ځای څخه بل ځای ته تللی او د خلکو د روابطو سره ـ سره فولکوري روابط هم د بشر ترمنځ موجود وو چې هر ملت د خپلو روحياتو سره سم منلي او اړولي دي.

**د فولکلور اهميت:**

څرنګه چې په پخوا وختو کې ـ د نن په خلاف ـ د پېښو، وقايعو او کړو ـ وړو د خوندي کولو او ليکلو له پاره کومه وسيله موجوده نه وه او د خلکو د ادب، افسانو، قوانينو، عقايدو، تجربو او د ژوند د نورو پېښو د ساتلو په غرض کوم تجويز نه و شوی، نو له همدې کبله د فولکلور ټول مواد له يوه نسل نه بل نسل ته سينه په سينه

او خوله په خو له دا نقل کیدل چې دزمانې داو ښتو او داو ښتو سره یې ښځه هم بد له شوه او دزمانې دغوښتنو سره سم یې شکل هم واوښت خو بیا هم دا فولکلوري مواریث دزیات اهمیت وړ دي او دغیر متمدنو او وروسته پاتې قومونو دژوندانه اسرارو دمعلوموالو او دتاریخ په اوږدو کې ددوی ددریخ دتعیینولو له پاره لازمه ده چې ددوی په فولکلور کې ژوره څیړنه وشي او هم دلرغون پیژندنې دعلم په وسیله دمحکې زړه څیرې او ددوی دمصنوعاتو، عمارا تو، معابدو او نورو څیزونو په شا او خوا کې غور وشي او دهغوی دهیرو شوو متمدنو قومونو له ډېر لیکونو سره شفاهي روایات تطبیق او ددوی دژوند تصویر وایستل شي.

کوم وخت چې دفولکلور او پخوانیو اساطیرو بیلې - بیلې لارې چارې او ډولونه تر ژوري کتنې لاندې ونیسو نو په ښکاره ډول به وو ینو چې دا اساطیر او روایات دلومړنیو توکمو یوه قدیمه هنداره ده او ددوی فلسفي نظریات، طرز تفکر او نور خصوصیات پکې په واضحه توګه لیدلای شو . څرنګه چې دفولکلور زیاته برخه افسانې او روایات تشکیلوي نو محکه دتاریخ په اوږدو کې دبشر بیلو - بیلو ډلو، ټپو او توکمو دخپل ژوند او وخت له شرایطو سره سم دافسانو او روایاتو په جوړولو لاس پورې کړی او همدا ددوی امثال، روایات او افسانې دي چې اوس ددوی طرز تفکر عقاید او نور خصوصیات موږ ته راښکاره کوي .

دبشر دتمدن دچټک پر مختګ او خصوصاً دعمومي فرهنګ دداېرې دپراخیدو او داجباري لومړنیو زده کړو او دعوامو د باسواد کېدلو له کبله ددې زیاته ویره موجوده وه چې فولکلوري ذخایر محوه او له منځه ولاړ شي او ځای یې تاریخي روایات یا علمي محفوظات ونیسي نو له دې کبله لومړی په اروپا کې یو شمیر علماؤ، پوهانو او دفولکلور علاقمندانو ددې ملي ذخایرو په

راغونډولو لاس پورې کړ چې نه یوازې د خپلو سیمو د فولکلور راټولولو بلکه د ختیځو هیوادو د فولکلور راټولولو ته یې هم ملا وتړله او هم د ختیځو هیوادو پوهانو په دې کار لاس پورې کړ خو څرنګه چې په مخه کې یې زیات خنډونه او موانع موجود وو نو ځکه یې یا بیرته لاس تری واخیست او یا یې شمیر ډیر محدود وو.

کومه ټولنه چې مخ ته تللې ده هغې ټولنې فولکلور له منځه تللی او خپل ځای یې تمدن ته پرې ایښی دی خو په کومه ټولنه کې چې مدنیت اغیزه نه ده کړې او دژوند سویه یې وروسته پاتې ده هغه ته فولکلور په خپل شکل پاتې دی. پښتني ټولنه هم چې خپل روښانه کلتور او فولکلور لري دژوند په ټولو چارو کې یې فولکلوري مظاهر لیدل کیږي چې مدني وسایل تراوسه پورې متاسفانه نه دي ورته برابر شوي او خلک یې اته نوي په سلو کې بیسواده دي نو ځکه ددوی فولکلور ډیر غني دی او دا زموږ وظیفه ده چې د خپل فولکلور د راغونډولو له پاره لیچې وغړوو او په زیاته حوصله او پوره امانتدارۍ سره خپل فولکلوري آثار راغونډ کړو.

د افغاني فولکلور د راغونډولو په لار کې البیروني د پنځمې پیړۍ افغاني محقق لویه برخه لري او په دې لار کې یې ډیر کار کړی دی چې زیات آثار یې د دارو بوټو، معدني موادو او روایاتو په باب لیکلي او له «حدیث صنمی البامیان»، «آثار الباقیه عن القرون الخالیه»، «صیدله»، «الجماهر»، «تحدید نهایات الاماکن» او نورو کتابو څخه یې د فولکور په څیړنه کې استفاده کیدای شي.

همدارنګه د پښتني فولکلور په خوندي کولو کې د پښتو په اولسي شاعرانو سربیره نورو شاعرانو هم برخه اخیستې او ملي نکلونه او فولکلوري مواد یې راغونډ کړي دي خو متاسفانه چې په خپل اصلي شکل نه دي پاتې

او د ادب او شعر په چوکاټ کې یې د ځائیدلو په غرض د فولکلور لاس او پښې ورمات کړې او په دې چوکاټ کې یې ورننه ایستلی دی. د پښتو اکثرو شاعرانو لکه:

خوشال خان، حمید بابا، قادر خان، سکندر خان او نورو د پښتو فولکلوري مواد دا اقول کړي او د پښتو ملي کیسې یې نظم کړې دي چې دا وروسته شاعرانو هم دا لار تعقیب کړې او تعقیبوي یې خو بیاهم د اصیل او حقیقي فولکلور له پاره ډېر کم کار شوی دی.

## پوهان او فولکلور:

د شوروي اتحاد پیاوړي رپالیست لیکوال ماکسیم ګورکي په خپله هغه وینا کې چې په ۱۹۳٤ع کال کې یې د شوروي لیکوالو په لومړنۍ کانګرس کې د ادبیاتو په شاوخوا کې وکړه، فولکلور ته ډېر اهمیت ورکړ او ویې ویل: «زه بیا ستاسو پام دغه ټکي ته را ګرځوم چې فولکلور د خلکو د ژبې محصول دی او دوی له دغې لارې ډېر پیاوړي قهرمانان چې په هنري لحاظ ډېر کامل نیمګړي نه بلل کیږي، خلق کړي دي.» ده زیاته کړه چې: «خلکو په خپلو فولکلوري آثارو کې هغه هنري څېرې ښودلې دي چې په خلق کېدو کې یې له عقل، ابتکار، فکر او احساس څخه کار اخیستل شوی دی.» ګورکي دا هم وویل: «موږ هغه وخت د مبارزو انسانانو په تاریخ پوره پوهیدلی شو چې د فولکلور په باره کې یې جامع معلومات ولرو.»

دانګلیس معاصر تاریخ پوهاند «تاینبي» ـ چې د تاریخ په فلسفه کې د عمیقو او نویو نظریاتو خاوند دی ـ د بشري تمدنونو د تکامل او یا تنزل په باره کې نه نژادي او نه محیطي عوامل موثر بولي بلکه د تمدن د عروج او نزول عوامل له بشري روح سره مرتبط ګڼي او په دې ترتیب

میتولوژی او فولکلور ته په تاریخی څېړنو کی زیات اهمیت ور کوی. دی عقیده لری چی د نژادی او جغرافیایی عواملو له مخې د تمدن په مطالعه کی څکه اشتباه کوو چی د دغی مسألی حل کول د انسان په روحیاتو اړه لری او موږ بی ځایه مادی علوم لکه بیولوجی، زولوجی او جیولوجی په دی لاره کی استخدامو. دی وایی چی د دغو مشکلاتو د حل کلی د میتولوژی فن دی څکه چه میتولوژی د انسان د روحی تجلیاتو محصول ده او له ډیر پخوا وختو څخه تر اوسه پوری د انسان عقل او حکمت په افسانو کی نغښتی او په دی وسیله ساتل شوی دی.

د یوه بل عالم د تعریف له مخې فولکلور د خلکو د ژوندانه په باب د هغو معلوماتو او ذوقیاتو پېژندنی ته وایی کوم چی عوامو او بیسوادو خلکو ایجاد کړی وی او د دوی په سندرو، کیسو، متلونو، عقایدو او داسی نورو روایاتو او عنعناتو کی ځان ښکاره کوی.

یو بل یوه وایی چی: د پخوانیو خلکو ادبی او ذوقی خصوصیات د دوی د علومو، صنایعو او ادبیاتو مبادی روښانه کوی او د قومونو او ملتونو ترمنځ د روابطو، مناسباتو مشابهتونو او مخالفتونو څرګندوالی څرګندوی.

د سوسیولوژی د څېړونکو یوه ډله په عقیده د بدوی قبیلو د فکر طرز په هیڅ وجه زموږ د فکر طرز ته نه ورته کیږی او یوازی د دوی اعتقادات او جهان بینی له موږ څخه توپیر نه لری بلکه د دوی د استدلال څرګندوالی او منطق هم په بل ډول دی نو څکه د فولکلور عمده او ستر کار دادی چی هغه د بدوی طرز تفکر بقایا په متمدنو نفوسو کی څرګندوی.

همدا راز یو شمیر نور پوهان لکه: ماکس مولر، فرازر، روژه باستید، تیلور، آندرو لنګ، لالاند، ګریمال، ولی ګوسکی او نور په فولکلور کی غږیدلی او بیل-بیل تعریفونه یې ورته وضع کړی دی چی دلته د ټولو راوړل او ذکر دیری اوږدیږی یوازی د نومونو په اخیستلو اکتفا وکړه.

## دفولکلور څیړنې مراکز:

په اساطیري او تاریخي دوا ړه دوروکې دانسان د پلټنې او څیړنې حس ما پلوۍ چې د څیزو نو په اصل څېر او دخپل چاپیر دمو جوداتو اصل، سټه او ماهیت ور ته ښکاره شي، نو له دی کبله د بېلو – بیلو ملتو نو دفولکلور د پلټنې او ساتنې کار یو لوی ثقافتي کار ګڼل کیږي او د همدې اهمیت له مخې او س د نړۍ په ډیرو هیوادو کې تحقیقاتي ټولنې او موسسې موجودې دي چې پرله پسې په دې لاره کې کار کوي. له دې ډلی څخه یوه هم د لندن د فولکلور یکو تحقیقاتو ټولنه ده چې یوه مجله د "The Folklore Journal" په نامه او یوه سلسله نور فولکلوریک آثار خپروي او هم په امریکا کې د "The Journal of American Folklore" په نامه یوه مجله او نور نشرات موجود دي چې د خلکو د ادب او فولکلور په باب خپروني کوي. همدا راز په آلمان، شوروي اتحاد، آسترلیا، سویزرلند، جاپان، یونان، آیرلند، مکسیکو او نورو هیوادو کې د فولکلوري څیړنو مراکز موجود دي او همدا رنګه د نړۍ موزې او آرشیفونه د فولکلوري او محلي هنرونو نمونو په خوندي کولو بوخت دي او ورځ په ورځ د دې آثارو د ساتنې په باب اهتمامات او علاقه زیاتیږي.

## دفولکلور پستانو نظریات:

دفولکلور، څیړنې او مطالعې د بیلو – بیلو ذوقو نو تمایلات را پارولي او خاننه راجلب کړی لکه څرنګه چې د «سر ادوارد تایلر» (۱۸۳۲-۱۹۱۷م) او (سر جیمز جورج فریزر) (۱۸۵٤-۱۹٤۱م) انګلیسي انترو پولوجیستانو او «جان اوبری» ۱٦۸۷م او «توماس» (۱۸٤٦م) انګلیسي ارغون پیژندونکو پرله پسې څیړنو او تحقیقاتو داحقیقت ښکاره کړې دی.

د «کپلینګ» له نظره فولکلور د لاندنیو موضوعا تو او اهدا فو لرونکی دی:

۱- د ژمکې او اسمان پیدا ښت او بیلتون.

۲- د طبیعت د تاریخ خصوصیات.

۳- د انسانی تمدن مبدأ.

٤- د مذهبي او اجتماعي عاداتو او دودونو منشأ.

«ویلیم، آر، بیسکم» په خپل د «فولکلور هلور ګونی وظیفې» نومې کتاب کې په دې عقیده دی چې باید د فولکلور په باب څیړنې په لاندې ډول صورت ونیسي:

۱- د فولکلور او خلکو د ادب بیل- بیل ډولونه څه وخت او چیرې ویلشوي؟

۲- دا مواد چا منځ ته راوړي؟

۳- د ډراماتیکو اکټونو منځ ته راوستل، لکه د اساطیرو د رامې بیل بیل حرکات، د څیرې تغییر، پېښې (تقلید)، روحي عکس العملونه او نور.

٤- د میتولوژي او اساطیرو د قهرمانانو د ویونکو او لوبونکو په تشویق، منښه او انتقاد کې د اوریدونکو برخه.

٥- له فولکلوري اصطلاحاتو سره د خلکو اشنا کول.

٦- د دې اصطلاحاتو په باب د خلکو د تفکر طرز.

او ده په عقیده دا ډول څیړنه فولکلور له هیریدلو او محوه کیدلو څخه ژغوري.

نن د ژوند د بیلو - بیلو ثقافتي او مدني برخو د تحقیقاتي چارو په برمختګ سره د فولکلور څیړنه هم نوې مرحلې ته رسیدلې او د نوي روش په رڼا کې ښکاري چې پخواني فولکلور څیړونکي د واقعي څیړنې له لارې څخه تر یوه حده لیرې پاتې دي.

## د فولکلور تصنیف بندي او ویش:

د فولکلور د تصنیف بندۍ او ویش موضوع پیچلې او سخته مسئله ده، پلټونکي په دې هکله بیل- بیل روشونه او لارې لري چې موږ دلته د «سرجورج لارنس ګومې» (۱۸۵۳ – ۱۹۱٦م) طبقه بندي چې ده په "Handbook of Folklore" نومې کتاب کې راغلې ده، یادوو:

۱- عنعنوي کیسې: عامیانه حکایات، د قهرمانی داستانونه، ترانې، سرودونه او نور.

۲ـ عنعنې دودونه: اولسي دستورونه او عادات، مراسم او لوبې.

۳ـ عقیدې او خرافات: جادوګري، نجوم، خرافي او موهومې تمرینونه.

۴ـ عامیانه وینا وې او خطابې: د خلکو مروجې وینا وې، متلونه، هجایي اشعار او کیسې.

«سرجیمز جورج فریزر» په خپل «طلایي څانګې» (The golden bough) نومي کتاب او نورو آثارو کې د خلکو د ادب ادبي ابداعات را ټول کړي او دې طبقه بندي داسې تحلیل او تفسیر شوي چې را وروسته اسلوبي په هر کلي کړي دي، دې پوهاند په دې دوولس ټوکي کتاب کې ډېر فولکلوري موضوعات راوړي او تشریح کړي دي.

## فولکلوریک علوم:

د ادبي انجمن د «رهنمای فولکلور» ـ چې اغلبا د ۱۳۱۶ کال په شاوخوا کې د افغانستان د ادبي انجمن (اوسنۍ پښتو ټولنې) له خوا په کوچنی قطع په ۲۴ مخونو کې په عمومي مطبعه کې خپور شوی ـ په نظر په ټولو علومو له فولکلور څخه منشأ نیولې او د نړۍ ټول ژوندي او مړه علوم له فولکلور څخه زېږېدلي چې څه وده کړي لوی شوي او څوک مړه شوي او له منځه تللي دي.

هرڅنګه چې په «رهنمای فولکلور» کې له یوې خوا د فولکلور ټولو نقشه او اساسي خبرې موجودې دي او له بلې خوا هرڅنګه چې دغه د رسالې نسخو اوس د قلمي نسخو حیثیت موندلی او نه پیدا کېږي نو ځکه لومړی نو مونږ د لار ښوونکي دغه کتابچې په پښتو ترجمه کوم او وروسته به بیا په دې لار ښوونکي یوه تحلیلي کتنه او د فولکلور د ونې وېش چې د فولکلور پوهانو له خوا شوي تصنیف بندي او وړاندې کړم.

د رسالې لومړی یوه لنډه سریزه د فولکلور د اهمیت په باب لري او لیکي:

«د نولسمې پېړۍ د لومړۍ نیمايي له اواخرو څخه د نړۍ د اجتماعي او ادبي علومو په برخه کې یو لوی نهضت چې د وطن له مینې او حرارت څخه

دی، ایډیل کیږي چې په هیڅ ترتیب د تیرو علمي او ادبي نهضتو سره ورته والی او شباهت نه لري دا نهضت هماغه د فولکلور را ټولول او راغونډول دي څرنګه چې د خلکو ادب او فرهنګ د یوه ملت د ژوند ټول مادي او معنوي ځانګوته شامل دي نو له دې کبله په دې وخت کې چې د ملیت - ناسیونالیزم - داستانونه د نننی ژوند له اساسي لوازمو څخه ګڼل کیږي او د دوی سرنوشت په همدې ټکي کې بیا دی نو ځکه دومره اهمیت ورکوي چې نورو علومو ته په دې اهمیت قایل نه دی.

څرنګه چې هر ملت او سنی غواړي خپل روحي ملي خصایص له هر چا نه لوړ وښیي نو ځکه مجبور دی د خپلو پوهو او خبیرو ځوانانو په مرسته د خپل هیواد له ټولو کلیو، قریو او سیمو څخه ټول مادي او معنوي اوصاف تجربې او عامیانه اطلاعات چې د خلکو په حافظو کې ځای لري او یا په محیط او چاپیریال کې د دود او رسم په شان موجود وي، راټول کړي او په دې ذریعه له یوې خوا خپل ملي مخصوص مزیات نړۍ ته اعلان کړي او له بلې پلوه له را ټولو شویو موادو نه په ادبیاتو، علم الاجتماع، علم النفس صنایعو او په سلهاؤ نورو علومو کې کار واخلي. له همدې کبله د پښتو ټولنې په نوي تشکیل کې هم د دې موضوعاتو د تدوین له پاره یوه ځانګړې څانګه جوړه شوه او موږ په دې کار وګومارل شوو نو موږ هم له یو لړ مطالعو نه وروسته د لاندې موادو تدوین کړل او را ټول یې د هیواد د زامنو په غاړه ږدو څو د هغې مینې او علاقې له کبله چه له ملي مفاخرو سره یې لري له موږ سره په دې لاره کې مرسته وکړي او دا مقدس ملي او وطني کار سرته ورسوي.»

تر دې وروسته یې د فولکلور اصلي موضوعات په لاندې توګه معرفي او چوکاټ بندي کړي دي:

**د مځکې طبقې:**

۱ - د مځکې د تشکلاتو ډولونه لکه غرونه، راغونه، درې،

دمځکی ډولونه لکه هوارډالی ، لوړوالی او نور .

۲ ـ دخاورې داجناسو ډولونه : کانونه ، دمځکې طبقات او دهغې شکل او رنگونه لکه توری ، ژړی او سپینی خاورې او دتیږو ډولونه .

۳ ـ دخلکو عقیده په دې هکله چې څنګه د مځکې ځینې برخې په ځینو وختونو کې لوېږي او ځرنګه او ولې ځورځو ونکی غرونه او رغوره ځوی او څنګه ځینې سیندونه تنګ لارې بدلوي او ناپوه پیدا کوي .

٤ ـ د خلکو عقیده داوبو دډولونو ، په یوه ځای کې داوبو ټولیدو اودیوه لوی سیند ، سمندر ( بحر ) او ولاړو اوبو په هکله .

٥ ـ دخلکو عقیده دوچو دښتو او ریګزارونو په باب .

٦ ـ دخلکو عقیده داوبو دچینو او زاړو (جبه زار) په هکله .

۷ ـ دخلکو عقیده د اوبو د تنګ د علت په باب او داچې کومې ـ کومې زیاتی او به له کوم ـ کوم ځای نه راغلې او چیرته ځی؟

۸ ـ دلارو ډولونه : لکه دخلکو دتنګ لاره ، کوچنی لارې چې هغه ته د مېږیانو دتنګ لارې وایې او نور .

۹ ـ د هغو نو مو نودپیدا کیدو علت چې په غرو نو ، و یا لو ، غونډیو او نورو د اېښودل شوي دي .

## داسمان ، هوا ، سیمو او موسمو نو ، نمونه :

۱ ـ سماوی موجودات لکه : لمر ، سپوږمۍ ، هر راز ستوري لکه تلې ، د بوډۍ کټۍ ، پریوونی ، کوږغل ، کهکشان او نور .

۲ ـ په دې پورې مربوط حالونه او هغه حوادث چې له دې موږو موجوداتو څخه منځ ته راځي لکه : دلمر او سپوږمۍ نیول کیدل (تندرنیول) دستورو رالویدل او دلکي لرونکو ستورو پیدا کیدل او هغه تیږې چې له اسمانه رالوېږي .

۳ ـ دلمر او سپوږمۍ له نور نه راپیدا شوي اغیزې لکه حرارت او رنګ .

٤ ـ دهوا دتضییق کموالی او ډیروالی او هغه احوالونه او

پیښې چې له دې لارې په هوا کښې منځ ته راځي لکه غبار ، باران سیلۍ ، تندا ، برېښنا ، د بوډۍ ټال او نور .

۵ – بادونه او د بادونو استقامت .

۶ – د هوا لندوالی او وچوالی .

۷ – د ورېځو شکلونه لکه تورې ورېځې ، سپینې ورېځې ، هغه ورېځ چې د باران له پاره مخصوصه بلله کېږي او هغه ورېځې چې د پنبې بڼه لري .

۸ – د اورښت ډولونه لکه : باران ، داوره او نور هغه نومونه چې په راز راز ورښتو ایښودل شوي لکه ژغ ژغۍ ، تېز باران چې د غوايه سترګه او د حمل باران چې هفته یې وا اورښت یې بولي .

۹ – څلور خواوې یا شپږ جهته لکه : ختیځ ، لویدیځ ، ښکته پورته ، شمال او جنوب .

۱۰ – د وخت ویش لکه : سهار ، برېښر ، غرمه ، برمل (ماپښین) لرمل (مازیګر) ، ترمل (ماښام) ، ماخوستن ، پېشمې ، ورځ ، شپه ، اوونۍ (هفته) ، میاشت ، کال پېړۍ ...

## نباتات او څاروي :

هر راز نباتات لکه هغه چې د خوراك وړ دي یا نه ، هغه چې په ګلونو پای او هغه چې هر کال کرل کېږي ، هر ډول فروعات یې لکه پاڼې ، ګلونه دانې او نور ، د دې نباتاتو د شکلونو ډولونه او هغه پیښې چې د دې نباتاتو په وده کې پېښېږي او د اکولای شو د اسې ترتیب کړو :

۱ – بېکاره او په خپل سرزرغونې کېدونکې ګیاوې .

۲ – هغه نباتات چې روزنې ته اړ دي .

۳ – هغه ونې او ګلونه چې په باغچو او ګلدانیو کې روزل کېږي .

۴ – د حبوباتو ډولونه مخصوصاً د غنمو هغه ډولونه چې د هېواد په هره برخه کې کرل کېږي لکه سپین غنم ، او نور .

۵ – د غوزونو ډولونه چې دودانیو له پاره په کار یږي لکه :

شنار ، ار چه او ..

٦ ـ هغه نباتات چې په او بدلو کې په کار یږي لکه سنځي، پنبه او...

٧ ـ هغه نباتات چې نقد سی او تېرکی جنبه لری لکه بلوت او...

٨ ـ هغه نباتات چې لوښي تري جوړ وی لکه میز ری او...

٩ ـ هغه نباتات چې دخلکو له خواد علاج او دوایی په غرض استعمالیږی لکه خاکشیر ، چینجې ، کاسنی او نور .

١٠ ـ تر کومو هوا ملو لاندې کوم ډول نباتات و ده کوی او په دې باب دخلکو تجربې .

١١ ـ دوحشي او اهلي حیوا ناتو ډولونه چې په او بو یاوچه کې ژوند کوي لکه: تی لرونکي حیوانات ، الوتونکی ، کبان، داو بو نور حیوانات ، چینجی او نور . ددی حیوا ناتو غړی او هغه پېښي چې د دوی په ژوند کې پېښیږی لکه د اچې څرګه ورو سته له څو هګیو کوډ کیږی ، دحیوا ناتو او صاف ، ګټې او ضرر و نه یې . هرراز رنګونه چې په نباتاتو او حیوا ناتو کې پېښیږی او د دی نارو غیو دور کولولاری . دحیوا ناتو رنګونه ، د حیو انا تو د څوچیانو شکل او ډول، دهر راز حیوا ناتو غړ ونه ، هغه غړونه چې دحیوانا تو درا غوښتلو او شړ لو له پاره کیږی لکه : چو ، کشی ، کوچ ـ کوچ او نو ر .

**انسان :**

١ ـ دانسان دوجود ننني او بیرو نی غړی لکه سر، تنه، لاس، پښه سږی ، پښتورګی او نور .

٢ ـ هغه کارونه چې له هرغړی نه اخیستل کیږی .

٣ ـ دانسان درنځونو ډولونه .

٤ ـ د انسانی اوضاعو نومونه لکه : بشپړه روغتیا ، دخپلو شړ بو مهیوبی اونور.

۵ ـ هغه پېښې او احوال چې د ژوند په دوره کې د انسان له فکري او روحي اوضاعو سره اړه لري لکه: حس، حیرکی، حافظه او نور.

## د مادي ژوند وسیلې:

د خلکو د ژوند دا برخه له هغو اشیاؤ او وسیلو څخه عبارت ده چې دوی د هغې په واسطه خپل ژوند ته ادامه ورکوي او په پرمختللیو او مدني ټولنو کې د انسانانو د ژوند دا مادي وسایل د «اتنو ګرافي ـ انسان پېژندنې» په موزیمو نو کې د ټولیږي او هغه څوک چې د دې موضوعاتو په راټولو لو بوخت دی باید د موضوع کوچنیو نکتو ته هم اهمیت ورکړي او د ژوند د هر راز آلو او لوازمو په باب ژوري څېړنې وکړي او طبعاً د اشیاؤ په معرفی کې له پولې ناما نو سره اصطلا حګانو سره مخامخ کیږي چې عوام چندان نه پرې پوهیږي نو له دې کبله باید د هغې مجموعې په پای کې چه د اشیاؤ په باب وي یو فرهنګ وضع شي څو په دې ذریعه د نوموړو اصطلا حاتو په پوهیدو کې اوستو نکی ته اسانی پیښه شي.

د دې مسألې موضوعات دا دي:

۱ ـ د ښکار ډولونه لکه: پلې ښکار، د آس پـه سپرلی ښکار، د ښکار اصول، د هر راز حیوانا نو لکـه دزرك ښکار، د هوسۍ ښکـار او نور.

۲ ـ هغه آلې چې په ښکار کې استعما لیږي.
۳ ـ هغه تازیان چې ښکار ته بیول کیږي.
۴ ـ هغه مارغان چې ښکار ته وړل کیږي.

۵ـ د ښکاري سپیو دروزنې اصو ل او هغه کلمې چې په هغه سپي پلدوی او منې یې.

۶ ـ هغه اصطلاحات چې په ښکار کې استعما لیږ ي.

## کب نیول:

۱ - د کبانو ډولونه لکه د سمندر کبان د سیند کبان او نور.

۲ - کب نیول او ډولونه یې.

۳ - د کب ښکار وختونه.

٤ - د کب ښکار، هغه آلات چې په دې ښکار کې استعمالیږي لکه جال، چنګک، بم، ټوټ کړی او نور.

۵ - د کبانو صنایع لکــه دماهی هګی نیول ، له هغه نه خواړه تیارول او د هغو صنعتو ډولونه چې تری حاصلیږي.

## دڅاروو روزنه:

۱ - د حیوا ناتو د روزنې ډولونه لکه داس روزنه داسونو داچناسو، ډولو او کلو نوله مخې.

۲ - دغویو روزنه: دغویو د ساتنې طرز او هغه کارونه چې د هغه په وسیله سره کیدی شي غوا یه ترادارې لاندې ونیول شي؛ دغویو د باغیتوب مخنیوی، له غوا او څخه دشیدو لاس ته راوړل او دغویو د روزنې ټولې چارې.

۳ - د میږو او وزورو زنه: مرینوس، د دوی د روزنې اصول او هغه نومونه چې دوی یې دخپل ژوند په هره دوره کې لري او ددې مثالونه.

٤ - داهلي څارویو رنځونه مثلا هغه مرضونه چې امکـان لري اسونوته سرایت وکړی او د دوی د چاغ ساتلو طریقې.

۵ - دڅاروود خسی کولو طریقه او په ټولو څارویو کې د دې عملیې ډولونه.

٦ - هغه نومونه چې داس او نورو څارویو د تنګ په باب ویل کیږي لکه یېرغه، ترا ټ او نور.

۷ - هغه نومونه چې د هرراز څارویو په چوچیانو اېښودل کیږي لکه دا چې د میږې او لادوری، دوزی سیرلی، دغوا خوسی او ... بولی.

۸ - هرراز غږونه چې دڅارویو درا غوښتلو او یا شړلو د پاره کیږي.

۹ ـ هغه محصولات چې دغه ارو پوله غوښې، شيدو، وړيو او نورو څخه لا س ته راځي او د هغه د لاس ته را تللو طريقې.
۱۰ ـ هر راز دو دونه چې د شپنو تر منځ موجود دي.

## کوچيتوب:

ټول هغه عادات او څيزونه چې د کوچيانو د رعايت اود احتياج وړ دي لکه: پيتاو کول، کيږدۍ درول اونور.

## نقليه چارې:

دانسان او اشياؤ هغه نقليه وسايل چې دوچې او اوبو له لارې تګ راتګ کوي او ددې وسايطو برزې او ټوټې او په دې هکله مربوطه حوادث او احوال او هغه ويش او آلات چې په دې لاره کې استعماليږي لکه: خر، غويی، کچره، اس، کراچۍ، موټر، جاله بيړۍ او نور.

## په بزګرۍ پورې مربوط مسايل لکه: کښت کرل باغواني ګل کاري اونور:

## کرنه:

۱ ـ هغه داني چې کرلی کيږي، آبي يا للمي کرني، پسرلنۍ، ژمنۍ يا منګني کرنې، هغه ځايونه چې د کرنې وړ دي، د کرنې د پاره د خاوری برابرول، ځمکې ته د پټورۍ ورکولو اصول، يويې کول او نور.
۲ ـ د کرنې ټاکلې وختونه، هغه آلات چې په کرنه کې په کار يږي لکه جغ، قلبه او نور.

۳ ـ په کرنه کې د هر ډول عمليو نومونه لکه يويې کول، پيل وهل، لو کول، دغنمو ميدول او په سلهاؤ نور کارونه.

٤ـ تر خاورو لاندې د تخم پرستارې، د هغه د نبات د روزنې طرز، د خوی (خيشاوی) چارې، د څيني د نځورو بوټود تداوی طرز او په هغه پورې مربوط رسوم لکه د کودو ټولول او ...
۵ ـ د هر راز کښتو د حاصل اخيستلو وخت او هغه آلات چې په دې لاره کې استعماليږي.

۶ - د درمندچارې ، د درمند د اینهو د لوطرز ، میدول یې او هغه آلات چه په ټول درمنده کې استفاده تری کیږی لکه : څپر ، د پاد و لو خاپې او نور .

۷ - هغه آلات چې د نیشکر ، پنبې ، پټاټو ، تمباکو او د نورو شیانو په کرنه ، روزنه او نورو چارو کې په کار یږی .

۸ - د تخم شیندل لکه : هغه تخمونه چه د کال په څلور و اړو فصلو نو کې شیندل کیږی او هغه آلات چې په هر یوه کې یې استعمالوی او په دی لاره کې مسلکی کومکونه لکه : یورغو ، دیو یې پور بودل او په دی باب د استخدام اصول لکه د مځکې په دهقانی ورکول او د کرنې په باب د خلکو اجاره کول .

۹ - هغه آلات چې د رسیدلی کښت په لو کولو کې په کار یږی لکه لور او نور .

PROPERTY OF ACKU 5400

## سبزي کاري :

۱ - د هر راز نباتاتو نوعیت او د للمی ، یا آبی او یا دوا ړو صورت او د کرنې وختونه یې .

۲ - د روزنې طرز ، خیشاوه ، د رنځونو علاج یې او هغه آلات چې په دی ټولو وختونو کې په کار یږی .

۳ - هغه ځایونه چې د دی نباتاتو روزنې ته مساعد دی او د رسیدلو وختونه یې .

۴ - دی ډول کرنې ته د مځکې آماده کول ، پوره ورکول ، نرمول او هغه آلات چه په دې کار کې په کار یږی لکه د خوی مخصوص لور ، مخصوص بیل او نور .

۵- د دی پیشی د ځینې محصو لاتو ساتنه ( کانسروه کرې ) .

## دباغ او باغچې اړوند چارې :

۱ ـ د میوه لرو نګو ونو بېل ـ بېل ډولونه لکه : د زردالو ، انګورو او نورو .

۲ ـ دخاورې له نوعیت سره د دې ونو مناسبت ، چې یعنې په څه راز خاورې کې څنګه ونه لازمه ده ؟

۳ ـ دنیال ایښودلو دپاره دخاورې آماده کول .

٤ ـ طریقې ، وختونه او هغه آلات چې دونو په ایښودلو ، اېښودلو غوڅولو او دونو په پیوندولو کې په کار ېږي .

۵ ـ دونو رنځونه او دعلاج لارې چارې يې .

٦ ـ دارچې ، څنار او نورې ونې چې په ودانیو کې په کار ېږي .

۷ ـ دګل کارۍ بېلې ـ بېلې طریقې .

## باغواني :

۱ ـ هغه خاورې چې د باغ د پاره مساعدې دي ، د دې خاورو برابرول او د نیالګیو دایښودلو طرز .

۲ ـ دانګورو ډولونه او هغه انګور چې په بېلو ـ بېلو موسمونو کې رسېږي لکه : کشمشي ، حسیني او نور .

۳ ـ د باغ د پرستارۍ طرز ، د باغ بېل ـ بېل رنځونه او د ونو دعلاج کولو او روغولو طرز .

٤ ـ په باغواني پورې مربوط آلات او چارې او په باغواني پورې مربوط صنایع لکه : دمیوې ساتل ، له میوې نه شربت جوړول ، د ګلابو او نورو نباتاتو او په ایستل او نور زرعي صنایع لکه قندګیري ، سرکه ګیري او نور .

## دخوړو دپخولو مخصوص وسایط او دخوراک اوڅښاک مواد :

۱ ـ تنوراو دتنور ډولونه لکه د عادي ډوډۍ پخولو تنور ، داشونه ، نغرې ، دنانوايي تنورونه ، منقل او نور ډولونه یې .

۲ – هر راز د سون مواد لکه بوټي، لرګي، سکاره او نور او دلاس ته راوړلو طرزيې.

۳ – هر راز دخوراك او څښاك مواد او دتهيه کولو طرزيې: وچه ډوډۍ، ښوروا، پولاو، آش او بالاخره ټول خوراکي مواد او هر راز دڅښلو موادلکه: اوبه، شربت چاى او نور.

## داستو ګنې ځاى او لوازم يې:

۱ – هر ډول کوروته او استوګنځى، دغريبانو له کوډ خونه نيولى ترښکلو کلاو او کوټيو پورې او دهغه ويش لکه دسراى صحن، سراچه، کوشکن او نور.

۲ – دودانۍ مواد او دجوړولو طرزيې.

۳ – هغه آلات چې په دې لاره کې استعماليږي. (دادرى مادى بايد کاملا بشپړى وى او حتى دامکان په صورت کې يې بايد عکس او نقشه رسم شى).

## پوښاك او ګيڼې:

۱ – دپوښاك ډولونه له ټولو فروعاتو سره يې او دجوړولو او تهيه کولو طرزيې (دابرخه بايد زمونږ ځوان فولکلوريستان دمونږ داجدادنو دقيافو سره سم چې له تاريخه نه معلوميږى په نظر کې ونيسى او په مقايسوى توګه يې تدوين کړى او هغه وخت چې څېړى معرفي کيږى، لازم دى دهر مسلك او پيشى کسان چې طبعاً د بيلو بيلو لباسونو لرونکى دى، تصنيف بندى شى.) او هم د اختر دورځو جامې، دخلکو دزومتوب او واده جامې او دهر سن مخصوصې جامې لکه: دکوچنيتوب، ځوانى، زړښت او دښځو او سړيو مخصوصې جامې، ژمنى او پسرلنى پوښاکونه، پايزارونه لکه بوټ، پڼې، څپلۍ او سوګلۍ د دستکشو ډولونه لکه نخى، پشمى او پوستينى او هغه توپيرونه چې دښاريانو او کليوالو دجامو ترمنځ موجود دى او هغه فرقې چې له ترکيب نه يې جامې بشپړيږى لکه: پرتوګ، کميس، پتلون، واسکټ، کورتى، چپنه، پرزو او نور.

۲ـ دزینت شیان چې ښځې او سړي یې استعمالوي (دهر یوه بیل ـ بیل).
۳ـ هغه کالو نه چې ښځې یې سر ته ر سوي او هغه صنایع چې مخصـوص د ښځو دي لکه د خولې جوړول، د دسمالو جوړول او نور.
٤ـ د سـر لباس لکه: بګړۍ، د خولې نوعیت او د بګړۍ ر نګ.

## هغه شیان چې له خلکو سره وي:

په دې برخه کې چاکو، چاړه، پیش کوزه (پیش قبض) لکړه، د نسوارو کوتی او نور شامل دي.

## دموسیقۍ آلات:

دموسیقۍ هر راز آلات چې رواج لري لکه: تنبور، رباب، ډول، سورنۍ، دلرباو دساز وډولونه او دسیمونو نومونه، دساز و مقامونه او دساز و مختلف نومونه چې په هرمقام کې آهنګ بدلوي او دهرې آلې مختلفې ډوډۍ سره له نومو نو یې.

## دماشومانو لوبې اودلو بو سامان:

په دې برخه کې لومړی باید هغه لوبو ته اشاره وشي چې په کوچنیو نجونـو پورې مخصوصې دي لکه لانجکۍ هوارول، دیګ پخول، خال وهل او نور، بیا دکوچنیو هلکانو لوبې لکه داس اوګاډۍ جوړول او نور، بیا هغه بازۍ چې ددواړو ترمنځ شریکې دي لکه دکورجوړول، دکوچنیو ـ کوچنیو پټیو جوړول او او بـه ور کول او بیـا او رڅه د لږ لویو هلکانو لوبو ته اشاره وشي چه دا لوبې له پنډوس وهلو، سترګو پټو لو او نورو څخه عبارت دي چې هلکان د پسرلـی پـه ورځـو کې ډلې ـ ډلې ډولیـږي او اجرا کوي یې.

## صنایع او مسلکونه:

له دې کبله چې زموږ دملې صنایعو څخه یو شمیر بیخي د تاریخ په غیږ کې هیر شوي او اوس د هغو نوم هم بې د تاریخ له پاڼو څخه نه او ر یدل کیـږي او یـو نور شمیر یې دور کیدو پـه حال کې دي. زمونږ د نیکو نو دژوند ډیر اساسي خطونه موجود دي چې لازم دي د هغه د هر یوه په شاوخوا کې بیلې ـ بیلې څیړنې وشي او هغه لغات او اصطلاحـات چې په

هر یوه له‌دې صنایعو کې استعمالیدل یا استعمالیږي بیرته را ژوندي کړي څو هماغه نومونه او اصطلاحات په عصري صنایعو کې په کاروا چول شي. دا موضوع ډیر اهمیت لري ځکه که هغه پیشې او مسلکونه چې پخوا رواج وو او یا اوس هم شته په هماغه پخواني صورت او شکل راټول شي نو د پخوانۍ ټولنې د ژوند طرز کاملا روښانه کیږي.

دا پیشې، مسلکونه او صنایع له بزګرۍ، نجارۍ، معمارۍ، حجارۍ، حکاکۍ، مسګرۍ، زرګرۍ، دباغۍ، پوستین دوزۍ، چکن دوزۍ، خیاطۍ، رنګمالۍ او نورو زرګونو صنایعو څخه عبارت دي. هر څوک چې په دې لار کې کار کوي، لازم دي د خپلې سیمې د ټولو پخوانیو او اوسنیو صنایعو په باب له هر راز رسمونو او اصطلاحاتو سره یې څیړنه وکړي.

### متفرقه مواد :

له پورتنیو موادو څخه پرته چینې نور مواد هم شته چې لازم دي هغه هم د هیواد د فولکلور یستانو (خلك پیژندونکو) تر نظر لاندې وي او دا مواد په لاندې ډول لنډیز کولای شو :

۱ـ د هر څه هر راز نومونه او صفتونه.

۲ـ د رنګونو نومونه او وصفونه.

۳ـ عمومي اوصاف لکه نریتوب، اوږدتوب، لوړتوب او نور.

۴ـ هغه نومونه، صفات او افعال چې د صوت او آهنګ نه وروسته پیدا کیږي لکه ولاړې؟ چې بې د پوښتنې له نښې څخه چې «آیا» ده، د پوښتنې آهنګ لري.

۵ـ د ضمیر ډولونه.

۶ـ بسیط او مرکب ظروف.

۷ـ هر راز ژبني ادات چې د کلمې په شکل وي.

## عامه فرهنګ

### د ماشوم زیږیدنه:

۱ـ شپږمه ورځ او دودونه یې او هغه سوغاتونه چې په دې ورځ یې د ماشوم د پلار کنې کورته راوړي.

۲ ماشوم ته دتی رودلوچل ښودل او ددایی نیولو اصول.
۳ـ څه عقیده ده چی مور (زچه ښځه) ترڅو ورځو پوری یوازې نه پریښودی .
٤ـ دماشوم دساتنی اصول لکه په محکمی یاهوایی زانګوکی .
٥ـ څنګه ځینی ماشومان له معمول نه وروسته په خبرو راځی؟.
٦ـ څنګه معیوب زیږی؟
۷ـ څنګه دځینو ماشومانو وینیته سره وی.
۸ـ دماشوم په نوم ایښودوکی څه عقیدی اودودونه موجود دی؟ څنګه ځینی نومونه بودی او بیایې بدلوی ؟
۹ دماشوم لهٔ قولو حرکاتو او کارونو څخه څه معنی راوزی؟

**واده:**

۱ـ دغوښتنی (طلبګاری) دودونه اوطریقی: دکوژدی شرطونه، په دی مرحله کښی د دواړو خواؤ حقوق ، دولور دپیسو اندازه ، دولور نوعیت ، د میوی دویشلو تر تیب ، ناوی څنګه جوړوی ؟ دتزئین مواد څه شی دی؟ په اخترونو او نوررو میاشتو کوم کی زوم په نجل او نجل په زوم څه مادی اومعنوی حقوق لری؟
۲ـ دنکاح مراسم اوهغه رواجونه چی په نکاح کی دخلکو تر منځ موجود دی، هغه دودونه چی دپلار له کورنه دناوی دراایستلو په وخت کی اجرا کیږی، دخسر کورته دناوی درسولو اصول او هغه دودونه چی دپیوند ګلوی په کتنه کی معمول دی ، هغه دودونه چی ددواړو دحمام په ورځ اجرا کیږی، هغه خواړه چی ترڅوورځو دناوی دپلار له کورنه دزوم کورته استول کیږی، له خسر اوخواښی سره دزوم لیدنه ـ کتنه اونور.
۳ـ له دی نه دیوه تن ښځی بدل اوددی پیښی په باب دخلکو عقیدی.

**کورنی ژوند:**

۱ـ دافرادود نژدی والی (قرابت) درجی، دکورنی هغه نومونه

چې په نږدې توب، لیرې توب او... دلالت کوي لکه: تره، نیکه، ترور، ورور، تربور، ترورزی، داوښې زوی او بالاخره له ورور نه نیولی ترهرڅو لیرې رابطه چې سره لري.

۲- هغه نومونه چه ښځې یې په میړونو، میړونه یې په ښځو او دوی دواړه یې په خپلو اولادو نوي دي (پرته د دوی له اصلي نومو نو څخه).

۳- په کورکې د پلار، مور، زوی، لور، دایی، خادم او نورو د اهمیت درجه.

٤- د ګاونډیتوب حقوق او دا چې کوم اوضاع د ښې ګوزارې او کوم اوضاع د بدې ګوزارې موجب ګرځي.

٥- د میلمه پالنې اهمیت او هغه عقیدې چه په دې باب یې لري لکه د کور په ګناه او نورا او د بیګانګانو د میلمستوب دودونه.

## د خوړو په باب عقیدې او عادات:

۱- د خوراك وختونه، د کوندرې (دسترخوان) د غوړونې اصول، د رژه ماتی اصول..

۲- هغه خواړه چه له غوښې یا سبزې څخه جوړیږي او هغه توپیر چه خلك دي راز خوراکو ته پرې قایل دي، هغه حیوانات چه غوښه یې خوړه کیږي یا نه خوړه کیږي او هغه دلایل چه په دې باب یې لري.

۳- د خوراکو بیل- بیل ډولونه لکه وریژې، حلوا، باب، مایعات او نور.

٤- هغه مخصوص وسایط چې دهغو په ذریعه خواړه پخوي او هغه مواد چې په خوړو کې یې ګډوي څو یې خوند، رنګ او بوی ښه کړي.

## داستوګنځیو په باب عادات او عقیدې:

۱- د کور د جوړولو د پاره ځای ټاکل، د بنسټ اېښودلو په وخت کې یې قربانی او نذر ورکول او په تاداو کې یې د پیسو او نورو څیزونو اېښودل، هغه شاګومونه چې په دې وخت کې یې حدس وهي او هغه دودونه چه له یوه کور نه بل کور ته د تګ په وخت کې اجرا کیږي لکه د کور د سامان د لیږلو نه مخکې نوی کور ته داو بو او قرآن کریم لیږل او نور.

۲ـ د تناره او نغرې په باب عقيدې.

۳ـ د هغه نذرا وخيرات مراسم چه له کوره جومات يا عامې لارې ته وړل کيږي.

٤ـ له کور څخه د موږ کوا و نورو حشرا تو د شړلو طريقه.

٥ـ هغه نو مونه چه د کور په هره کوټه ايښودل کيږي لکه صندوق ـ خانه کوشکنې او...

## د چامواغوستلو په باب عقيدې او عادات:

۱ـ د چامو د بيلو ـ بيلو رنگو نو معناوې، د چامو چپه اغوستل او معنې يې، د تورو چامو اغوستل او معنې يې.

## دانسان د مړينې او خښولو په باب عادات او عقيدې:

۱ـ د مرگ علامې او په هغه پورې مربوط تدبيرونه.

۲ـ هغه تدبيرونه چې د ناروغ په بستر کې د ځنکدن د عذاب د تخفيف او د کالبوت تشولو د آسانۍ په لاره کې نيول کيږي او له مړينې وروسته د مړي ستر گې او خوله پټول.

۳ د مړي د مينځلو او تدفين طرز، د مړي سره کښينناستل د خښولو تر وخته پورې، د جنازې بيل ـ بيل ډولونه لکه دواړه، لوی، سړی، ښځې ناوې او نورو جنازې، د اسقاط مراسم، د تابوت وړل، د قدمونو شمير ل او د قبر په سر داغږ کول چې: «د ينداره ګ، خداې يې دې و بښي» او د اسقاط په وخت کې د قرآن گرځول.

٤ ـ د غم مراسم، د مړي حلوا، جمعګې، څلويښتې د مولود شريف او عاشور په ورځو کې د مړ غانو د استفادې وړ او به او دانې په قبر شيندل، د مزار په لوحه باندې د دعاگانو ليکل او نور.

٥: د مړي ځينې نښانې ساتل.

٦ـ د مور په نس کې د ماشوم ضايع کيدل او د ماشومانو او شهيدانو او منتحرينو د مړينې په باب عقايد او دودونه.

۷ـ د انسان د روح او د ستورو د ارتباط په باب د خلکو عقايد لکه دا چې

هروخت چه په اسمان کی ستوری ولویږی نو وائی «خدای بو هیږی چې دچا ستوری ولوید ؟»

## دافسونګری او فالونو پاب عقیدی اوعادات :

١ـ دخوبونو تعبیر هرراز فال نیونه لکه دغلبیل، تسپو اودشاعرانو په دیوان باندی فال نیول .

٢ـ هغه جادوګرچې له رسی نه مار جوړوی یا هغه مداریان چې له ستونی څخه لوی اودرانه څیزونه راباسی اونور... او هغه څوك چې دپیریانو او نورو دعاوی وایی .

٣ـ هغه څیزونه چې دکوډګرو دعملیاتو په وخت په کار یږی لکه : صابون ، ویښته ، اوسپنه ، ډیکری ، هغه څیزونه چه جادو فاسدوی او دڼګارانو له رازنه پرده پورته کوی اوهغه چې دافسونګری په بیلو بیلو برخو کی د اړتیا وړ دی .

٤ـ دافسونو ډولونه او د هغوی شکلونه او هغه څیزونه چې دمداریانو په کڅوړه کی وی لکه یوډول مهراوځینی لیك کاغذونه .

## داخترونو اومبارکو ورځو په باب عقیدی اوعادات :

١ـ دحضرت رسول (ص) دمیلاد دورځی ،دعاشوری دورځی او دنورو مبارکو ورځومراسم .

٢ـ دروژی په مبارکه میاشت پوری مربوط مراسم لکه : روژه ماتی، پشلمی او په هغه پوری مربوط تشریفات، دعرفی دورځی اودشاه برات «شوقدری» شپی په باب عقاید اودهغه عوامل .

٣ ـ دلوی اختر دورځی دقربانی په باب دودونه .

٤ـ هغه لوبی اوساتیری چې داختر په ورځو کی یی کوی اودنوموړو ساتیریو نومونه، هغه زیارتونه چې خلك په نیکوورځو کی پری راڅولیږی او هغه سوغاتونه چې خلك یې په دی ورځو کی خپلو دوستانو ته ورکوی .

## د طبیعي عناصرو او موادو په باب عقیدې:

١- اور او دغه اصل ، یعنې څه وایي چې د اور اصل څه دی او له کوم ځای نه پیدا شوی، څنګه په ځینې ورځو او وختو کې د ګاونډیانو د اور غوښتنه نه مني؟

٢- د اوبو د مادي او معنوي پاکۍ خاصیتونه.

٣- څه وایي چې د دنیا پای چیرته دی؟

٤- څه دلیل دي چې لمر او سپوږمۍ خوړا وورور ګڼي او دغو نورو اجرامو او ستورو د اهمیت په باب خلک څه عقیدې لري؟

٥- د تندر ، برښنا ، تندر او ددوی د پیدا کیدو په باب څه فکر کوي؟

٦- د بادونو د پیدا کیدو سبب او د بادونو د ډولونو نومونه او اغیزې یې.

## د افسانوي موجوداتو په باب عقیدې:

١- د پیریانو ډولونه او په کائناتو او انسان کې د هغو اغیزې.

٢- د دیوانو او پیریانو کیسې او د کوه قاف افسانې.

٣- ښامار او د هغه د پیدا کیدو علت او ددې څیزونو اغیزې د خلکو په ظریفه او نفیسه صنایعو کې.

## د حقوقو، اقتصاد او بیلو-بیلو اجتماعي مسایلو په باب د خلکو عادت او عقیده:

١ - د خلکو ترمنځ هر راز حقوق او دعوې لکه: د ګاونډي حقوق د پلوان شریک حقوق، د کلي د خلکو حقوق ، یو په بل باندې ننواتې او شرطونه یې، او لسي سزاګانې لکه هسیا لداره او نور اوږوندي څخه د ګنهګار محرومول او نور.

٢- هر راز اقتصادي معاملې، راکړه ورکړه، لکه هر راز پورونه او ډولونه یې او ددوی شرطونه او په محکمو د حاکمیت حقوق، کورونه نور څیزونه او د میراث مسایل ئې، د هلك، جینۍ او د لور حقوق له میره کولو څخه وروسته د پلار په مال کې.

۳- هرراز اجتماعي مناسبات لکه نوکري، بادارې، استادي، شاګردي او هغه حقونه چې له دې مناسبتونه يې د وانده خواوې لري.

# صنايع او د خلکو ادبيات

## لومړنۍ لوبې د تياتر په شکل:

۱- په دې برخه کې زموږ مراد هماغه لومړنۍ او ابتدايي لوبې دي لکه باداشاه وزيري، د روژې د شپو ګر ځيدل (رمضاني) چې د هر ډول خلکو ځيرې تمثيلوي.

۲- ځينې ستاينې او مشهورې بوللې چې په دې وخت کې يې وايي.

۳- هغه بيتونه چې ماشومان يې د خپلو موقتي ټولنو له پاره د ضرورياتو را ټولولو په وخت کې د کورونو په ورونو کې وايي.

## د خلکو داستاني آثار:

۱- هغه داستانونه چې له پخوانيو او او سنيو مسأ لو ځخه بحث کوي او د افغان ملت د لويو جنګو داستانونه چې د خپلې خپلواکۍ په لاره کې يې کړي لکه د غازي صاحب جان خان، د استقلال او نجات او هغه ټول داستانونه چې د موږ د هيواد په تاريخ پورې مربوط دي، هغه داستانونه چې د پردي يسيو، مهاجرت، بيوزلي او لوږې په باب ويل شوي او د لويو ملي قهرمانانو لکه ميرويس خان، احمدشاه غازي، اکبرخان او نورو په باب بيل - بيل روايات.

۲- هغه داستانونه چې د خير غوښتونکو ستاينو ا لوله خوا ويل کيږي چې په دې داستانو کې تاريخي نکات هم ذکر شوي دي.

۳- هغه مناجاتونه چې داستاني مباحث پکې موجود دي.

## چار بيتي:

په دې برخه کې بايد هغه ټولې چار بيتي چې د معاشقي يا نورو وي او له موسيقي سره يا بې له هغې ويلې کيږي قيدشي، مخصوصاً تو جه وشي چې دا چار بيتي د باسوادو شاعرانو له طبع ځخه نه وي او د بيسوادو مينانو د قلبي جذباتو مولود وي که يې ويونکي معلوم وي يا نه، فرق نه لري.

## لوی ادبی آثار:

۱-هر راز دعاوی چې کوډګر یې وایي .
۲- متلونه .
۳ -چیستانونه .
٤ -هغه خبري چې په ادبي قالب کې جوړې شوې لکه دزرګر سل ټکه د آهنګر یو ټك.
٥-د دعاوړ از-راز ډولونه چې یوتن یې د بل د احسان په مقابل کې کوي لکه: زوی دې لوی او نور یعنی هر ډول دعاوي .
٦ -ښیراوې لکه خدای دې خیر نه درکوي، زوی دې مړ شه، ورك شې او نور له هغو ځایو سره چې پکې و یلې کیږي .
۷ -ډول-ډول سوګندونه .
۸-دغوسې (غصې) په وخت ستوغې خبرې .
۹ - د ښکنځا ؤ بیل - بیل ډولونه .

## دماشومانو دسا تیرې د پاره جلې افسانې:

۱-افسانه په مفصل ډول او دافسانې شروع او ختم لکه «ؤ نه ؤ» چې په بیل او «خدای دې دهغوی مراد هلته او دمونږ دلته دا کړي» دافسانې په پای کې و یل کیږي.
۲-د پیریانو او دیوانو افسانې او مردف بې معنی الفاظ لکه اکو بکو او...
۳ -په نورو ځاردیو پورې مربوطې افسانې.

## کیسې (حکایات):

۱ -په خلکو او تاریخې حوادثو پورې مربوطې کیسې.
۲ -داخلاقي ګټو لرونکې کیسې .

لطيفې (کوميډي کيسې) :

د ملا نصرالدين او ملا دو پيازه او نورې داسې کيسې چې سړی وخندوي او نور.

## د فولکلور لارښوونکي ته يوه کتنه

تر دې ځايه موږ د ادبي انجمن د «رهنمای فولکلور» مطالب وړاندې کړل خو بيا هم په دې لارښوونکي کې ځينې داسې خبرې او د انتقاد وړ ټکي شته چې بايد ګوته ورته ونيوله او تبصره پرې وشي :

۱- په دې لارښوونکي کې د فولکلور لمن ډېره پراخه او وسيعه نيول شوې او حتی هغه شيزونه چې د اساسي علومو حيثيت لري هم پکې راګډ او اخښل شوي دي چې په دې ترتيب د فولکلور لارښوونکي د دې په ځای چې يوه نوي فولکلوريست ته لارښود نه وکړي د هغه د فکر د پريشانۍ، تشتت او دوډلي سبب کېږي ځکه فولکلوريست نشي کولای چې د دې لارښوونکي له مخې فولکلوريك علوم تصنيف بندي او وڅېړي چې په اصطلاح د کلاوې سر تري ورک کېږي او نشي پوهېدای چې د دې لارښوونکي په لارښوونه فولکلور څېړنه له کومه ځايه شروع او چېرته يې ختمه کړي؟

۲ -موضوعات يې داسې سره ګډ شوي چې سړی نه پوهېږي چې د الارښوونکي فولکلور په څه ډول تصنيف بندي کوي او په څه ډول غواړي چې فولکلور وڅېړل شي مثلاً په لومړي عنوان کې د مځکې طبقې بيانوي. له هغه وروسته د آسمان هوا او سيمو نومونه، بيا نباتات او ځاروي وروسته انسان، بيا د مادي ژوند وسيلې ورپسې د ځارو روزنه، بيا وروسته کوچيتوب بيانوي خو له دې وروسته بيرته کرنې او باغوانۍ ته راځي او په دې پسې متصل پخلی او ورپسې پوښاك او ګېڼې او نور ليکي چې په دې ترتيب يې ټول فولکلوريك علوم يو په بل کې ننه ايستلي دي،

جغرافیه، نجوم، زراعت، سایکالوجي او نور ټول یې سره ګډ کړي او په نامرتب ډول یې یو په بل پسې راوړي دي.

۳ـ ډیر مکررات لري او یو موضوع تر بیلو ـ بیلو عنوانو ینو او په بیلو بیلو ځایونو کې راغلي دي. د نمونې په توګه هغه چې د «نباتات او ځاروي» تر عنوان لاندي په (۱۱) ماده کې وایي:

هغه غږونه او آوازونه چې د حیواناتو د راغوښتلو او شړلو له پاره کیږي لکه: چو، کشي، کوچ ـ او نور... خو بیا هم دا خبري د «ځار وروزنه» تر عنوان لاندي تکرار شوي او په اتمه ماده کې لیکي: هغه راز غږونه چې د ځارویو د راغوښتلو او یا شړلو د پاره ویل کیږي او...

٤ـ ځینې غیر فولکلوري موضوعات یکې راګډ شوي چې د نوي تمدن مظاهر دي او له فولکلور سره اړه نه لري، مثلاً د نقلیه چارو په لړ کې د خره کچر او نورو په برخه کې د کراچي، موټر او بیړیه یادونه هم کوي، یا مثلاً د پوښاك او ګینې تر عنوان لاندې د پتلون او نورو... یادونه کوي.

په نتیجه کې ویلای شو چې دالارښونکې که څه هم په ځانګړي ډول سره نشي کولای چې د یوه نوي فولکلور پست مشکلات حل او لار ښودنه وړ ته وکړي خو بیا هم د فولکلور څیړنې په لاره کې زیاته مرسته کولای شي.

## بل ویش

همدا راز د هیواد په ور ځپاڼه کې یوه اساسي مقاله خپره شوې ده چه لیکوال یې د خپلو فولکلوري مطالعاتو نتایج پکې خپاره کړي او هم یې ضمناً فولکلوریك علوم په لاندې ډول تصنیف بندي کړي چې د لته یې لنډیز را اخلم څو زموږ د ویش په لاره کې راسره مرسته وکړي.

### الف ـ اولسي ادبیات:

۱ـ ملي اشعار او اوزان لکه داقن ناري، بابولالي، د کاکړ وغاړي، د شینخالو غاړي، غړ نګې، نیمکۍ، لنډۍ، بدلې، چار بیتي، مقامونه، سرو کې غږونه او نور.

۲-د خلکو د خولو نه پاتې شوي او له يوې خولې نه بلې خولې ته نقل شوي منثور آثار او مسجعې خبرې لکه متلونه، لنډۍ کيسې، اساطيري افسانې، غير مهذب يه کوميډي کيسې، تمثيلي متلونه، چيستانونه، ماشومانو ته د ويدو خبرې، د لوبو په وخت کې د ماشومانو مسجعې خبرې ...

## ب- د علومو فولکلوريک مبادي:

۱- طب: هغه ناروغۍ چې زړې ښځې او يا سپين ږيري يې پيژني او په علاج يې ځان پوه بولي او د هغو د معالجې له پاره ځينې ګټور بوټي پيژني او يا په دې باره کې افسانې لري. دستورنې پورته کول او د ماتو لاسو او پښو تړل چې د خلکو له خوا په اولسي توګه اجرا کيږي هم تر دې عنوان لاندې راځي.

۶- د مار، لړم، غوماښې او نورو حشراتو د چيچلو په مقابل کې معالجې يعنې دم او دوا او په دې لار کې د ډېرو له سولسو څخه استفادې او داسې نورې خبرې.

۳- عاميانه نجوم لکه دستورو او لمر د ستر ګې د تحول له مخې د وختونو او موسمونو تعيينول، د ليلى او مجنون ستورې چې د خلکو د عقيدې له مخې ليلى او مجنون د دوو ستورو په شکل په آسمان کې سره نژدې کيږي.

٤- د لوو د خبرې، د ځمکې د کرنې او نيالګيو ايښودلو په باره کې د خلکو مروجه طريقې؛ افسانې لکه د صبر د ونې کيسه چې د کوم ښه سړي د کوت «ګفت» له مخې د کال د دوو لس مياشتې شنه ولاړه ده.

۵- د ځناورو او حيواناتو ښه ګڼل او يا بد ګڼل او د هغو د روزنې په باره کې د خلکو معلومات او کيسې.

۲- د قبيلو شجرې لکه دا چې وردګ، محمد زي او مشکل سره وروڼه وو خو وردګ په «لرې» ترې مرور او وزڅخه بېل شو.

۷- غرايب: د پيريانو لټول، فالونه، په دم او دوا د حيواناتو تسخيرول په تسپو د فالونو اچول او داسې نور.

۸ـ عامیانه روا نشناسي: له لنډې څخه دیوا نسان درو حي عوا ملو معلو مول، دغا ښو په لید ودځاروو دعمر معلو مول، دوړغو یو په لیدو سره دطا لعو کتل، دو نو د پوستکي په لیدو سره دهغه دعمر اندازې لګول.

## ج-اولسي دودونه:

۱ـمیلې، اخترونه، مبارکې ورځې، محلي بازارونه او دبازارونو ورځې.

۲ـ دماشوم د پیدا کیدو مراسم، دجنازې فولکلوریك مراسم، دودونه او هغه ملي قوانین چې خلك ور باندې خپلې اولسي قضیې حل کوي.

۳ـ دلویانو، ماشومانو او ښځو لوبې او ددغو لوبو پیدا کیدو په باره کې څینې روایات.

٤ـ عامیانه تقویم، چې خلك دخپلو روایاتو سره سم په میاشتو نومونه یږدي لکه: «کشره خور، منځوې خور...» دځینو عواملو له مخې دوا ورو او بارانو پیش ګویي.

۵ـخرافات او باطیل لکه دا چې وایي له مخې مې توره پیشو تیره شوه خدای دې خیر کړي چې ورځ مې توره نه شي، یعنې له غمو نو سره مخامخ نه شم او یا دا چې که دچارو څو که په چاو لګیده هغه باید پر یکړه شي.

## د-مادي مدارك او فولکلور:

۱ـ کورونه، تاریخي ځلي، جوماتونه، دکارونو لارې، زړې کلاګانې او دهغوی په باره کې دخلکو کیسې...

۲ـ په قبرونو او کورونو کې د آیاتو لیکل او نورو ښو کلماتو لکه «هر کله راشي» نصبول هم فولکلوریکې جنبې لري.

٤ـ دکور ساما نو نه لکه څمڅې، کنډو لې او...

۵ـ وسلې لکه ټوپك، چاړې، تورې، دښکار وسایل او په دې باره کې دخلکو افسانې.

۲ـ دماشومانو دلو بو شیان.

۷ـ دخلکو دنقاشۍ آثار او په هغو مربوطې کیسې.

۸ـ دخوړا کو نو اقسام او دهغو دپخو لو محلي طرز او په دې باره کې افسانې یعنې دځینې خوړا کو پخولو لې ثواب لري؟

هـ ـ د خلکو کسبونه :

لکه جولایی، نجاری، دهقانی او دهغو دېشه ګنهلو او یا بد ګنهلو په باره کې کیسې.

## دفولکلور ویشنه

په تیرو پاڼو کې موږ ته معلومه شوه چې فولکلور تر کومه حده وسیع او پراخه دی او هم را ته ښکاره شوه چې په فولکلور کې کوم ـ کوم علوم شامل دي ځکه چې په فولکلور کې یوزیات شمیر علوم شته او حتی داکثرو علوموموږ همدا فولکلور ګڼلای شو نو ځکه سخته ده چې دیوه تن له خوا دی دفولکلوری علومو تصنیف بندي په اساسی طور سره وشی بلکه دا دلویو ـ لویو انجمنو کار دی او دپوهانو دیولې ګډو څیړنو او اوږدو مطالعو په برکت سره سر ته رسیدای شي نو په دی سبب زه محان ته صلاحیت نه شم ورکولای چې فولکلور یك علوم په اساسی او علمی طور تصنیف بندی کړم خو البته هغه فولکلور یك موضوعات او علوم چې په دې څیړنه کې زما تر نظر او کار لاندی دی، دادی:

دخلکو ادبیات لکه: سندری، منظومی کیسې، نکلونه، متلونه اصطلاحات، ټوکې، ترانی او نور؛ دودونه، رواجونه، عنعنات، عقاید او طرز تفکر؛ خپلوی، دژوند آداب، دخپلوانو نومونه، دمشرانو احترام، دکشرانو حقوق او نور؛ پښتو نولی او پښتنی قوانین لکه: روغه، جوړه، ناغه، ننواتی، پور، برنته او نور؛ اقتصادی لاری چاری لکه: اشر، بسپنه، ټولندره او نور؛ ارغون پیژندنه ودانی، ابنیی، عامیانه تاریخ او نور؛ نجوم، ستاره شناسی، فال نیول او کف شناسی؛ لباس، ګینې او نور لوازم؛ آشپزی او دخوراکونو فولکلوریك بخول؛ جغرافیایی معلومات لکه: دآسمان جوړښت دمځکې جوړښت، ستوری، سپوږمی، لمر، دمځکې پای، اخروی

موجودات، دغرونو او سیندونو تشکیل او نور؛ طب او ډاکټری لکه:
له دارو بوټو او نورو شیانو څخه د ناروغیو لیری کیدو له پاره
استفاده، و ینه ایستل ، د حیوانا تو پوستکی اغوستل ،
شکسته بندی او نور؛ کرنه او مالداری لکه دحیوانا تو او نباتا تو
دجوړښت اوروزنی په باب معلومات، کر- کیله او نور؛ دانسان
پیژندګلوی او د هغه دپیداکیدو په باب افسانی او اساطیر.

دا پورته ذکر شوی موضوعات زما دڅیړنی عمده مطالب
تشکیلوی چی البته په خپل-خپل وار به په مشرح ډول وڅیړل شی.

# دخلکو ادبیات

دخلکو ادبیات په عمومي توګه په دوو برخو ویشلای شو: چې لومړۍ برخه یې دخلکو سندرې (منظوم ادب) او دوهمه برخه یې دخلکو روایات، امثال، افساني او نور (منثور دادب) تشکیلوي.

# دخلکو سندرې

انګریزي مستشرق «مستر راورټي» دپښتو داولسي سندرو په باب وايي:

**«پښتانه که څه هم ورځپاڼې او نوري خپرونې نه لري مګر هغه ساده او عامیانه اشعار او بدلې چې په عام ډول دپښتنو دهرې طبقې له خوا ویلې شوي، ددوی تاریخ او ورځپاڼې بلل کیدای شي.»**

سره له دې چې دنړۍ ټولې ژبې څه نه څه اولسي او کلیوال ادب لري خو تر کومه ځایه چې ښکاري هیڅ ژبه په دې برخه کې دپښتو سره له شي برابر یدلای او خصوصاً پښتو ژبه په ختیځ کې یوازینۍ ژبه ده چې له شاهي دربارو څخه تر یوه حده لیرې ساتل شوې او ډیره کمه دستاینو او خوږ مالیو له پاره استعمال شوې ده، همدا راز ددې ژبې اولسي ادب چې دادب زیاته برخه یې تشکیلوي له هغه افکارو او تخیلاتو څخه لیرې پاتې شوې دې چې په اولسي ژوندګي یې کومه ښکاره اغیزه نه درلوده؛ اولسي سندرې لکه څرنګه چې دموضوع په لحاظ له عروضي سندرو او اشعارو سره توپیر لري همدا راز داوزانو له پلوه هم بیلې لارې او خصوصیتونه لري او هغه قیود او

بندیزونه چې عروضي نظم منلي په دې سندرو کې بېخي نه دي منل شوي او دوی کې هر هغه وزن چې د شاعر په ذوق او په اولسي ایجاباتو برابر دی غوره شوی دی او کومه محدوده ساحه یې ځان ته نه ده په نښه کړې .

د موجوده پلټنو په رڼا کې د پښتو د اولسي سندرو لاس ته راغلي نمونې له اسلام څخه راوروسته دي خو څرنګه چې پښتو یوه ډېره ارغونې ژبه ده نو دا لازمه ده چې پښتو به له اسلام نه د مخه هم هر ډول شعر او ادب درلود او دا ځکه چې هغه نورې آریایي ژبې چې د پښتو ژبې خوېندې بللې کېږي لکه اوستا، سنسکریت او . . . ډېر خوندور او زړه وړونکو اشعارو لرونکې دي او د ملي اشعارو نمونې یې لا تر اوسه هم پیدا کېږي؛ نو څرنګه چې تاریخي سندونه د پښتو وجود هم د اسلام نه زرګونه کاله ترمخه ثابتوي نو دا هم باید ومنله شي چې پښتو به په هغه وخت کې هر ډول شعر، ادب او سندرې درلودې او پښتنو به د خپلو مذهبي، د ښادیو مراسمو او نورو کې سندرې ویلې خو متأسفانه چې اوس ورکې دي او د ورکوالي سبب خو یې دا دی چې چا نه دي لیکلې او حتی تراوسه لا هم د پښتو اولسي سندرې نه دي لیکلې شوې، یوازې د پښتو ټولنې له خوا یې یوه برخه په څېړنو مقالو او هم ځانګړو کتابونو کې راټولې شوې او خپرې شوې دي، سره له دې هم ټولې نه دي خپرې او اکثره برخې یې یوازې او یوازې د پښتنو په خولو کې د میراث په توګه له یوه څخه بل او له بل څخه بل ته راپاتې شوې دي . بل دا چې د امیر کروړ شعر چې په پښتو کې د پټې خزانې په پیدا کېدلو سره د پښتو لومړنی شعر ګڼل کېږي که څوک وګوري او ژور وکتنه پکې وکړي نو هیڅکله به دا ونه مني چې دا د پښتو لومړنی شعر دی او د دې شعر له پوخوالي څخه ښکاري چې د پښتو نظم یوه ډېره ارغوني ماضي

تیره کړې او په خپلو اولسي سندرو او ادب کې یو خوا لې ته رسیدلې ده.

د پښتو هغه دوه نیم زر کلن شعر چې د پښتو اد بیاتو تاریخ ضبط کړی او د هغه منشیانو په دوره پورې اړه لري د پښتو د منظوم ادب د قدامت یو لوی او په زړه پورې دلیل دی. څرنګه چې اولسي سندرې په پښتو کې ډېر قدامت لري نو همدا د قدامت وجه یې ده چې په پښتو کې یې له عروضي اشعارو څخه لوړه پوړۍ نیولې ده او په عامو پښتنو کې د اولسي سندرو د اغیزې او محبوبیت دلیل دا هم دی چې دا سندرې د داسې ذرګونو شاعرانو د فکر محصول دی چې هغوی سواد نه درلود او له فلسفي او تصوفي افکارو څخه نه دي متأثر شوي نو له دې کبله د دوی اشعار یوازې او یوازې د ژوندانه د پېښو یو پوره تصویر او د پښتني دودونو دستور پوره ښتینی نیټه لیک بللای شو.

د یوه پښتون شاعر له پاره د شعر ویلو ډېرې لارې پرانستې دي پر هره لاره چې یون کوي کولای یې شي، خو په پښتنو شاعرانو کې به تیره بیا ملي شاعران هغه لاره خوښوي کومه چې د دوی آریايي نیکونو ورته پرانستلې ده، لکه څرنګه چې آریايي اشعار د هجاء او سلیبل په اساس بو لل کیږي او د شعر سم او ناسم پېژندل یې هم په همدغه هجاء او سلیبل پورې اړه لري همدا راز د پښتو اشعارو تول، کره کیدل او د هغه سم او ناسم پېژندل هم په سلیبل او هجاء سره کیږي؛ په سلیبل کې د حروفو د پرواली او لږوالي نه شمیرل کیږي مثلا د «زه» کلمه چې له دوو تورو یعنې «ز» او «ه» څخه مرکبه ده یو سیلاب ګڼل کیږي او په ویلو او لوستلو یو وار خوله پرې خوځیږي، د پر داسې هم شته چې یو سیلاب څلور توري ولري لکه: ورور، ننګور، ترور، سپین، سپور او نور ... نو څنګه د پښتو اشعارو مسرۍ که په یوه شعر کې هم دي سره له دې چې په سیلاب کې به هیڅ توپیر و نه لري خو په لیکلو او حروفو شمیرنې کې کله ـ کله ځینې مسرۍ له یو بل څخه لنډې یا اوږدې راځي، دا راز شعر که په عروض تقطیع شي بنا یې ناسم وي مګر که د هجاء او سلیبل په اساس یې وسپړو نو ممکن چې

په شعر کې هیڅ نا سموالی و نه لیدل شي، د آریایي اشعارو د دې تقطیع ګټه دا ده چې شعر ته یو طبیعي رنګ ور کوي او له ډیرو قیودو او بندیزو څخه یې ژغوري. مطلب دا دی چې په آسانۍ ځایېدلی شي او کره، کول او سم ناسم پېژندل یې هم ډیر ژر کیږي.

د پښتو او لسي سندرې نه یوازې دا چې د شعر او ادب له نظره ارزښت لري بلکه د ملي موسیقۍ د متمم او مکمل په حیث ستره برخه لري، لنډه دا چې که دې اصل ته چې وايي «ادب د محیط هنداره ده» ارزښت ور کړل شي نو ښايي و ویل شي چې د پښتو له او لسي شعر او ادب څخه ښه ادب، سپېڅلی او ښکلی ادب، پیاوړی او واقعي ادب په قول حقیقي کې نه موندل کیږي.

## د او لسي سندرو ډولونه

لکه څرنګه چې آریایي سرودونه په دوو لویو معلومو او نامعلومو سرودونو ویشل شوي همدا راز د پښتو اولسي سندرې هم په لومړي سر کې په دوو لویو برخو ویشلی کیږي.

لومړۍ برخه یې عمومي سندرې یا نامعلوم نظم دی چې شاعران او ویونکي یې ښکاره او په نامه نه وي معلوم.

دوهمه برخه یې خصوصي سندرې یا معلوم نظم دی چې شاعران او ویونکي یې معلوم او یوه مشخص او معین او لسي شخص ته منسوب وي، چې بیا هره ډله بیل بیل ډولونه لري.

په عمومي سندرو کې دغه ډولونه څرګند کیږي: د مینډو سندرې، د ماشومانو سندرې، دوړو مشاعرې، کیسې، د لویانو سندرې، محلي پارچې، داتڼ تارې، بابولالی، د هو تکو نارې، د کلا کېږو غاړې، قالونه، لنډۍ، سروکي متلونه او ... داسې نور.

او په خصوصي سندرو کې داو لسي ادب دالاندې اصناف تشریح شوي دي: غزلونه، د مرو توکسرونه، مقامونه، چاربیتې، بدلې، بګټې، لوبې، کیسې، داستانونه او مشاعرې. چې وروسته به په مفصل ډول وڅیړل شي.

# لومړی برخه

# عمومي سندرې

(هغه سندرې چې شاعر او ويونکی يې مشخص او معلوم نه وي)

## د دې برخې مطالب

دميندو سندرې ـ د ماشومانو سندرې ـ دوړو مشاعرې ـ کيسې ـ د نويانو سندرې ـ محلي سندرې ـ د اتڼ نارې ـ بابولالې ـ لنډۍ ـ فالونه سپروکي ـ منظوم متلونه ـ د هوتکو نارې ـ د کاکړو ويغاړې ـ ساندې

# دا سندرې

دا برخه د پښتو تر ټولو اشعارو او ادبیاتو پخوانۍ او لرغونې ده او ګومان کیږي هغه وخت چې پښتو د آریک له ژبې څخه بېلېده له هو له هغه وخته را په دېخوا به د پښتو عمومي سندرې رواج شوې او پښتنو ویلې وي، ځکه چې د تاریخي روایاتو او شواهدو له مخې موږ ته دا ثابته شوې چې آریایانو د واده مراسم، نورې میلې، دودونه او دستورونه درلودل چې په دې ټولو کې به یې سندرې ویلې او همدا راز پښتنو هم ځای یې ددې دودونو او مراسمو له پاره خپل اشعار په کار اچولي وي او ځای په ځای او وخت په وخت یې سندرې ویلې وي.

د پښتو په عمومي سندرو کې د خوند خبره داده چې اکثره یې د ښځو له خوا ویلې شوي نو ځکه چې د ښځې ژبه مؤثره او اغېزناکه ده همدا راز دا سندرې هم خوندورې، خوږې او لطیفې دي. په آریایي اقوامو کې ښځو له نارینه وو سره اوږه په اوږه په ټولو اجتماعي چارو کې برخه اخیسته او لوی مقام یې درلود؛ نو له دې سببه وو چې دوی د ادب په میدان کې هم له نارینه وو سره اوږه په اوږه کار کړی او حتی کله-کله تېرې او ښتې هم دي؛ په پښتنو کې اوس هم ښځه د آریایي اصولو په بنا له نارینه سره اوږه په اوږه کار کوي او په اجتماعي چارو کې ستر رول لري چې له دې سره-سره د ادب په برخه کې هم له نارینه وو څخه وروسته نه ده پاتې او ډېر خواږه او زړه وړونکي ادبیات لري.

زما په خیال په پښتنو سړیو کې شاعران یو یو دي خو ښځې ټولې شاعرانې دي ځکه د واده په مراسمو او نورو دودونو کې ښځې

ښايي په دې حال له خوښتنې سره سمې سندرې جوړې او بيا له دې چې تأمل پکې وکړي وايي يې؛ مثلا کوم وخت چې واده وي ډېرې داسې سندرې او روچې بېغې نوي او د حال په خوښتنه برابرې وي همدا راز چې کوم مړی وي نو دوی د زړه له ډېره درده د حال سره برابرې منظومې ساندې وايي او د خپل ډېر درد او دوړ تسکين پرې کوي، هغه وخت چې زه د دوی دې بالبداهه شاعرۍ ته وګورم نو په دې خبره مې يقين راشي چې خلک وايي «شعر يادغم او ياد خوښۍ په وخت کې ښه ويل کيږي» ددې دليل به داوي چې د غم يا خوښۍ په وخت کې د شعر ملکه په هر چا زوروره، له زړه سره مستقيم تماس ليږي او د زړه پټ رازونه يې کم او کاسته او بې تصنع او تکلفه را برسېره کوي.

دادې اوس د پښتو د عمومي سندرو بېل ـ بېل ډولونه تر بېلو ـ بېلو عنوانو لاندې وړاندې کوو.

((۱))

# دمېندو سندرې

پښتنې مېندې د خپلو ماشومانو په روزلو سربېره يو بل مصروفيت هم لري او هغه دا دی چې د خپل ماشوم د سن په مقتضی وخت په وخت د خپل ماشوم د کرارولو، بيدارولو، ويده کولو او په خبرو راوستلو له پاره فولکلوريکې سندرې په مخصوص آهنګ او ډول سره وايي.

د ماشوم د ويده کولو له پاره دا منظومه ـ په داسې حال کې چې ماشوم په لاس ټټوي ـ په يوه ډېر خواږه آهنګ وايي:

**اللو ـ اللو ✿ پيشو ـ پيشو مه راځه دغروه ✿ (پلانکی) جان داسې ويده دی لکه ګوډی در نجو.**

کله چې ماشوم ژاړي خصوصاً هغه وخت چې نوي ژړا ته ځان جوړوي نو مور يې د دې له پاره چې ژړا يې په خندا بدله کړي يوه سندره ور ته وايي، دا سندره په داسې حال کې وايي چې په ماشوم ور ټيټه وي، سر ور ته ښوروي او نور مخصوص اکټونه کوي او د ښي لاس ګټه ګوته يې په ډېره نرمۍ کله په پاس شونډه او کله په لاندې شونډه ږدي چې په دې ترتيب له يوې خوا ماشوم د دې اکټونو او حرکاتو ته متوجه کيږي او له بلې خوا يې شونډې تخنيږي نو د دې په ځای چې وژاړي په موسکا کيږي، سترګې غړوي او مور ته يې ګوري، چې هغه سندره دا ده:

**چه و یلي (۱) - (پلا نکی) جان چه و یلي ❁ گوډ میږی په پښه و یلي ❁ گوډ مږی دی ړوندشی نن یی بیه (۲) و یلي ❁ ادی ته یی په ژړا راغلي. (۳)**

همدا راز کوم وخت چی وغواړی له یوی خوا له ماشوم سره خپل پام غلط او له بله پلوه د خپل ماشوم ساعت ورتیر کړی نو یو لړ سندری ورته وایی، مخصوصاً کټو نه ورسره کوی او په ډیر خواږه آهنگ او وزن یی ورته اوروی، له دی منظومو څخه یو بل مهم مطلب دادی چه د ماشوم غوږ ته خبری وررورسوی او هغه له خپلی ژبی سره آشنا کړی، چی یوه نمونه یی داده:

**یو یی سپینکی مخ دی لکه یو څه د چوپان (۴) ❁ یوه یی اوږه پوزه ده که (۵) یو له د دیکان (٦) ❁ د وی یی غټی سترگی دی که گاټی د میدان ❁ د وی یی نری وروځی دی که تورکی د کوران (۷) ❁ د وی یی نری شونډی دی که مزی د گریوان ❁**

---

(۱) «چه» دورد گو په لهجه کی د «چا» اوښتی شکل دی، څرنگه چی په بله کړیه کی «پښه» ورسره په قافیه کی راغلی نو ځکه ما هم «چه» ولیکه، «و یلی» هم د «وهلی» اصطلاحی او اوښتی شکل دی. څرنگه چی دا منظومه ما دورد گو په سیمه کی یادداشت کړی نو گومان کوم چی دا منظومه به دورد گو په سیمه کی جوړه شوی هم وی ځکه چی داسی لغات پکی قافیه شوی چی په نورو لهجو کی یی قافیه کول ناموزون دی.

(۲) «بیه» هم د «بیا» اوښتی شکل دی.

(۳) میندی کلمه - کله دا منظومه په وړه او ماشومانه لهجه داسی هم ورته وایی: «چه و یلی (پلا نکی) جان چه و یلی - گد میغی په پخه و یلی - گد مغی دی نو ندشی نن یی بیه و یلی - ادی ته یی په ژلا - لاغلی».

(٤) «چوپان» که څه هم دری کلمه ده خو د منظومی د وزن له پاره استعمال شوی.

(٥) «که» د «لکه» مخفف دی.

(٦) «دیکان» د «دهقان» مغفن دی.

(۷) «کوران» د «قرآن» مغفن دی او په دی بند کی یوه دینی جذبه موجوده ده.

د پښتنو میندو یو بل مهم تلقین خپلو ماشومانو ته د پلار او نیکه تورو ستاینل او له دې کوچنیتوب څخه د دوی له توري او وسلې سره آشنا کول دي چې دې ته موږ پښتنې روزنه ویلای شو او داده نمونه یې :

**(پلانکې) جانه ښایسته ☆ ښه دې توره ښه وسله ☆ په ښایسته**
**نیلي سپره ☆ چې نیلي دې تماشې کا (۸) تور تازیان دې ور سره ☆**

هغه وخت چې ماشوم گرځاندی شي ډیر وړو ـ وړو او په ډار ـ ډار په لاره ځي نو مور یې ورته وايي :

**(پلانکې) جانه غونډه منډه ☆ دروازګۍ (۹) ته وکړه منډه ☆ په**
**ځان دې اتیات (۱۰) وکړه چې تور پیکۍ (۱۱) دې نه شي کونډه ☆**

همدا راز په همدې وخت یعنې د ماشوم د گرځاندیه په وخت کې ماشوم ته نورې سندرې هم وايي چې په هغې کې د هغه د آینده ژوند پیشگویي کوي او ورته وايي :

**زموږ (پلانکیه) خرچنده (۱۲) ☆ راشه کبا (۱۳) واغونده ☆**

---

(۸) دلته له تماشو نه مراد فوق العاده کارونه دي.

(۹) «دروازګۍ» د «دروازې» اسم تصغیر دی.

(۱۰) «اتیات» د «احتیاط» مخفف دی.

(۱۱) له «تورپیکۍ» نه دلته مطلق «ځوانه ماندینه» (ښځه) مراد ده.

(۱۲) «خرچند» په خرچهار تګ چې له پښو څخه یو مخصوص غږ خېژي.

(۱۳) «کبا» د «قبا» مخفف.

**اسپه دې کېږده وینم ✿ تا پکې جوړه وینم ✿ توره دې ترکوټ (۱۴) وینم ✿ د ناوې مخ دې پټ (۱۵) وینم ✿**

کله ـ کله ماشوم په یوه لاس و نیسي او د بل لاس په ورغوي کې یې ودروي، د کوم مطلب له پاره فال پرې اچوي او ورته وايي:

**پال چینکې (۱۶) پال واچوه ـ پال چینکې پال واچوه ✿ تر پښو بې دې پښو ندې درکړم ✿ تر لاس بې دې لاس وندې درکړم ✿ پال چینکې پال واچوه . . .**

که ماشوم خپله ښۍ پښه د لاس له ورغوي څخه پورته کړي نو مور یې خپل فال ښه بولي او د کوم کار چې په زړه کې یې نیولی وي په سر ته رسیدو باوري کیږي .

✿✿✿

کوم وخت چې ماشوم په خبرو راشي او ژبغړاند شي بیا نو د حیواناتو او ښارو یو لنډۍ ـ لنډۍ منظومې او منثورې کیسې ورته کوي چې منثورې کیسې یې د دې ټوک کار نه دي او د نیمه منظومو کیسو په برخه کې یې د ګونګټې کیسه را اخلم:

**یوه ګونګټه وه ✿ د ډولۍ تر خوا پټه وه ✿ . . . ✿ سر یې ښوی کړی و ✿ بټکی (۱۷) یې پرې وېلی و ✿ میړه ته یې زړه شوی و ✿**

---

(۱۴) ترکوټ یعني «ترخنګ» .

(۱۵) کله چې پښتانه نوې ناوې راوړي نو تر ډېره وخته مخ پټوي او دلته «د ناوې مخ دې پټ وینم» له نوې ناوې څخه استعاره ده .

(۱۶) پال چینکه یوه کوچنۍ سره ګونګټه ده چې خلک یې د لاس په ګوته کښینوي او فال پرې اچوي .

(۱۷) «بټکی» د کنډو یوه مصنوعي زغاله ده چې د هرم شکل لري ، ښځې یې په کنډولي کې سولوي او بیا سر پرې ښویوي .

شپه (۱۸) ورته ووې چې ما کړې؟ ✿ دې وې په څه شي به مې وېې؟ ✿ ده وویل په ډانګ به دې وهم ✿ دې وې ته ورک شه د ډانګ دې ورک شه ✿ بیا موږک په مخه ورغی، وې ما کړې؟ ✿ دې وې په څه شي به مې وېې؟ ✿ ده وویل په پسته لکۍ ✿ دې وویل تا جر (۱۹) شم، پسته لکۍ دې جر شم ✿ بیا گونګټه او بوته تللې وه ✿ په اوبو کې لویدلې وه ✿ وویل یې اوبوري سوره ✿ په ځنځیرک (۲۰) اسپه تړه ✿ په موږک مې سلام وایه چې بي بي گونګټه په اوبو کې ولویده ✿

**یادگیرنه:**

دا سندرې ماشوم ته د نورو کسانو له خوا هم ویلې کیږي خو څرنګه چې اکثره وخت او په عمومي توګه د مور له خوا ورته ویلې کیږي نو ځکه مو «د میندو سندرې» په نامه یادې کړې .

---

(۱۸) مراد تورې شپون دی چې د ورد ګو په لهجې کې یې «شپه» بولي .
(۱۹) «جر» دورد ګو په لهجه کې د «جار» مخفف دی او د زار او قربان په معنی استعمالیږي .
(۲۰) له ځنځیرک نه مراد زنځیر دی چې کاف د تجلیل او تحبیب له پاره پکې راغلی دی .

## ((۲))

# دماشومانو سندری

ماشومان هم هغه وخت چی لږ غونډکی او په خبرو واشی نو دوی هم یو لږ سندرې لری چی ځینی یی په مخصوصو ورځو او ځینی یی په نورو وختونو کی وایی، ددوی سندری ساده او له اولسی کږو وږو، دودونو او دستورونو څخه یی رنګ اخیستی دی.

دوی کله ـ کله په لوبو کی د خوند او چا لپیدو له پاره ځینی سندرې لری، کله د یو ساعت خندا او ساتیری له پاره کوچینۍ سندرې وایی، کله له حیوباتو او نیا تاتو سره ماشوما نه خبری کوی، کله ـ کله خپلو همځو لو ته منظوم ادبی ښکنځل چی یی له ظرافت او ساتیری بل هدف نه لری، کوی؛ همدا راز داختر دشپو او ځینو نوروور ځو له پاره مخصوصی سندرې لری.

✿ ✿ ✿

دماشومانو لوبی عموماً دوه میران لری او نور ګډون کوونکی ور آملی، داسی چی دوه ـ دوه هلکان سره جوړه او مسا وی وی، دا هره یوه جوړه بیل ـ بیل سره درېږی، په دوی دواړو کی یو تن د ښی لاس دوی ګوتی یوه ګټه ګوته او بله منځوه نیسی، نوری ګوتی نغاړی، یوه لنډه وی او بله ډېره اوږده وی، نو خپل ملګری ته وایی چی: **کومه نیسی؟**

هغه خوښمن دی که لنده نیسی او که وچه، دګوتی له نیولو وروسته د و اړه میرا نوته راځی، هغه نفر، چی ګوتی یی نیولی وی یوه میر ته وایی: «لادی پړی» (۱) هغه ورته وایی: «دوه‌دی رخړی» (۲) بیادوهم میرته وایی: «کومه نیسی؟» یعنی کومه ګوته خوښوی، هغه که ووایی « لنده » نود لندې ګوتې څښتن‌ورته و وا یی: «درغلم په بنده» (۳) او که هغه ووایی: «وچه» نودوچی څښتن ورته ووایی: «درغلم په پچه» ددی سوالو اوځوابو له یو ځای کولو څخه یو لنډ منظومی جمله جوړیږی اوپه دی ډول:

لادی پړی✿دوه دی رخړ ی
څو نیسی ؟و چه✿درغلم په پچه
څو نیسی ؟لنده✿درغلم په بند ه

ماشومان یوه بله لوبه هم لری چی په‌هغی کی به څوك خبری نه کوی او که ویی کړی نوسزایی داده :

ګړ ی - ګړ ی جوپ✿ یوه لغته یو سوك

کوم وخت چی په‌شنه اسمان‌وریږی نوماشومان وایی :

په‌شنه‌اسمان وریږی ✿ دګیدړی لوروډیږی

کوم وخت چی باران اوری نوداسی وایی :

اوری باران‌اوری✿چندك‌په‌پوله‌ناست‌دی دمستو بدلی‌بولی .

---

(۱-۳) څرنګه چی‌دامنظومی ډیری پخوا نی د ی نو ځکه یی اکثره کلمی مهملی او بی معنی دی خوښایی چی په ابتداکی به‌یی معنی لر له او اوس به مسخه شوی او مهملی شوی وی لکه په دی منظو مه کې چی د«لادی پړی، دوه‌دی رخړی‌او بنده» کلمی‌اوجملی مهملی دی .

د ماشومانو په لوبو کې د اکو بکو لوبه هم ډېره خوندوره ده او ماشومان خپل دواړه لاسونه په مځکه ږدي ، بيا يو تن د اکو بکو جملې کلمه – کلمه وايي او له هرې کلمې سره خپله ګوته د يوه تن په لاس ږدي او د هر چا په لاس چې سندره خلاصه شي بيا نو هغه له مځکې لاس پورته کوي او لوبه تر پايه پورې په همدې **ډول** جاري وي :

**١- اکو بکو – د نبالکو – سر سيندکو – غواوې ولاړې په تر پکو .**
**٢- سويه – مويه په تبۍ – ازاو يشت په لکڼۍ – چاو يل چړ زګه**
**مرغۍ ولاړه تر اسمانه تر ګلۍ .**
**٣- د خره وږد داس لو زنګ – څو نۍ تر ښنګ .**
**٤- اټه – بټه – د ګيډړې لم په خټه .**
**٥- آر بار – دومره غار – چې پرې ننووت ښامار .** (٤)

واړه ماشومان چې په يوه څرخکه تاويږي دې ته ګرګيږ ولي وايي او ماشوم په دې حال کې له ځانه سره دا سندره تکراروي :

**ګر ګرې ولې ✡ موردې بولي**

هغه وخت چې له خپلو همځولو سره ډېرې لوبې وکړي نو چې پرې ماښام شي داسې وايي :

**ځۍ چې ځو کورو ته – مرغۍ ولاړې چولو ته**

---

(٤) په دې منظومه کې هم يو لړ مهمل کلمات راغلي دي خو څرنګه چې ماشومان د کلمو په معنى پسې دومره سر نه خو ږدي او يوازې د لفظي پيوند له پاره ځينې مهملات هم يکي وايي .

همدا راز د اکو بکو يو بل شکل داسې هم شته « اکو – بکو د نبالکو ✡ غواوې ولاړې د سيکو ✡ يوملوك ؤيو ننداں ✡ غيشې ولې په ميدان ✡ ميدان يې داسې رونې کړ لکه ستورې د آسمان ✡ دخرې زنې اس لونګ ✡ شرنګ ✡ مرغيانې ولاړې په پړ بنګ » چې په دې ډول کې يې يوه پښتنې روحيه هم موجوده ده .

ماشومان کله ـ کله له غيتو حپو باتو سره هم خبري کوي او په يوه موزون آهنګ وايي :

غنمه ✿ خبري د ي منه

جواره ✿ زه دي جر شم ژ ړه داره
باقليه ✿ زه دي جر شم سل پليه
نسکه ✿ خبري دي در بس که
وربشي ✿ خبري دي د ي خوشي

کوم وخت چي دوه ماشومان جنګ سره کوي نو دريم کي ي ورته وايي :

ګابش په ګابش ✿ دخواجه په پر توغابش (٥)

ماشومان دعاشوري په ورځ وايي :

تي انا ✿ توتي انا ✿ شربت په کټوري انا

دبرات په شپه ديوالي مراسمو په ترځ کي وايي :

شا-شاي برات ✿ دکونډي لغوات ✿ درسول زوي يي کړ خيرات ✿ په (پلاني ځاي) کي نه ونډي شته نه خيرات .

داختر په شپه هلکان په خپل کلي کي کور په کور ګرځي ـ دسدري په نامه او پړه او نور څه تري راټولوي او ورته وايي :

آمين ✿ سدره راوړي ع ددين

ار ګوړي - بر ګوړي ✿ خداي دي دومره زوي درکړي چي په غولي در ته بنوري .

---

(٥) په دي جمله کي يوه اسلامي او پښتني عنعنه پرته ده او هغه داچي دوه کسان سره خپه او خوابدي وي نو بيايي روحا نيون ، سيدان او خواجګان سره په خولا کوي او ترمنځ يي ګرځي .

د ځېرې (صفرالمظفر) دمیاشتې دوتو په مناسبت وايي .

نیکی راغله بدې ولاړه ✿ ځېره «٦» ولاړه بلا ولاړه

ماشومان د پېشو سره هم کلمه - کلمه خبرې کوي او ورته وايي :

پشی - پشی مو بړك نیسه ✿ له ستو نی نه یې کلك نیسه
بیگا ته به خمیره در کړم ✿ کوران که به گوله در کړم

دا وبش او څو نگښې منظومه یا لوك یې څومره خوند ور او ښادی :

څو نګښه : او کبږه دبږه ✿ پیغله نجل دی لا ندې کړه

اوبش : او چیشتی پیشتی ✿ ته چا لیدی دشپی

دا هم یوه کومیډي سندره ده چې یوه ماشوم خپلې چرگې ته ویلې :

تردې سر وستر گو دې جار شم تر دې لکه لکړیه
په سیالانو کې دې سیال کړم زما بر گې چر گوټیه

او دا ده په دې لړ کې دماشومانو یوه بله منظومه :

زما لنډ یه چر گه چې سهار به دې ناری کړي ✿ ته چاذری
ذری کړی ✿ ما په ژړا ستر گې در پسې سري کړي .

دماشومانو نوری منظومی هم ډېری زیاتی دی خو عجالةً ما
وکولای شوه چې پورتنی څو نمونی وړاندی کړم .

---

(٦) ځېره دصفري مغفن او اصطلاحي شکل دی او څرنګه چې صفره
په خلکو کې یوه کږ لی میاشت ده او د بلاوو میاشت یې بولی نو ځکه دا
سند ره ویله شوې ده .

## ((۲))

# دوړو مشاعرې

واړه د خپلو نورو ادبیاتو په اړه کې یو ډول مشاعرې هم لري، دا مشاعرې داسې دي چې یو ډول نظمونه دوړو په سویه برابر موجود دي، یو تن دیوه بیت سر وایي او له بل تن نه یې دوهمه مسرې غواړي چې دا یوه په زړه پورې ذهني مسابقه او د شعر سره ددوی علاقه ښلای شو، دا شعرونه ډېر ساده او له محیطي اجزاؤ څخه تشکیل شوي دي.
د نمونې په توګه: یو تن وایي: «دیو تر ډ زلوه» بل یې باید دوهمه مسرې ووایي چې داسې ده: «درویې روپۍ ګنډوه» دی ر از مشاعر وا اوس په ځینو ځایو کې اصولي او فني شکل غوره کړی. لوی-لوی کسان سره کښېني او د لویانو شعرونه وایي چې دا ډول مشاعرې شعر جنګي بولي؛ خیر موږ له دې سره څه کار نه لرو او غواړو چې دوړو د مشاعرو شعرونه چې لومړی بیت یې دیوه له خوا او دوهم یې د بل تن له خوا ویل کېږي دلته ولیکو:

**دیو(۱) تر ډ زلوه درویې (۲) روپۍ ګنډوه**

---

(۱) «دیو» د پښتنو فولکلور هغه موهومي او خیالي څېره ده چې یو لوی هیکل، لویه تنه او ډاروونکی شکل لري؛ همدا سبب دی چې کومه مور یا بل څوك وغواړي خپل ماشوم له ژړا څخه په کرار کړي نو په همدې موهومي دیو یې ډاروي، چې په دې توګه موږ له دیو سره له ډېر کوچنیتوب په په داسې ډول اشنا کېږو چې حتی په لویوالي کې یې هم له وجود څخه انکار نه شو کولای.

(۲) روېې یا بلا هم د پښتنو فولکلور یو خیالي او موهومي موجود دی چې د خلکو په عقیده د شپې پیدا کېږي او سړي ویروي.

دیو تر تا خڅې — اوندو (۳) ګز کړی سری لچې
د یو تر غزنی — ووړکی پروت دی بی سزنی
دیو تر اوړی (۴) — اوبش پروت دی بې موړی
دیو تر کابله — د کابل دروازه بله
دغره په سر زغری — پکې پروت دی زمری
دغره په سر موریه — پکې پرو ته سپینه وریه
دغره په سر دړه — پری وخته ګیدړه
دغره په سر تنور — تری راوخوت الانور

---

(۳) اوندو د هندو اوښتی شکل دی او څرنګه چې له پښې یو - پښې یو را هیسې د هیواد د تجارت لویه برخه خصوصاً د رختو اردول او خرڅول د هندوانو په لاس دی نو دا مسریه له همدی حقیقت څخه رنګ اخلی.

(٤) لوړه یو کلمی دی چه د لام په پېښ، په مجهول واو او ددې په زور سره ادا کیږی.

# ((٤))

# کیسې

کیسې چې په دري کې یې چیستان بولي او ځینې خلک ټکونه او اړونه هم ورته وايي، د پښتنو ماشومانو یوه فوق العاده سرګرمي ده، کوم وخت چې ماشومان د ژمي په اوږدو شپو یا د وروو نورو شپو کې سره یو ځای شي نو د اشپې په کیسو لنډوي او خپل سات پرې تېروي، دا هم یوه ډېره فرق العاده مفیده او ګټوره ذهني مسابقه ده.

کیسې عموماً دوه ډوله دي؛ یو ډول یې منظومې او بل ډول یې منثورې دي چې موږ یې دلته یوازې د منظومو کیسو په شا او خوا کې خبرې نه کوو.

د کیسو ترتیب داسې دی چې ځینې شرطونه او قیدونه ترمنځ کېږدي بیا نو په کیسو شروع کوي یو تن کیسه وايي او ځواب یې غواړي بل تن به ځواب وايي ا"، که ځواب یې ونه وایه نو احسا بېږي او بیا به هغه پوښتنه کوي که ده هم ځواب ونه وایه نو د تیر ځواب نه ویل مجرا خوري، دا مسابقه ډېرو کسانو ترمنځ هم کېږي، په ټولو نه ویلو ځوابو نه حسابېږي، په آخره کې چې شمېر وشي نو هر چا چې لږ ځوابونه ویلي وي هغه به له مخکېنی شروطو او قیودو سره سم تاوان ګالي.

دا دی یو لړ منظومې کیسې له مسلسلې شمارې سره لیکلې کېږي او بیا یې وروسته په همدې ترتیب ځوابونه وړاندې کوو:

١) پر یو ته تیر غوندی ✿ وا لو ته کجیر غوندی .

۲) کو لپ یی کړه کو نجی یی کړه ✿ دغره په سر یی کیږده را گرځوی یی کړه .

۳) چی نیمې شپې شی ټول ټ زنگ وهی ټولونه ✿ یوه یی بوځه خو له ده ، ځلور یی بوخ غوږونه .

۴) چر گه ده با بر گه ده ✿ ځلور یې کو نتی دی یوه یې ستر گه ده .

۵) سوردی سندوخک دی ✿ دسر وغمیو ډک دی .

٦) لښته ده زر لښته ده ✿ نه ما تیږی سخته ده .

۷) نه گر ځی نه خوراک کړی بندیا دم ور ته وا یه شی ✿ نې بلې خوا ته تله شی .

۸) د پا سه را غلل دوه سیندونه ✿ ور ته یی و نیول پنځه بیلونه .

۹) د پا سه را غله سره سو یه ✿ په و ینو کی پخه سو یه ✿ کی (که یی) خورمه کافر کیږم ✿ کی نه خورم وږی کیږم .

۱۰) وچ کلک ✿ د کو لمو ډک .

۱۱) سل خولی لری ✿ نه گیډه نه کو لمی لری .

۱۲) دوه ومه په دری شومه ✿ لری وم را نژدی شومه .

۱۳) په سپین کی تور دی ✿ په تور کی نور دی ✿ سر پری سپور دی .

۱۴) نه یی پښی شته نه لاسونه ✿ یکا مان وهی ټوپونه .

۱۵) پښی یی په اسمان کی سر یی اپښی په دریاب کی ✿ غوږ زنگ وهی شتاب کی .

۱٦) نی سا شته ، نی صورت شته خو یا دیږی په مثال کې ✿ او سیږې په دیوال کې .

۱۷) ورمې کړه په لاس کې تا ننوېست د ننه ✿ کفن دې ترېنه واخیست دې دې پرېښود بې کفنه.

۱۸) نه تېغ ده، نه چاړه ده، خامه غوښه ده تېزې لري ✿ ښه تېره اغزي لري.

۱۹) هېڅ نه وي دور ځي چې شپه راشي راپیدا شي ✿ هر چا ته په خندا شي.

۲۰) وزرې د مارغه سرې د پیل د ر زنګه تور دی ✿ کچکول وربا ندې سپور دی.

۲۱) شپږ یې پښې ګېډې لکه ملا کې لري ✿ دوه یې د پښې ژوندون هوا کې لري.

۲۲) اسمان لاندې اسمان باندې ✿ اسمان پښې خوځوي وړاندې

۲۳) جنت لري، دوزخ لري بې شا نه دده زور دی ✿ د ریاب په بېړۍ سپور دی.

۲۴) د ننه په کښتۍ کې د دریاب له شرا و شوره ✿ د نیا شوله سمسوره.

۲۵) بر پښې کمکلې دی ✿ پوسر یې سوری دی ✿ بل سر یې نری دی ✿ جوړوونکی د کالي دی ✿ ملګری یې سپڼسی دی ✿ ووایه کوم شی دی؟

ځوابونه یې دا دي:

۱- واوره ۲- د بوتیو ځه ۳- غړک ۴- کلا ۵- انار ۶- اوبه ۷- د بنیادم عکس ۸- پوزه ده چې لاس ور ته نیسې ۹- روژه ۱۰- کټ ۱۱- غلبېل ۱۲- سپین بیری ۱۳- سترګې او کسې ۱۴- توپ (پنډوس) ۱۵- منداڼو ۱۶- د اواز غبرګون (انعکاس) ۱۷- ستن او تار ۱۸- ژبه ۱۹- ډیوه ۲۰- ګونګټه ۲۱- تله ۲۲- ژرنده ۲۳- قرآن او رېل ۲۴- د قرآن کریم حروف په وقایه کې ۲۵- ستن.

## ((٥))

# دلويانو سندرې

لکه څرنګه چې ماشومان یو لړ مخصوصې سندرې د مخصوصو وختونو له پاره لري، همدارنګه لویان هم یو لړ سندرې لري چې سړي او ښځې یې په مختلفو وختونو کې د مخصوصو مراسمو یا ټوکو کې له پاره وایي .

د دې راز سندرو شمېر ډېر زیات دی چې دادی زه یې یوه سلسله لاس ته راغلې سندرې دلته لیکم :

کوم شېرداد نومې چې په ټولو اتڼونو کې به یې ګډون کاوه او بیا به د اتڼ والو مکلفه ډوډۍ ورکوله نو یوه چا دده د ښه اتڼ کولو له پاره دا سندره د ټوکې په توګه ورته ویلې ده :

اتڼ وهه شېرداده        نن بیا د چرګ ښوروا ده
د چرګ نه ده دوزی ده        پخ کړې ګلمد ستی ده

یا هغه وخت چې ښځې زیارت ته ورځي نو ځینې پېغلې او ناوې سندرې وایي او خلک ورته «تبرك» (نغند) ورویشي، ځینې پېغلې د ټوکو له پاره دا سندره وایي :

**او زیارته ـ دوزیارته ✿ درمې وهل او وهه زیارته ✿**
**غوا لهم ښه میره زیا رته .**

یاکومه نوې ناوې چې د اولاد تمه نه لري د ټوکې په ډول وايي:

**او زیارته ـ دوز یارته ✿ درمې وړل غنم زیارته ✿**
**غواړم بنه زمن زیارته .**

کوم وخت چې ځینې فقیران اوړه ټولوي او کور په کور ګرځي نو یو لړ سندرې وايي او د کور له خلکو څخه اوړه غواړي؛ یوه نمونه یې داده:

**بي بي و لاړه په دربي ✿ ماوی اوښ رابا روی ✿**
**اوښ یې رابا رنه کړ ✿ نیمنۍ اوړه راوړي .**

کله چې کوم سپین ږیری ماشومانو ته نکل اچوي نو د دې له پاره چې د ماشومانو توجه یې راجلب کړي وي د نکل ته مخکښې یو لړ منظوم کلمات ورته وايي چې ماشومان ټول ورته متوجه کیږي او په اوسني اصطلاح دې ته د فولکلوري نکلو نو «سیګنال» ویلای شو، نو د اسیګنال چې په کم او زیات توپیر ټول نکلو نو په سر کې ویل کیږي داده:

**کړه وو د خدای کړه وو ✿ د بنده ور ته کاته وو ✿ جنګ**
**په غونډۍ ؤ ✿ شریت (شریعت) د بوډۍ ؤ ✿ لاس په بوډۍ ؤ . . .**

یا کله ـ کله کومه ځینې د یخنۍ په وخت کې د ټوکې په توګه وايي:

**یخ مې شي ساړه مې شي ✿ د ومره سړی نشته چې میړه مې شي**

کوم وخت چې باران نه اوریږي نو د کلي خلک سره راټولیږي، خیر اتونه کوي او د دې د پاره چې د خیرات د ضرورت وړ شیان له ټول کلي څخه راټول کړي نو داوړو، پیسو او نورو د راټولو له پاره څو تنه ټاکي، دې خلکو ته یوه کومیټه بنه هم ور کوي او هغه دا چې یوه ته ساختګي سپینه ږیره جوړه کړي او مخصوصې جامې ور واغوندي، لکڼه په لاس کې ور کړي «لولاړ نګه» یا «لاړو لړ نګه» نوم پرې کیږدي او دا سندرې وايي:

لولاه لکه څه غواړې ✿ د آسمان توری او به غواړې ✿
د مځکې شنه وابنه غواړې ✿ اوره باران اوره...

دځینی نورو مشترکو خبراتو نو له پاره وسندری په نامه
قولندره کوی او داسی وایی :

سدره مدره غټ پسه حلال کړه کوچنی پریږده ✿ هر سړی
چې خیرات کیږدی بیا یې پریږدی ✿ تاه ترین دوزخ دی
ځای شی.

ځینی ښځی وایی.

غږدی آنه کاردی ✿ زوړ میړه په کاردی ✿ ځوان میړه
نا تاردی.

## ((٦))

# محلي پارچې

په خلکو کې یو لړ منظومې محلي پارچې شته چې د ښادیو په ورځو او نورو ختو کې یې ښځې له ډنګ ډکو سره وایي او مجلس پرې تودوي؛ دا پارچې په عمومي توګه دري ډوله دي: یو ډول یې تمثیلي بل ډول یې د کورس په شکل او دریم ډول یې عادي پارچې دي؛ چې وروسته ټولې بېلې-بېلې څېړو او دا هم باید ووایو چې دا پارچې د پښتني فولکلور یوه ډېره خوندوره او ښایسته برخه ده.

## تمثیلي پارچې :

دا له هغو پارچو څخه عبارت دي چې د ساز په ملتیا د دوو یا ډېرو ښځو او نرو له خوا د ډیالوګ په ډول تمثیلیږي او د خوښیو او ښادیو مجلسونه پرې تودوي.

په دې لړ کې یوه هم د «سوداګر» محلي تمثیلي پارچه ده چې د یوه هلک او نورو ښځو له خوا تمثیلیږي، په دې پارچه کې هغه ښځه چې له سوداګر سره خبرې کوي مخصوصه نڅا هم کوي او له ځواب ورکولو څخه وروسته مخصوص څرخونه خوري؛ دا پارچه یوازې د سودا د نامه په بدلولو سره کولای شي چې حتی یو ساعت هم دوام وکړي او دا ده نوموړې پارچه :

(گەی بنگی:) راغی سوداگر سودایی وکڕه له ایلاسره
یولونگ ییورکڕخوله ییورکڕه له خندا سره

(سوداگر:) سو داده سودا!
(یو بنگه:) څه شی دی راوړی؟
(سوداگر:) (مثلا) زر تار!
(بنگه:) وله خردی وله خردی ورکشه له سودا سره

بله مشهوره پارچه د «نری ملا» په نامه ده، دا پارچه ددوو بنگو

له خوا تمثیلیږی چی یوه تنه ناسته وی دریا وهی او بله بنگه له اواز ویلو څخه وروسته مخصوصه نڅا کوی، پا رچه د نڅید و نکی بنگی له خو اشروع کیږی او سره وایی:

نری ملامی خوږیږی نه جوړیږی!
راشه خوری راشه- پلانکی به درویده کړم که جوړیږی؟
نی کړم خوری نی کړم هغه گوډدی پری شرمیږم ✿
نری ملامی خوږیږی نه جوړیږی!

دا پارچه ترهغه دوام کوی څوچی ددواړو زړه وی محکه یوازی دخلکو دتوموتو په بدلولو اددوهمی له خوا په هغوی کی دعیب په پیداکولو سره دا پارچه دوام موهی.

✿ ✿ ✿

د «بنگو لیوی» پارچه هم د دی لپاره یوه کړیه ده چی داسی تمثیلیږی:

بنگو لیوی(۱) لوردی غوارم ✿ بنگو لیوی لوردی غواړم
بنگو لیوی نی (۲) درکوم ✿ بنگو لیوی زوم څگن دی.
بنگولی تو به څنگلی.

دا پارچه هم په زوم کی دعیب په پیداکولو سره ترډیره دوام موهی.

---

(۱) «بنگو لیوی» د «بنگو لیونی» مخفف دی.
(۲) «نی» د «نه یی» مخفف دی.

دیوه مین او میني لاندیني سوالونه او ځوابونه هم په دې سلسله کې ګڼل کیږي:

-سور سالو در ټول کړه اجلی اوررا لګوینه
-خدای که بی را ټول کړم مګر اور واخلی ملکو نه
-خدای یا بی در ټول کړي یا به اورور واچومه... (۳)

د تمثیلي پارچو په لړ کې د تارو پارچه هم ده:

-: تارو مړ دی که ژوندی؟
-: نه مړ دی نه ژوندی - په کولمو یې درد دی ... (۴)

✿ ✿ ✿

۴- هغه پارچې چه د کورس په ډول ویلې کیږي:

په دې پارچو کې ډېرې ښځې ګډون کوي، په دې لړ کې دا کومیډي پارچه چې په ډېر تراژیدي ډول تمثیلیږي دلته راوړو:

مـا بـو ري نـا نـګـه خـو ږه ل ✿ ز ا مـن مـی
ـلا و خـو ږه ل ✿ هـی هـی آ جـی ډو مـبـك.
ما بوری ګزرر او ږی ✿ دوی د خاورو ډك
خو ږ لی ✿ هـی هی آ جی ډومبك.

که څه هم تراژیدي او کومیډي صحنې یو ځای کیدل مشکل کار دی، خو په دې پارچه کې داسې سره ګډې شوي چې یوازې هغه څوك یې خوند څکلای شي چې د دې تمثیلي پارچې لیدونکی وي. دا پارچه یوه ښځه په ژړغوني لهجه وایي او «هی هی آ جی ډو مبك» ته چې راورسیږي نو بیا نورې ښځې هم ورسره ملې شي، ټولې سره ونه ټکوي او په یوه غږ وایي: «هی هی آجی ډومبك»

* * *

(۳) د دې پارچې نور بیتونه لاس ته را نغلل

(٤) دا پارچه په بشپړه توګه لاس ته را نغله.

## ۳ـ عادي پارچې:

دعادي پارچو په لړ کې د نارنج سندره ليکو:

د نارنج وړې غوټۍ بلې ✿ تر ې لاندې ناستې ملا خېلې
ځنيو رې ✿ بلې لښته د نارنج.

د نارنج وړې غوټۍ بلې ✿ نجونو را ځي ډکه تر نارنج
لاندې کښېنيه بلې لښته د نارنج.

د «نواب» او د «شاشي» پارچې هم په دې لړ کې شمېر لى کېږي چې
د دوو و تلو اشخاصو په ياد پکښې راغلي دي:

نواب يې مړ کړ په ځنګله کې ـ نوابه ✿ وينه يې را غلي
په راده کې ـ نوابه ګل.

د نواب سترګې غټې ـ غټې ـ نوابه ✿ په هر ميدان يې اړوي
لکه سکروټې ـ نوابه ګل.

نواب وې پټ مې تير و يه ـ نوابه ✿ د لته مې خورده ورونه
مه را خبرو يه ـ نوابه ګل

د نواب خان زيارت په لوړ باديو هينه ـ نوابه ګل (٥)

د (شاشي) سندره داده:

شاشي ويل چې ما به کړې وو وارونه ـ شاشي ✿ خودې
جنګي مو ټر وو کړل پساتونه ـ شاشي.

شاشي ويل چې ما به کړې وو وارو نه ـ شاشي ✿
خود کلا بر جو ته نه خيږي توپونه ـ شاشي (٦)

---

(٥) د نواب خان پارچه هم نيمګړې ده.

(٦) د شاشي د پارچې د نورو بيتو په لاس ته را تللو بريا لى نه شوم.

## ((۷))

# ډاتڼ ناري

داتڼ ناري هغه ناري دي چې خاصې داتڼ په وخت کې ويلې کيږي، دا ناري اکثره دښځو له خواجوړې شوي دي، سره له دې هم بيا هيڅ نه داتڼ ناري مشترکې دي چې نراوښځې يې په اتڼ کې ويلای شي او هيڅ نه داتڼ ناري دښځو مخصوصې دي چې سړي يې په خپل اتڼ کې نه شي ويلای، دا هم بايد ووايو چې د نرواوښځو مشترکې ناري بيا هم ښځې په بيل وزن او سړي په بيل وزن سره وايي چې ناري يې يو شي او دويلو آهنګ يې سره بيل دی.

## د اتڼ د نارو پيدا ښت او منبع :

که څه هم داتڼ د نارو د پيدا کيدو نيټه او منبع نه دي معلوم، خو څرنګه چې په پښتنو کې ښادي او اتڼونه له ابتدا او قبل الاسلام څخه موجود او له آريايي دورې څخه په ميراث را پاتې دي، نوممکن چې هغه وخت به يې هم داتڼ ناري اويا داتڼ مخصوصې سندرې درلودې، خو د اتڼ موجودې او لاس ته راغلې ناري داسلامي دورې دي او دمخکينيو وختو کومه ناره په لاس کې نشته، نو په دې سبب ويلای شو چې داتڼ ناري د پښتو په اولسي سندرو کې د قدامت څښتنې او د پښتو د دې سندرو ستره برخه بللې کيږي.

د اتڼ د نار و له ژورې کتنې څخه داسې معلومېږي چې د اتڼ دا موجوده لاس ته راغلې نارې او مېږې محلي په کندهار او شا او خوا ځايونو کې يې ويلې شوي او بيا وروسته نورو ځايونو ته نقل شوي دي؛ په دې لړ کې ډېرې داسې نارې موجودې دي چې دا استنباط ترې کېداى شي چې يوه نمونه يې داده :

امرت په ونه توره کند هاره
زلفې مې اوږدې شوې    اوږدې زلفې به څو گرځم بې ياره

• • •

## د اتڼ د نارو ويش او ويونکي :

لکه مخکې مو هم اشاره ورته وکړه چې د اتڼ نارې هم سړي او هم ښځې وايي. دلته به لومړى د نارينه وو د اتڼ نارې پر ډول، ډول او بېل بېل وزن د اتڼ چيانو له حرکاتو سره سمې وښودل شي، لکه: د وړو اتڼ يو اړخه اتڼ، دوه اړخه اتڼ، درست اتڼ، دايښلي اتڼ، د ناستې اتڼ، د پروتې دوه اړخه اتڼ، چپه او راسته اتڼ او ملي اتڼ؛ دلته هر ډول اتڼ له حرکاتو سره سم د اتڼ ناره له خپل وزن څخه اړوي او پر نوي وزن ويله کېږي، د ټولو نمونې خو دلته نه ځايېږي خو صرف د مثال په توگه يو څو نمونې ښودل غواړو لکه :

«کلاته چې په سر (واى) کلاته چې په سر (هاى) سر دې
پاليزونه ✿ د تورو پاليز لا بش شو ـ د مستې پاليز اوس (هاى)
اوس کوي گلونه ـ گلونه»

په دې پورتنۍ ناره کې يوازې د «واى، هاى، هاى» کلمې زياتې شوې دي او د دواړو مسريو وروستۍ برخې مکررې ويلې کېږي .

لاندنۍ ناره د وړو اتڼ تر نارې لږه اوږده، په منځ کې «هو» لري او په داسې ډول ويله کېږي :

«مستانې لونگې غوټه ـ مستانې لونگې غوټه، غوټه پر سر
کښېږده، سر کښېږده ✿ راځه په اتڼ کېوزه! مستانې دد نيا
(يا) کاروانه پرېږده «هو» پرېږده».

دا بله ناره ده چه اتڼ د هر کاتو او گرځيد و سره همه چا بکه-
چا بکه و یله کیږی، ځینی دی ناری ته دامرجع هم وراچوی :

«هو محبوبا هو څلور دي خاله ، هو مستی
مستی محبوبا، هو شا هی گل راوړه هو مستی»

او داسی وراچوله کیږی:

«مستانی لونگی غوټه - مستانی لونگی غو - غوټه پر سر کیږده
هو مستی محبوبا، هو څلور دی خاله - هو مستی ✿ راځه په اتڼ
کیوزه، مستانی د دنیا، یا، کاروانه پر یږده، هو مستی - مستی
محبوبا، هو شاهی گل راوړه، هو مستی»

په همدی ډول نور وزنونه او آهنگونه هم د اتڼ د هر کاتو سره سم لری.

* * *

ښځی هم همدغه د اتڼ ناری کوی او لکه مخکی مو هم وویل چی په بیل وزن او د خپل اتڼ له هر کاتو سره یی سمی په گډه وایی، د ښځو اتڼ عموماً دا دوه ډوله دی:

وړو اتڼ او گډ اتڼ، په وړو اتڼ کی لومړی خپلی مخصوصی د اتڼ ناری وایی او په گډ اتڼ کی همدغه د نرو او ښځو مشترکی ناری په بیل - بیل وزن سره وایی چی د «الاوا، الاوای» او نوری کلمی وراچولی کیږی لکه په دی نمونه کی:

(الاوا) مستانی لونگی غوټه - مستانی لونگی غوټه
پر سر کیږده ✿ (الاوای) راځه په اتڼ کیوزه، مستانی د دنیا
کاروانه پر یږده»

همغه ناری چی د ښځو د اتڼ مخصوصی دی او لومړی یی په خپل اتڼ کی وایی

هغه دا دي چې يو مرجع او کسر وو ايي، بيا لنډۍ وايي او بيا مرجع وايي لکه دا:

«لو نګينه! پر خنګ راولوړه چې دې شرنګ د بنګړو شينه
لو نګينه! پر ثنګ ـ ثنګ راولوړه ✿ خال به د يار په وينو
کېږدم، لو نګينه! پر خنګ ـ ثنګ راولوړه، چې شينکي باغ
کې ګل ګلاب وشرموينه، لو نګيه! پر خنګ ـ ثنګ راولوړه
چې دې شرنګ د بنګړو شينه، لو نګيه! پر ثنګ ـ ثنګ
راولوړه»

په دغه پورتنيو نارو کې لومړۍ د لنډۍ لومړۍ مسره، ودمرجع لومړۍ مسره سره وايي بيا د لنډۍ وروستۍ مسره او دمرجع لومړۍ مسره ويلې کېږي، وروسته د مرجع لومړۍ او وروستۍ مسره يو ځای سره وايي او بيا لنډۍ په بيا ـ بيا وايي (دا پورتنۍ نمونه که څه هم په اتڼ کې ويله کېږي خو په اصل کې نيمګړې ده چې وروسته ځانته ځېږله کېږي، دلته د دې دپاره چې په اتڼ کې ويله کېږي وليکله شوه) همدارنګه ځينې ښځې د اتڼ دمخصوصو نارو په عوض کې لنډۍ هم وايي چې يوه مرجع لري لکه دا:

«خال به د يار د وينو کېږدم (ای هم) ✿ چې شينکي باغ کې
ګل ګلاب وشرموينه (ای هم)».

دا هم د اتڼ ناري بولي، مګر د اتڼ مخصوصې ناري همدا دي چې لاندې په يې نمونې وګورئ:

بابکه په څه نازدې لويولم
دژړ يو اور دې بل کړ بابکه پر لمبو دې کړولم (۱)

---

(۱) څرنګه چې په پښتنو کې متأسفانه پلارونه خپلې لورنې بې ددوی له خوښې چې په هر ځای کې يې زړه ؤ ودوي او ددوی خوښې ته خو څه حتی ددوی د آينده غم هم ورسره نه وي؛ په پورتنۍ ناره کې يوه پښتنه ميرمن خپل پلار ته د خپل تاريك ژوند په باب د ګيلې په توګه د دې محروميت يادونه کوي او خپله د زړه غوټه پرې خلاصوي.

پروسږ کال لا ښه وو　　لالیه ترشا توت لاندې میشته وو
دخدای فضل که نه وای　　لالیه! سږ به دوالړ سره مړه وو

تر خو به د غرمې تنور تودیږي
لیلا ورته ولاړه　　ترمخ یې رنګارنګ خولې بهیږي

په غاړه دې ستمبول دی　　پیکې دې الوالي لور په لور دي
تمامه شپه یاري کړي　　سهار په کلي ګرځي، زماورور دي

تر پاڼ لاندې مې سترګې تورولي
چې پاڼ راباندې راغې　　منګولې مې په یار ولګولي

تر دې تجلۍ مکاره بله نشته
درود په هغه غاړه　　استونۍ ښوروي لاس پکې نشته

چټۍ چې په ښودې کړي چوټۍ
ځوانان دې لیوني کړه　　زاړه خواران دي وایستل له کټۍ

داپورې په دامان توره کیږدیه
کیږدې، مې اوبو یوړه　　دژمې شپې به چیرې تیروه

داپورې وورې کلي مې دیاري
یار مې پکې نشته　　زړګي مې په ګوګل کې ناکرار دی

خو له دې دغاټول تر ګل نازکه
وماته دې رانه کړه
آخر بې (به یې) یاچینجیان وخوري یامځکه

دوې دې نجوني دوې دي
داتڼ ناري کوي سره ترلې دي
دیوې دخیال کمیس دی
دبلې زرغوني په ښوجستي دي

راځئ! چه نن د کونډې میلمانه شو
د کونډې یوه لور ده

لا لیه! په دیدن بی ماړه نه شو
په خوړکی یو فقیر دی چاوژلی
د توری وار پری نشته

زړګی یی په لیلا پسی چاودلی
لوی ټکک دی دزاړه په زړګی وشی
چی پیغله نجلۍ غواړی
په کور (یی) دی دمردکو باران وشی

- مرم چکنه مرمه        داستا ارمان به خاور وړه ووړمه
- ولی به یی وړمه        چکن په بازار ډیر دی رابی وړمه

هلکه چی پوچی مرغومی پیا یی
ما به خو لګی درکړی
هلکه ته نادان یی کور به وایی

یو وار کړه سررا ښکته دا تڼه
یو سات به سره کښینو
دنیا کی ښادی چیری ده بې غمه

هلکه ستن می ورکه ده نریه
که دا واری پیدا شوه
خالو نه پری وهم د آشنا ییه

# ((۸))

# بابو لالي

بابولالي هغو مخصوصو اولسي سندروته وايي چې د ښځو له خوا جوړې شوي او بيا د همدوي له خوا مخصوص دوا ده دوړځو په مختلفو وختو کې وېلې کيږي.

## د بابولالو پيدايښت او منبع:

د بابولالو د پيدا کيدو وخت يقيني نه دی ښکاره، خو دا سې برېښي چې خورا لر غوني سندرې دي او پښتنو د خپلو دوا و ښادېو په وخت کې ويلې او وايي يې.

همدا رنګه د دې سندرو له ژورې کتنې څخه دا را ښکاري چې بابولالي به هم لکه لنډۍ او داتن نارې غوندې لومړۍ په کندهار او شا او خوا کې يې ويلې شوي او بيا وروسته به يې په په نورو پښتنو کې رواج موندلی وي.

بابولالي په اولسي سندرو کې يو مخصوص جوړښت لري، عموماً له دريو بيلو - بيلو ټوټو څخه تشکيله شوي وي او کله کله دوې مسرۍ هم

لري د بابولالي لومړۍ مسري عموماً دموضوع نه لیري، حتی کلمه ـ کلمه مهمله وي او یوازي ددوهم اومطلبي بنددقافیې دپاره راوړل کیږي.

## په واده کی د بابو لالو د ویلو وختونه :

په واده کی د بابولالو دویلو وختونه دادي: دستنی راوړل، دپوښ ورځ، دمال دحلالولو وخت، دسرخلاصولو وخت، دنکریز وشپه، دسر جوړولو سهار، دجامو بدلول، دورایېځی دراتګ وخت، په کجاووکی دناوی سورلووخت، دناوی دپلار له کوره دراایستلو وخت، دناوی دخسر کورته دراتسولو وخت او محینی نورو ختونه.... مطلب دا چې بابولالی پرته دواده له ورځو بل وخت نه ویلی کیږي.

اوس غواړو چی دپورتنیو ځولود بابولالو دویلو دوختو یوه لنډه ـ پیژندنه او یو لږ نمونې هم ستاسو حضورته وړاندې کړو چی له هغه وروسته به د بابولالو نورمخصوص ځولونه او نمونې یې راوړلی شي.

## الف ـ دستنې راوړل:

دواده دودونه له «هوکی»(۱) او دعا نه راوروسته درومال اوستنی په وړلو پیلیږی هغه وخت چی ددوو کورونو ترمنځ دخپښۍ لوظ وشی بیانو هغو شپی وروسته ددسمال یاستنی دراوړلو ترتیبات په ډیرزور او خوښ سره نیول کیږی هغه دا چی دزوم له کوره یوه ډله سړی، ځوښځې او حتې کلمه ـ کلمه زوم هم ځول د پیغلی کورته ورځی هلته له ځو ډېه خوړلو، شیرینی او برخو (۲) وېشلو او ایجاب او قبول څخه وروسته راوانیږی او د پیغلی د کورنی له خوا

(۱) هوکی له «هو» او «کی» څخه مرکب دی چی دهوا و منلو معنی لري خو په پښتنوکې عموما د پیغلی دورکړی دلومړنی مجلس نتیجی ته «هوکی» وایی.

(۲) برخی له هغو دسمالو، لونګیو، ځیکر یو او نورو څخه عبارت دی چی دزوم خپلوانو ته یی دلورپلار ګنې ورو یشي.

دزوم د کورنۍ یوه تن ته په دستار کې ستن، یا رومال او یا گل ور ټومبل کېږي؛ بیا نو ټول له کوره راوزي او د ټوپکو ډزې کوي، په دستمال پورې راز-راز ښکلي ځوړندي، هینداري او نور گنډل شوي وي چې له لیرې برېښي؛ دسمال هم عموماً د پیغلې په خپلو گوتو جوړ شوی وي، چې دا یې د ستنې او لاسي کار یوه نمونه هم وي، ستن هم له ډېرو ځوړندیو څخه تشکیل شوې وي او گل هم ډېر ځوړندي لري چې د لته یې څېړل او بډیږي او اوس هغه بابو لالی لیکم کومې چې د دسمال د راوړلو په موقع د ښځو له خوا ویلې کېږي:

راغی رومال راغی - رومال پټ دی په قبو کې
د (پلانکي) په سر کې ایښی سرې لوړدی په تربرو کې

رومال په جوړو - جوړو دی وړمه
رومال د لوټو (۳) په زور دی وړمه

لمر راوخوت په څنار پورې
رومال مورا ووړ کلیه کې گورې

* * *

## ب - د پوښ ورځ:

هغه وخت چې خسر گنۍ و غواړي وادهٔ او ړي نو د ټولو نه مخکې یو نفر ور ځي «جوړ ښت» ور سره کوي او د وادهٔ د وړلو ورځ او نور مصارف ور سره ټاکي. پوښ د ناوې له جامو، گیڼې، میوې، پسونو یا غوایانو ورېژو، اوړو، غوړیو... څخه عبارت دی د پوښ په وړلو کې نر او ښځې گډه برخه لري د پوښ سره تللیو ښځو ته «خیښۍ» یا «ټنگوري» وايي؛ سړي د پوښ سره ډولونه وهي، اتڼونه کوي، او ازونه وايي او ښځې ولي، ښځې درېې وهي، اتڼ کوي او د پوښ ستاینه په مخصوصو بابولالو کې کوي او وايي:

---

«۳» څرنگه چې متأسفانه په پښتنو کې د ښځې او لور ډېر درونه دي په دې بند کې دی ملامتو نکي دود ته اشاره شوې ده.

شین با در نګ او بور اوړی (د وه ځل)
موږه داسی پوښ راوړی چا یی ګل ـ ګل نه دی لیدلی
دپاسه او به راغلی په سر یی شنی او بړکه راوړی
(پلا نکی) ته ویه (وایه) راووزه کلاته شاهزادګۍ راغلی

* * *

## ج- دمال دحلالو لو وخت:

د پوښ له ورځی څخه وروسته د پوښ سره راغلی سړی ځی او خپښی همد لته د ناوی له پلار ګنی کره پاتی کیږی، د پوښ په سبا یا په دوهم سبا د څارو و دحلالو لو وخت کیږی چی په دې وخت کی د پاتی شوو خپښوا و ناوی د پلار ګنی دښځو له خوا ځینی با بولالی ویلی کیږی چی په هغه کی ځینی ستایل وی او ځینی ادبی ښکنځل، چی یوه نمونه یی داده:

غو یی چی ململوی (حلالوی) لکی یی پر یږدی ء (دوه ځل)
لکی یی د (پلانکۍ) په زګښی (۴) کیږدی ء !

* * *

## د-دسر خلاصولو وخت:

د ناوی دسر خلاصولو وخت هم دمال دحلالو لو په ورځ با ندی وی، چې سړی دمال په حلالولو او ښځی د ناوې دسر په خلاصولو مشغول وی، دسر خلاصولو په وخت کی نا وې «اوښکی» (۵) وهی او دخپلو همځولو له خوا ځینی د تسلیت با بولالی او دخپښو له خوا ورته لادما ښی درید لو با بولالو ویلې کیږی چې په دی با بولالو د ناوې ژړا لا زیاتیږی

(٤) زګښی د ښځو له هغو اوبد لیو ویښتو څخه عبارت دی چی وروسته له ناویدو د څخه یی جوړوی، دمخی خوا ته ویښته په دوو مساوی برخو ویشی بیا هره یوه برخه په مخصوص ډول اوبی، د مخ زیاته برخه پری پټوی او کښلا پری وهی.

(٥) څرنګه چې پښتنا نه پلرونه خپلی لوڼی بی دد وی له خوښی په خپل سر په هر ځای کی یی چې زړه وی ودوی، نو ځکه دوی د ناویدو د په ورځ داسی په غریوژاړی چی په اصطلاح دمر غانو پری ژړا اوی؛ خو ددی له پاره چې ژړا یی بده ښکاره نشی نو یو مخصوص ډول ژړا یی ورته ټاکلی چې «اوښکی» ورته وایی او په دی و سیلی سره ناوې د ناویدو د په ورځ دخپل محرومیت او ما یوسۍ د درد تسکین په اوښکی باندی کوی.

چې نمونې یې دا دي:

ناوې پرې کړه عباسیه (٦) (دوه ځل)

د پېکیو (٧) وار دې تېر شو اوس دې وارد دې د نګینیه
دا تورور بل دې دلوجر وملې (٨) په دو دو نغاړه - (هوې)
و نغاړه ✿ چې (پلانکې) یې ورانوې اوس په ناورین (٩) ژاړه
(هوی) په ناورین ژاړه.

دا تورور بل دې چې او بدو په خیال مینه وې (هو ی) په
خیال مینه وې ✿ چې ( پلانکې ) خان یې ورانوې اوس
ګیله منه یې (هوی) اوس ګیله منه یې.
مه یې ورانوې د غوږ یشو څڅیو سر و نه
که دا واری مو وران کړل بیا به یې نه کړې ږولو نه - ولو نه
تر دې تورور بل دې جار شم ته نو ولې ژاړې (ووی) ته
نو ولې ژاړې ✿ چې پلانکې په دې دنیاوې ناز دې مه شه
خاورې (ووی) مه شه خاورې.
ناوې تور دې لونګین ژاړې په څه باندې (هوی) ژاړې
په څه باندې ✿ (پلانکې) تللې د سروزرو په و یاله باندې ✿
تا ته به راوړې سور بخمل په زنګانه باندې

---

(٦) عباسی له هغو رو ېیو څخه عبارت دی چې پېغلې یې په ور بل
کنډې او راځړوي، خو کوم وخت چې ناوې کېږي نو بیا یې رو پې
له اور بل څخه شکوي او په ځای یې نګینې اوږي.

(٧) «پېکې» د وېښتو هغه مخصوص جوړښت ته وایي چې پېغلې یې
جوړوي پېکې عموما په دوه ډوله دي: لومړی یې دا دی چې د تندی
دمخې وېښته بیا تې کوي او غوځ پېکې یې بولي، خو بل ډول یې بیا
او بدلی دی چې هماغه دمخې وېښته اوږي او د تندي نه پاس یې تېر وي
چې ور بل هم ورته وایي.

(٨) - لوجر وملې د رنجو هغې مخصوصې کڅوړې ته وایي چې ښېښتني
پېغلې او ښځې یې په ډېرو ډولو په مریو، زرتارو او ور یښمنو جوړوي،
بیا رانجه پکې اچوي او نغاړي یې.

(٩) «ناورین» شدیده او سخته ژړا.

خپل یاد خپل کور دغې وپه نامه په منګي کې واچوي، وروسته فال ویونکې ښځې راټولې شي، یو – یو فال وایي بیا نو هماغه جینۍ په منګي کې لاس کوي او یو شی ترې راباسي نو هغه شیز چې د هر چا په نامه وي دا فال هم که ښه وي او که بد د هم هغه چاوي، بیا نو ښځې بل فال وایي او بل شی له منګي څخه راباسي، دا مجلس د فالونو له ویلو سره – سره په ټوکو او خندا او بدرګه کېږي چې دا مجلس اکثراً د سهار تر لمانځه پورې دوام مومي

او په دې دود دا مبارکه شپه رونوي، نو په دې سبب د پښتنو میرمنو په میلو کې دا شپه هم یوه د میلې او نېکمرغه شپه بلله کېږي، پښتنې میرمنې د دې منګي او بوټه زیاته عقیده لري نو له دې کبله د ټیکري پیشکه په دې او بو لندوي او بیا ګنډه وراچوي، د دوی عقیده ده چې سبا ته چې دا ګنډه خلاصه شي حتماً به یو ویښته پکې پیدا شوی وي نو که دا ویښته سپین وي دا معنی لري چې یعنې د دې ښځې ژوند به اوږد او هغه وخت به مړ ي چې ویښته یې سپین شوي وي او که ویښته تور وي دا معنی لري چې دا ښځه به په ځوانۍ کې او په داسې وخت کې چې ویښته یې لا نه وي سپین شوي، ومري .

همدا راز د دې شپې په ویاړ په هر کور کې د بېګا خواړه په یوه خاص ترتیب سره پخېږي ځکه چې د دې شپې په باب عمومي عقیده دا ده چې په دغه شپه چې هر څومره ډېر خواړه په دسترخوان موجود وي د بل کال تر دې شپې پورې به په دې کور کې هماغسې پریماني وي نو ځکه هر څوک زیار باسي چې په دې شپه زیات خواړه پاخه کړي او همدا راز په دې شپه کوچنیان آتش بازي کوي او خپل ساعت تیروي.
دا وو د برات د شپې مراسم، او اوس هغه فالونه کوم چې په دې شپه ویل کېږي او زما لاس ته راغلي ستاسو حضور ته وړاندې کوم:

**د مکې په سپین بامونه      پڼۍ و کابه را د رومه**
**د کندهار انار پاخه دي      ښاخونه یې په دې لوري کابه دي**

اسمان شودوه توکه ترې ولویده د سروزرو متر و که
اس ولاړ نس يې ولاړ

اسمان شو پړی - پړی مېړه اوړتې وخوړل په لارې
اسمان شودړی وړی ترې ولویدی د سروزرو لکړی
سو ټکی پوټکی پښې د ریتا ړ و يې کو ځې
په سر دې څپرې اوردې وا خله ککرې

پښې وخته په و زه دغم چوکه يې وخوړه په...
که ګل دی د مخې ما ته را وړه ګل مېخې

که ګل د ید پروتيې ما ته راوړه دلاس ګوتيې
که ګل دی د سنځلې دی لا یك د پیغلې نجلې

که ګل د ی د مڼې د ی لا یك دی د زړ ی
که ګل د ی د ګز ر دی ولاړ په یو ه و ز ر
د تیر کونه درز یږی ملغلرې ترې تو ئیږی

کمکی زیرینك دزروړ ك

نه کر م نه ر یبم سپیری خټې اړوم

د کلا په سر توشی دی، بادیی بښوروی
روزی به خد ای ور ر سوی
ځم برې کلا لره شین خټکی راغی زما خوا لره

د وره تر خټ ولاړې ململ په ګو تو نغا ړی
د تا جینګی-جینګی داړی، مېړه غواړې
دزیړې غوا اورمڼی دوردې راووړه ترلمڼی
دسروزرویی ستن وریښمینه یی پړ ستن
شین دی خت، شین دی پر تو ږ په مکه دی اج (حج) قبول
کوردی مخ په لمر دی پیر دی زور ورد ی

## ((۱۱))

# سروکی

سروکی چې ځینې پښتانه «ټیکی» هم ورته وایي د پښتو په او لسي نظم کې یوه په زړه پورې، خوندور او خوږه برخه ده ، ځکه چې سروکی د پښتو شیرینۍ او خوږې سندرې دي نو ځکه بایدووایو چې د سروکي «کي» د تجلیل او تحبیب له پاره دی، نه د تصغیر او تحقیر له پاره.

د سروکي مکمله او بشپړ ونکې لنډۍ ده دی چې په اوسنۍ اصطلاح کې سروکي ته «سروکی» یا «ټیکی» او کومې لنډۍ چې یکی راځي هغو ته عموماً «ټیکی» یا «ټکی» ویل کیږي: همدارازسروکي ته لومړی جزء او لنډۍ ته دوهم جزء هم ویل کیږي، له سروکي سره په عام ډول ټولې لنډۍ ویل کیدای شي او داوړل یې کوم اختصاص یا قید نه لري ، خو هغه لنډۍ چې د سروکي له موضوع سره زیات ارتباط ولري دا اولیت حق لري.

«سروکی» عموماً یو بیت یعنې دوه مسرې لري چې علی الاکثر یې لومړۍ مسره تر دوهمې نه اوږده وي او لکه د عروضي نظم د «مستزاد» غوندې شکل لري ، خو کلمه دواړې مسرې برابرې ، کلمه‌ـ

کله لومړی مسری لنډه او دوهمه اوږده او کله ـ کله لکه د آزاد او نوی شعر غوندی د قافیی په شرط هم نه وی مشروطه .

د سروکی د ویلو طرز داسی دی چی لومړی سروکی او له هغه وروسته ټیکی (لنډۍ) یکی ور لوېږی . سروکیو د پښتو د موسیقی او ټنګ ټکور نړۍ ډیره پراخه ، او ته ، ښکلی او رنګینه کړی ده نو ځکه

ویلای شو چی د پښتنی موسیقی په سلو کمپو زونو او نغموکی اتیا کمپوزونه له سروکیو څخه تشکیلیږی ، په سوو نو سروکی چی په پښتو کی موجودی هر یو په موسیقی کی ځانته بیل ـ بیل یو ښه کمپوزاو یوه خوږه

نغمه لری ، سروکی زیاتره لکه د هغه دی «کورس» غوندی د یوی ډلی له خوا په ګډه سره هم ویل کیږی . سروکی نه یوازی دا چی په موسیقی کی یو پیاوړی نقش لری بلکه په اتڼ کی هم یو بارز او ورڅ نقش لوبوی او دا تڼ زیاتره خوږی نازی او په زړه پوری اغمی په همدغه سروکیو پوری اړه لری ، شایی دا هم ووایو چی سروکی لکه لنډیو او یا د خلکو محیطی نوی ر سندری غوندی خاص ، ښکاره او ټاکلی شاعر نه لری .

## د سروکیو ډولونه :

د پښتو سروکی په عمومی توګه په دوو لویو برخو ویشل شوی دی :

لومړی ـ هغه سروکی چه خاص په اتڼ کی ویل کیږی چی د «اتڼ سر» یی هم بولی .

دوهم ـ هغه سروکی چی له اتڼ څخه پرته په نورو مجلسو او ښادیو کی ویل کیږی چی دی ته «عام سر» او یا خوتش سروکی او نیمکی وایی .

دا هم باید ووایو چی د اتڼ د سر او عام سر په جوړښت کی کوم توپیر او تفاوت وجود نه لری ، یوازی د ویلو په وخت کی سړی د اتڼ د سر او د عام سر فرق سره کولای شی . اوس ددی له پاره چی په عملی ډول ور سره اشناشی هر دوا ډولو څو نمونی وړاندی کیږی :

الف-دتاڼ دسر څو نمونی:

داتڼ سر:

پری مې بډه دا توری زلفی چې په مخ زانگی ✿ مه بډه دز نجو خالو نه سبا به وران وی.

داتڼ سر له لنډۍ سره:

سترگی دی توری په ر نجو کړه ✿ مه بډه در نجو خالو نه دمسا فراشنادی غبر دی را بهشینه ✿ مه بډه در نجو خالو نه سبا به وران وی ✿ پری مې بډه دا توری زلفی چې په مخ زانگی...

داتڼ سر:

تا ویشتلی یمه وا بی غوره یاره ✿ خوب ـ خوب مې وړ ینه

داتڼ سر له لنډۍ سره:

سترگی دی ډکی تو پانچی دی ✿ تاویشتلی یمه وا بی غوره یاره خوب ـ خوب مې وړ ینه ✿ زه دی په ډکو توپانچو ویشتلی یمه ✿ وا بی غوره یاره خوب ـ خوب مې وړ ینه ✿ تا ویشتلی یمه وا بی غواره یاره خوب ـ خوب مې وړ ینه...

داتڼ سر:

در ځم له گلو ✿ اوس به لمن ډکه دروړم له گلو...

داتڼ سر له لنډۍ سره:

گل دگلاب مې کور ته دروړ ✿ در ځم له گلو ✿ که ته پو هیږی دیاری تمه لرمه ✿ در ځم له گلو ✿ اوس به لمن ډکه دروړم له گلو...

داتڼ سر:

سردارو ما ته گل دمڼی راوړه ـ سردارو.

داتڼ سر له لنډۍ سره:

خو له دی په باغ کی سره مڼه شوه ✿ سردارو ✿ له ورځتای شم نه یی بادراغور ځوینه ✿ سردارو ما ته گل دمڼی راوړه سردارو...

دا تێ سر:

کبنتی شوەڕو بەپە تختە و لاپە یمە ✿ پیرە لاس راکرە درعمە

داتێ سر لە لنڕی سرە:

لاس دێ پە لاس کی راتە راکرە ✿ پیرە لاس راکرە درعمە ✿
دالاس نیوێ بە دی آرڕ یرە یادومە ✿ پیرە لاس راکرە درعمە
کبنتی شوەڕو بەپە تختە و لاپە یمە ✿ پیرە لاس راکرە درعمە

✿✿✿

ب-دعامو سروخو نمو نی:

سر:

شینکی رودونە-ۆ پاچاد بلخ ✿ بلخ دری- دری، شینکی رودونە.

سر او لنڕی:

لە ترسین پورێ زەراوورێ ✿ شینکی رودونە ✿ راپوری وزێ کە جا لە دروا چومە ✿ شینکی رودونە - ۆ پاچا د بلخ، بلخ درێ درێ-شینکی رودونە...

سر:

ادکی موری ماڕو لەعمە ✿ د خمکنو تو تا ن بڕلی وهلی دینە- ماڕو لەعمە.

سر او ڤیکی:

دتوتو پاڕی می خوراك وای ✿ ماڕو لە عمە - ادکی موری ✿ دابرە مە وای دمو زێ دکور غمو نە ✿ ادکی موری ماڕو لە عمە -د خمکنو توتان بڕلی وهلی دینە...

سر:

بند کە ڤاویزونە لیلا ✿ سپینی روپی دی پەور بلوهی ڤالونە لیلا.

سر او ټیکی:

ملا تاویزدی بیرته واخله ✿ بند که تاویزونه لیلا ✿ ستا په تاویز لیلا خو لګی نه راکوینه ✿ بند که تاویزونه لیلا ✿ سپینی روپۍ دی په وربل و هی ټالو نه لیلا...

سر:

توره لالیه باران اوریږی ✿ په ما اوریږی ستا دوینو بارانونه ✿ باران اوریږی.

سر او ټیکی:

باران داوښکو می اوریږی ✿ باران اوریږی ✿ بی نیازه یار راته په زړه را کړل زخمونه ✿ باران اوریږی ✿ په ما اوریږی ستا دوینو بارانونه - باران اوریږی...

# ((۱۲))

# منظوم متلونه

متلونه د خلکو هغه سپېڅلي، پاکې معنی دارې او لويې لويې لنډۍ جملې دي چې د اولس د ثقافت، فرهنګ، علم او پوهې، کړو وړو ژوندانه نمونې او د اولسي پوهانو د لوړو افکارو نمايندګان دي.

متلونه له ډېر پخوا څخه موجود او زموږ د نيکونو غوره، قيمتي تللي او پخې وينا وې دي چې د لنډيو په شان خوله په خوله تر دې وخته را رسيدلي دي د متلونو د ويلو تاريخ هم د لنډيو په شان معلوم نه دی او نه يې ويونکی معلوم دی، بلکه په هره زمانه کې ويل کيږي او هر پښتون او پښتنه يې وايي، متلونه د ټولو پښتنو د خولې ملغلرې دي چې خوږې وړې د خلکو په ذهن او حافظه کې پرتې دي، د متلونو عبارات خوندور، لنډ او پوه لوی مطلب پکې ځای شوی وي، له متلونو څخه د هر قوم د پوهې تجربې او فکري لوړتيا اندازه معلوميږي ځکه چې متلونه هغه پخې خبرې دي چې له ډېرو تجربو څخه وروسته لاس ته راځي. پښتانه متلونو ته ډېر اهميت ورکوي، هر متل ورته د کاڼي کرښه ښکاري او هغه يو پوخ او غښتلی دليل او استناد بولي، د پښتو متلونه ډېر او په زيا ته

اندازه دی او لکه د لنډیو غوندی د پښتنو په هره سیمه کی په بیل- بیل ډول د خلکو په سینو کی پراته دی، د پښتو هر متل لکه لنډۍ غوندی یو ځانګړی خپلواک مضمون او مطلب لری او یا په بل عبارت د یوی پیښی او واقعی لنډیز دی.

د متلونو پیژندنه دوی خواوی لری یوه دا چی د ویلو اصلی ځای او پیښه یی سړی ته معلومه شی او بله دا چی د استعمال ځای یی و پیژندل شی، لومړی معنی یی حقیقی او دوهمه کنایی او مجازی ده، مثلا د دی متل: «مات لاس غاړی ته لویږی» حقیقی معنی هم موجوده ده ځکه چی د چا لاس خوږ او مات شی نو ښتیا یی غاړی ته اچوی او مجازاً په داسی ځای کی ویل کیږی چی یو عاجز او بی وزلی سړی د خپل ځان غم خوړل په کوم مشر باندی اچول غواړی. متلونه په پښتو کی په دوه ډوله دی یو ډول یی منظوم او بله برخه یی منثور دی، ځینی متلونه په ډیره پخه فلسفه بناوی او په یوه کیسه پوری تړلی وی مثلا لکه دا متل، «بې له مادی شل نه کیږه» دا متل که څه هم اوس په داسی ځای کی استعمالیږی چی یو تن بی د بل تن له کومک او مرستی څخه کار و نه کړای شی، نو هغه ورته وایی: «بی له ما دی شل نه کیږه» خو د دی متل اصلی فلسفه داسی ده:

«وایی یو غریب سړی و، پوله پټی یی نه درلودل، خپله خواری غریبی به یی کوله، دومره پیسی به یی د ورځی ګټلی چی ایلی بیله به یی د سبا او بیګا کیدلی، په دی صورت به یی خپل ځان چلاوه او ګوزاره به یی کوله، یوه ورځ یی اراده وکړه چی په خواری مزدوری پسی بل وطن ته ولاړ شی په همدی نیت له کوره ووت بل ځای ته ولاړ، خواری او مزدوری به یی کوله چی څه به یی خوړله او څه به یی سپموله او ساتله، څو ورځی چی تیری شوی نو ایله یی نولس نیمی روپی وګټلی او بیرته راروان شو، چی کورته راغی په اولاد یی اختر جوړ شو او فکر یی کاوه چی پلار به مو ډیری پیسی او هر څه راوړی وی، ده چی دمه

جوړه کړه نو بیا یې خپله ګټه وټه راوایسته څه روپۍ چه یې ګټلې وې هغه یې خپلې ښځې ته ور کړې، ښځې یې چې روپۍ وشمېرلې نو ویلې بیله «نو لس نیمې» روپۍ شوې، دې خدای زده له کومې زمانې نه کوم غیران له ځانه سره ساتلې او په پلو پورې یې تړلې وې، ژړ یې غیران له پلوه راخلاص کړ او هغه غیران یې د میړه له ګټې سره یو ځای کړ او میړه ته یې وویل:

## «بې له ما دې شل نه کړه.»

که څه هم چې د متلو نو فلسفې، بېلګې او ریښې لټول ددې څېړنې کار نه دی خو بیا هم ددې له پاره چې د متلو نو په بر خه مو ښه رڼا اچولې وي دا پورتنۍ کیسه مې و لیکله، دا دې اوس بیرته خپل مطلب ته راګرځم چې هغه یوازې د متلو نو منظومه برخه او نمونې دي.

دا دي د منظومو متلو نو څو نمونې:

ارمان به کړې هلکه  بیا به نه مومې ادکه
اس یې په خره بار کړ  خر یې پرې مردار کړ
اسان یې په سوو ګټې  میړو نه یې په خولو ګټې
من خورم چارک ګټم  بې بې درځم که نه درځم
سل ورځې پور که  دا ختر شپه په کور که
زه یم ستا د غاړې  ته له ما نه سپېږې غواړې
زور چه قدم کېږدی  عقل هلته ر یږدی
راغلې پکې کېوتې  ډنګ ؤ پکې پرېوتې
دوه مرغان یوه یې ځاله  خبر نه دی یو د بل له حاله
دوې ګوتې یې تورې کړې  په ما خوارې یې پورې کړې
باد چه پاسنې شي  د باران دستې شرنګې شي
امیر چې ظلم کار وي  اور بل په ټول دیار وي
او به که برې دي  تر پله لرې دي
بد به دې په زړه لرم  سلام به دې په خوله لرم

بدی (۱) چې اکړې بدی چارې   بدی به چاو اژه بې لارې
په چاچې دخدای نظر شي   نوری خاوری ورته زر شي
بلخه بې تمیسه (۲)   لالی راغی بې کمیسه

بنده وراشه دخدای خپل شه   لکه په ځان هسې په بل شه
څنګه په مرتبه شوه   چې په ماوا ګروسړه شوه
اوښ بې چې په نته کړ (۳)   نو یې اورته (۴) کړ
اوړه خیشته پیشته کړی   منت په تنارو کړي
چې پردې کورته یې تمه شي   من غوښه یې کمه شي
چې تر ملکه دې کړه   نور که دې کړه
دادی نور دې دادې اور   که چیرې ولاړې مخ دې تور
داګومان مې نه شي   چې له ایزه به زوی و شي
ارزایل (۵) زی (۶) نه اری   په بل زړه سوی نه لری
دخدای امر چې و شي   پلار یې نه وي زوی بې وشي (۷)

---

(۱) بدی د پښتو د یوې فولکلوري کیسې یو لوی او مهم رکن دی او دلته دده بدیو او ناوړه چارو ته اشاره ده .

(۲) تمیس = تمیز (عامیانه لهجه).

(۳) نته د پښتني پسول یوه برخه ده چې په پوزه کې اچول کیږي چې د اوښ مهار ور ته هم وایي؛ دلته په ورورستي معنی ده او په دې متل کې د آزادژوند لوی درس پروت دی .

(٤) اورته = عورته.

(٥) ارزایل = عزرائیل (عامیانه لهجه) .

(٦) «زی» دورنګو په لهجه کې د «زوی» تلفظ دی .

(۷) دلته د عیسی (ع) زیږیدو ته اشاره ده او دخارق العاده کارونو د پیښیدو په ځای کې استعمالیږي او هم په ځینو مواقعو کې د ټوکې په طرز ویل کیږي .

د ښه پلاره، د ښې موره　　بلا و زېږېده توره

دموریې شړی لنګ و ګوره　　دلوریې شرنګ او پرنګ و ګوره

زرغونه به لنګیږی　　احمد شاه به ځنی زیږی

ایړا پور غواړی　　بیړا نور غواړی

خواره شی مکاری　　چې هم جنګ کوي هم ژاړی

چې یو خوری بل ورته ګوری　　د اسمان کاڼی پری اوری

چې نه دې وی له موره　　ورته مه وایه چې وروره

چې خپل دې وی خوره　　چې خپل دې نه وی مره

چې په کور کې غوړی موړی　　لیونی به غروته درومی

چې نه لری سړی　　نه دې کورت کړی نه غوړی

توبه باید دستی وی　　هسې نه چې په سستی وی

پسرلی دی ځان آګا کړه　　ځان ته ژړه غوا پیدا کړه

پر لوړه وخیږه ښار و کړه　　څه چې نور کړی هغه کار و کړه

بې مزده مې کار نه زده　　چې مزد را کړی کار مې ښه زده

بنده لیری نښلولی　　مرګی لار ورته نیولی

## ((۱۳))

# ډهوتکو ناري

ډهوتکو ناري هغه رزمي او حماسي اولسي سندرې دي چې د لومړي ځل له پاره تر بحث لاندې نيول کېږي، دا سندرې که څه هم زيات عمر لري خو له دې سره ــ سره د تحقيق له ساحې څخه وتلې وې او تر اوسه څوك نه وو پرې پېښ شوي چې را ټولې او تر تحقيق لاندې يې ونيسي، له نېکه مرغه د هېواد يوه پوه شخص ښاغلي مولوي محمد يعقوب «ناصري» د دې ناريو شمېر له ځينې قلمي آثارو او د ناصرو کوچيانو له خولې څخه چې دا ناري په دوی کې له پخوا څخه سينه په سينه را نقل شوي او تر ننه پورې په شفاهي ډول خوندي دي، را اخيستي او را غونډې کړې دي. دغه ښاغلي مهرباني وکړه او ماته يې د نقل اخيستلو او زما د کتاب د تکميل له پاره را کړې او په دې وسيله يې ماته دا موقع مساعده کړه چې د لومړي ځل له پاره د پښتو د اولسي سندرو دا ملي، حماسي او رزمي برخه تر څېړنې او تحقيق لاندې ونيسم او د لومړي ځل له پاره يې د ملي ادب دوستانو حضور ته وړاندې کړم.

ډهوتکو ناري د پښتو د اولسي سندرو هغه خوږه او قيمتي برخه ده چې په فولکلوري او ادبي ارزښت سربېره په تاريخي لحاظ هم ډېر ارزښت او توجه

وړدی او خصوصاً دهوتکی دوری په زیاتو پیښو چی لاتر او سه د تاریخ له نظره مشکو کی وی رڼا اچوی او روښانه کوی یی او هم د پښتو د او لسی ادب په انوا عو او ډولو نو کی د یوه نوی ډول زیاتون دی.

## دهوتکو ناره پیدا ایښت او سر چینه:

څرنګه چی دهوتکو په هره یوه ناره کی یوی ثابتی تاریخی پیښی ته اشاره ده نو ځکه د پښتو د اولسی سندرو تر هر ډول نه ددی نارو د پیدا کید لو دسمی نیټی په باب قطعی حکم کید لای شی.

ددی نارو د پیدا کیدو یوا ځینی عامل هغه مبارزی دی چی دغیورو افغانا نو له خوا د گرګین او صفوی تسلط په ضد شوی دی نو ځکه دا ناری هم دهوتکو د نهضت او ملی مشر میرویس نیکه له ملی قیام سره جوخت منځ ته راغلی او د رست دهوتکو د اقتدار تر پایه پوری یی جوړښت دوام کړی او دهو تکیا نو د اقتدار د ټولی مودی په بیلو-بیلو وختو نو کی دهوتکو زو ناصرو د غیرتی شخصیتو او ځینی نورو افغانا نو له خوا ویلی شوی دی څرنګه چی ددی نارو له ډوری کتنی څخه ښکاری چی زیاته برخه یی دهو تکو له خوا ویلی شوی نو ځکه ما هم یوازی دهوتکو ناره په نوم یادی کړی.

دهوتکو ناری هم لکه د اولسی سندرو د عمومی برخی نورو ډولو نه غوندی یو معین او ټاکلی ویو نکی نه لری او دهوتکو د اقتدار د دوری د ټولی مودی په بیلو-بیلو وختو نو کی دهرچا له خوا ویلی شوی او جوړی شوی دی که څه هم له ځینی نارو څخه څرګ لګی چی ویو نکی یی مشخص شی خصوصاً زیاتره ناری داسی مطالب لری چی حتماً باید د ملی مشر میرویس نیکه لور میرمن زینبی ویلی وی لکه چی دسیدال ناصر په برخه کی ویلی شوی ناری دهمدی په نامه قید او ثبت شوی دی خو له ډوری کتنی څخه داسی ښکاری چی له یو څو نارو پرته نوری ددی نه دی او حتی ځینی داسی ناری هم پکی موندلی کیږی چی په قطعی توګه زینبی ته د منسو بید لو امکان نه لری چی د لته د څو نارو په راو ړ لو سره دا حقیقت واضح کول غواړو: که دا ناره دلا زینبی وبللی شی ښایی:

**که زمری دی شاه اشرف د جنګ زمری دی**
**شاه اشرف ته کامرانغي د نادر په اشرف خان ځکه بری دی**

مګر په دې ناره کې یوه بله پښتنه ښځمنه د زینبې له خولې حکایت کوي:

**زینو بي له زړه او ایسته تور کسي**
**وی وییل سلیمان رانغي نادر زور سو اوس زما د پلار-**
**ښار نسي**

نو په دې اساس ثابته شوه چې دا ناري ټولې د زینبې نه دي او حتی په هوتکو سربیره د ناصرو ښځمنو هم جوړې کړې دي خو سره له دې هم څرنګه چې بي بي زینبه د پښتو یوه مقتدره او خوږژبې شاعره وه (۱) نو امکان لري چې د دې نارو لومړۍ نښلوونکې به هم دا وي او بیا به وروسته د دې په پیروي نورو غیر تمنو پښتنو ښځمنو هم ویلې وي.

په هر حال له پورتنۍ بحث نه دا نتیجه اخیستله کیږي چې د هوتکو ناري هم لکه د کاکړو غاړو، داتڼ نارو، بابولالو او نورو غوندې یو مخصوص او معین ویوونکی نه لري او په یوه معینه او ټاکلې موده کې د هر چا له خوا ویلې شوې دي، د لومړي محل له پاره په کندهار کې منځ ته راغلې او لومړي جوړوونکي یې ناصر او هوتک دي.

لکه څرنګه چې د دې نارو د ویلو تاریخ معلوم او ښکاره دی همدا راز یو زیات شمېر تاریخي حقایق هم له ځانه سره لري او حتی داسې نوي مطالب هم پکې شته چې د هوتکیانو د تاریخ د تیارو ګوټو نو په رڼولو کې زیات کار تري اخیستل کیږي او په زیاتو تاریخي پېښو او وقایعو رڼا اچوي. همدا راز د هوتکو له نارو ځخه برېښي چې دا ناري به په هغه دوره کې په زیاته پیمانه

---

(۱) د بي بي زینبې هغه اغېزه ناکه ساندې چې د خپل ورور شاه محمود هوتک په مړینه یې ویلې د پټې خزانې په ۱۸۷، ۱۷۹، ۱۹۱ مخو نو کې ثبتې دي چې کسر یې دی:

بې غمه چې ورور تېر له دنیا سو نا — قندهار وا له په ژړا سو نا
زړه مې په ویر کې مبتلا سو نا — چې شاه محمود له ما جلا سو نا

ویلی شوی دی خو څرنګه چی لیکلی شوی نه دی نو ځکه د زمانی په تیریدو سره له منځه تللی او یوه ډیره کمه برخه یی اوس په لاس کی شته چی هغه هم قولی نه دی لیکلی شوی او لا په سینو کی پاتی دی.

## د هوتکو دوری ته یو لنډ نظر:

څرنګه چی د هوتکو د نارود و یلو زما نه د هوتکو د اقتدار د دوره ده نو لازمه ګڼل کیږی چی د هوتکو د اقتدار د دوری په باب هم یوه لنډه یادونه او خبری وکړو:

هوتك د غلجیو یوه پښه او په پښتنی کورنیو کی د علم او ادب یوه مشهوره کورنی ده چی حتی ددی کورنی مشر «هوتك بابا» هم د پښتو یو خوږ ژبی شاعر او د قدر وړ عالم، زاهد او عابد وچی داوو می هجری پیړی په اواخرو کی یی ژوند کاوه، خو د هوتکو نهضت دوره هماغه د میرویس نیکه ظهور او منځ ته راتګ دی او خصوصاً کله چی میر ویس نیکه د ګرګین په مقابل کی ملی قیام وکړ نو له هماغه وخته د هوتکو د بخت ستوری په ځلید و او د هیواد تیاره فضا په روښانه کیدو شوه.

میرویس نیکه د ۱۱۱۹ هق کال د میاشتی (ذوالقعدی) په ۱۹ نیټه په ګرګین بری ومونداو له کنده هاره یی د پرد یو د سلطی ټغر ټول کړ، له هغی وروسته که څه هم د هیواد د اقتدار واګی د میرویس نیکه په لاس وا ویدی خو ده ځان د پاچا په حیث معرفی نه کړ او خپله ملی وظیفه یی د ملی مشر په صفت اجرا کوله او په دی اساس یی په افغانستان کی بیا د ملی حکومت بنسټ کیښود او د هیواد د مهمی چاری یی د ملی جرګو په اساس ترسره کولی، دا هم بایدوو ایو چی د میر ویس نیکه قیام په داسی موقع کی وشو چی افغانستان د تجزیی او انتشار په لړو کی محوه او له منځه تللی و. د اهغه وخت و چی افغانستان په دریو برخو ویشل شوی او د دریو خارجی قوتونو په لاس کی و: د هیواد شمالی سیمی د ماوراءالنهر د شیبانی، لویدیځی سیمی د ایران د صفوی او ختیځی سیمی د هند د بابری دولتونو په لاس کی وی او تقریباً دی خارجی سلطو په مجموعی توګه د دوو

پښتنو په موده کې افغانستان د محوه کېدو تر حده ورسا وه او میرویس نیکه لومړنی شخص ؤ چې د یوې ملي ارادې په اساس یې خپله مبارزه شروع کړه او د تعقل، تدبر، سنجش او آرامۍ له لارې یې د ذهني او عيني شرايطو له مساعد کولو نه وروسته عملي قدم اوچت او د یوه ملي حکومت د بنسټ په اېښودلو سره یې د هېواد یوې برخې ته له خارجي سلطې نه نجات ورکړ خو وروسته نورو وطنپرستانو هم د ده په قدم قدم کېښود او افغانستان یې د دوو پښتنو خارجي سلطې نه وروسته له پردو منګولو نه خلاص کړ خو په ابدالي دوره کې د لوی افغانستان تشکیل منځ ته راغی او د هېواد سیاسي حدود له طبيعي حدودو سره منطبق شول.

د میرویس نیکه تر وفات وروسته د ده ورور عبدالعزیز پاچاشو خو څرنګه چې له ملي روحیې سره سم یې رفتار نه کاوه نو د یو شمېر وطن-پرستانو له خوا د نارنج په قصر کې ووژل شو او وراره یې شاه محمود هوتک له ده نه ور وسته پاچهي ته ورسید.

شاه محمود هوتک په ۱۱۲۹ هق کال پاچاشو، له کومه ځایه چې د شاه محمود په رګو کې د خپل پلار و ینه په غورځنګ وه نو ځکه د ده د وطن پرستۍ روحیه ډېره قوي وه او د خپل پلار غوندې یې د وطن د حفاظت او ساتنې له پاره ملا وتړله او هم یې د کرمان او اصفهان لور ته هڅه وکړه او دولته یې د کندهار په تخت خپل کشر ورور شاه حسین کېناوه، چې زموږ د اتر څېړنې له مخې نادري هم اکثره ایران ته د محمود او د ده د ملګرو د تګ سره اړه لري او هم یې یوه نوره برخه د شاه اشرف له سقوطه وروسته د شاه حسین د سلطنت دا او خرو سره چې نادر افشار په کندهار کې ؤ، مربوطې دي. همدارنګ په ایران کې د شاه محمود له مړینې نه پس شاه اشرف په ۱۱۳۷ هق کال پاچاشو او په ۱۱۴۲ هق کال ووژل شو.

شاه حسین تر پنځلس کلو سلطنت وروسته په ۱۱۵۰ هق کال د نادر افشار له خوا مازندران ته تبعید او په ۱۱۵۲ هق کال مړ کړ شو.

په دې اساس د هوتکو دا قتدار د دورې شروع له ۱۱۱۹ هـ ق کال نه د میرویس نیکه په واسطه شوې او په ۱۱۵۲ هـ ق کال د شاه حسین په اسارت او وفات سر ته رسیدلی (۲) او په دې اساس د هوتکو د ناروړ و یلو تاریخ هم حتی له ۱۱۱۹ هـ ق کال نه لا د مخه او تر ۱۱۵۲ هـ ق کال لا را و روسته بللای شو چې دا ناره:

**که تیری ګورجي بیا کړی تیری نا ړی**
**یو میر خان ؤ څنډي پاتی، میر خان هم اوس قند هار ته ـ ګـر ګـین غواړی**

تر دې نظم د مخه او دا ناری:

**څوک خبر و وچي تقدیر به کوی داسی**
**شاه حسین به نادر نسی بیا بی لوری دایران ته بندی باسی**
**که ولاړی شاه حسین ولاړ په ارمان کی**
**ده ویل کام به مې راسی د نادر او ما به جنګ وی په میدان کی**

د هوتکو دا قتدار تر سقوط وروسته ویلی شوې دی

**د هوتکو د نارو جوړښت او تقطیع:**

د هوتکو ناری یو مخصوص جوړښت لری چې د هری ناری لو مړ ی مسری لنډی او دوهم او بر ده خو قافیه یې سره یوه ده. دا و لسی سندرو د ملی کیسو څینی غږونه (چې وروسته راغی) په جوړښت کی د هوتکو نارو ته ورته دی خو په عمومی توګه د ملی کیسو په غږونو کی د دواړو مسریو هم قافیه توب شرط نه دی او سره له دې چې د لته ټولی سره هم قافیه او له سیاق نه ښکاری چې یو ډیر موزون او مطبوع وزن او آهنګ هم لری او ښایی چې اوس به هم د غلجي ښځمنو له خوا په ډیر زړه وړو نکی آهنګ ویلی کیږی.

---

(۲) ددې وقایعو د زیات تفصیل له پاره دې د محمد هوتک پټې خزانې، د سید جمال الدین افغانی تتمة البیان، د ملیسون دافغانستان تاریخ، د سرجان مالکم دایران تاریخ، د بینوا هوتکیان، د قاضی عطاءالله د پښتنو تاریخ، د ظفر کاکاخیل پښتانه د تاریخ په رڼاکی، د افغان او پارس جنګ او نور و آثارو ته مراجعه وشی.

دهوتکودنارو لوړی مسری عموماً دوولس سیلا به او کله کله یوولس سیلا به لري او دوهمه مسری یې په عمومي توګه شل سیلا بو نه لري، په نادر ډول دځینې نارووروستی مسری هم لنډي او د واړه ی سره برابري دي.

## دهوتکود نارونمونې:

څرنګه چې دهوتکو د نارو په هره نار ه کې یوی تاریخي پیښې ته اشاره ده، نو ځکه لازم دي چې دهري ناري په خوا کې دهغې ناري دښود ل شوي پیښې څه تفصیل هم وړاندې کړو، ځکه چې زیات شمیر تاریخي وقایعو ته پکې اشارې شوې دي:

**که تیري ګورجي (۳) بیا کړي تیري ناړې (۴)**
**یو میرخان (۵) ؤځنی پاتې، میرخان هم اوس قندهار-**
**ته ګرګین (۶) غواړي (۷)**

---

(۳) ګرجیان هغه قبیله ده چې ګرګین هم دی قبیلې ته منسوب ؤ او په همدی اساس د لته ګرګین هم د ګرجي په نامه یادشوی دی.

(٤) ناړې تیرول یوه اولسی اصطلاح ده او دلته یې مطلب دی چې ګرګین فکر کاوه چې دملي جنبشونو یوازینی محرك همدا شخص دی او د میرویس نیکه په نیولو سره یې ګویالاړې تیري شوي او داډه ؤ چې اوس به په آرامۍ سره خپل حکومت ته دوام ورکوم.

(۵) میرخان دمیرویس خان مخفف اوعامیانه نوم دی چې خلکو ورته دتجلیل اوتحبیب په غرض میرخان ویل.

(٦) ګرګین په کندهار کې دصفوي دولت له خوا یو ظالم حاکم ؤ چې اصلاارمنی او بیا یې ظاهراً اسلام منلی ؤ خودکندهار په خلکو یې په اصطلاح چپه میچنۍ ګرځولې او حتی دخلکو مال او ناموس هم تري په امن نه ؤ، څو په ۱۱۱۹ هـ ق کال دمیرویس نیکه له خوا دده په وژلـو سره دده ظلمو نو ته هم خاتمه ورکړه شوه.

(۷) د تاریخ په اساس ددی ناري دویلو موقع نه معلومیږي خود شفاهي روایت په اساس هغه وخت ویله شوې چې میرویس نیکه دهیو اددد

بیا سم سوی د هوتك د تا لو فال دی
با با (۸) خپل ملك له گرجی خلاص کی، محمود کړی-
د کرمان، نیو لو خیال دی (۹)

که زنی (۱۰) پښتانه تور یا لی زنی
په غزاو لاړ و کرمان ته، تو یوی اوس په پردو هیوادو-
وینی (۱۱)

ترسر کېږی د بابا دعاو غوړی (۱۲)

---

٭ اوضاع و شار نـه کوله او د تجارت په جامه کی د خلکو پـه یو کو لو او د خپل ملی پروگرام په تنظیمو لو بوخت ؤ او کله چی گرگین دده په دی فعالیت خبر شو نو دی یی د کندهار مرکز ته وغوښت بیا وروسته یی په ۱۱۱۱ ھ ق کال اصفهان ته محبوس ولیږ.

(۸) مراد له بابا نه میرویس نیکه دی.

(۹) دا ناره هغه وخت شوی کله چی د کندهار د تخت واکی دشاه محمود هوتك لاس ته ورغلی وی او نو موړی پاچا چی په ۱۱۳۳ ھ ق کال فراه ته تللی ؤ، د کرمان د خلکو په غوښتنه هغی خوا ته و خوځید زو د کرمان خنك چی د شهداد خان له حملو نه په تکلیف ؤ، ده ته تسلیم او کرمان فتـح شو خو بیا وروسته د صفوی دربار له خوا لطف علی خان د کرمان د مدافعی له پاره را واستول شو.

(۱۰) زنی = ژنی = ځوانان = زلمی.

(۱۱) دا ناره د کرمان خواته د افغانی ځوانانو د تگ په وخت ویلـه شوی او د دوی د میړانی ستاینه پکی ده، د ناری د یو نکی افتخار او مباهات کوی چی پښتنو توره نو د خپل هیواد د خپلواکی تر لاسه کړه او اوس ـ اوس په پردیو هیواد و هم وینی تو یوی.

(۲۲) د دی مسری مفهوم گونگ غوندی دی خو ښکاری چی په اصل کې به داسی وی: «ترسر کیږی د بابا دعا وی غواړی» چی یعنی شاه محمود ترمخ ځـی د بابا دعا غواړی، ښایی د لته له بابا نه مراد میر ویس نیکه وی چی شاه محمود دده له زیارت کولو نه وروسته د ایران په لور روانیږی او یا هم ښایی کوم بـل روحانی شخصیت تری مراد وی.

محمود وا خیستله توره له گرجیا نو به مریان ښځی کړی-
جوړی (۱۳)

احمد خان میانی (۱۴) ښاغلی دی ز لمو کی
دکرمان کلاته خیبری د توپو گولی یی اوری په زینو-
کی (۱۵)

چی لکزی (۱۶) ته له کرمانه شاه راغبرگ سو
حسین خان توری ته لاس کی، د لکزی د حسین خان له لاسه-
مرگ سو (۱۷)

---

(۱۳) دا ناره هغه وخت شوی چی شاه محمود هوتك د خپل پلار دو صیت چی دمړینی په وخت یی ورته کړی وو: «اصفهان و نیسی ؟» د ترسره کولو په غرض د اصفهان په لور د لښکر تیاری وکړه او روان شو.

(۱٤) داسی ی په تاریخ کی معلوم نه شو خو له ناری څخه ښکاری چی د هوتکی دوری یو لوی مجاهد تیر شوی او د کرمان د کلا په نیولو کی یی چی د صفوی حاکم له خوا پکی حربی استحکامات شوی وو، ستره برخه در لوده.

(۱۵) دا ناره هغه وخت شوی کله چی محمود ددو هم ځل له پاره کرمان ته ولاړ او هلته یی د صفوی حاکم لطف علیخان سره پنجه ورکړه او بالاخره یی نوموړی لطف علیخان سو لی او د جنگ تاوان ورکولو ته مجبور کړ.

(۱٦) سلطان بیجن لکزی په ۱۱۳۳ هق کال د شاه محمود له خوا کله چی دی د فراه او کرمان په لور روان ؤ، د کندهار د حاکم په حیث و ټاکل شو.

(۱۷) دا ناره هغه وخت شوی کله چی د شاه محمود په غیاب کی لکزی بغاوت وکړ او د اغتشاش زمینه یی مساعده کړه، شاه محمود ددی خبر په اوریدلو سره له کرمانه بیرته راغبرگ شو خو دده له را رسیدلو نه مخکی د شاه حسین هوتکی له خوا د لکزی ژوند ختم شوی او دده دا ناوړه اراده شنډه شوی وه.

که سر دې اصفهان (۱۸) د ملکو سر دی
چې اصفهان نژدې کوي سید ال ناصر (۱۹) دی (۲۰)
که غوټون (۲۱) دې په ګلون (۲۲) کې لوی غوټون دی
ملوخان (۲۳) باندې ګرېږي د دښمن یې له تیري تورې-
کوټون دی (۲۴)

---

(۱۸) اصفهان په اتلسمه پېړۍ کې د صفویانو پایتخت ؤ څو په ۱۷۲۲ ع د ۱۱۳۵ هـ ق کال شاه محمود اصفهان فتح او د تاجپوشۍ مراسم یې هم هلته په ځای شول.

(۱۹) سید ال خان ناصر د هوتکي دورې له مشهورو سپه سالارانو او سرتیرو ځوانانو څخه ؤ چې د هوتکو د آزادۍ د تحریك له شروع څخه د هوتکیانو د سلطنت د سقوط تر وروستۍ مرحلې پورې یې د تیري کوونکو سره جنګونه کړي دي او د ۳۲ کلو په موده کې چې هوتکي اقتدار قایم ؤ ده خپله توره له لاسه نه ده ایښې او د یوه تجربه کار حربي جنرال په حیث یې تر هغه وخته چې نادر افشار له خوا د سترګو له نعمت څخه محروم شو، خپلې مبارزې ته ادامه ورکړه د سید ال ناصر په توره سربیره قلم هم په لاس ؤ.

(۲۰) دا ناره هغه وخت شوې کله چې په کرمان کې د شاه محمود ځینې حربي افسرانو ده ته د جنګ د قطع کولو پیشنهاد وکړ او غوښتل چې همدلته خپله دویش کړښه وباسي، خو سید ال خان دا پیشنهاد و نه مانه او د اصفهان نیولو پیشنهاد یې وړاندې کړ نو ځکه ورته په ناره کې د اصفهان نژدې کوونکی ویل شوی دی.

(۲۱) غوټون د لته د ټولۍ او غونډۍ په معنی دی

(۲۲) له ګلون څخه مراد ګلناباد دی.

(۲۳) ملوخان د امان الله خان عامیانه نوم دی چې نوموړی په تاریخ کې د امان الله سلطان په نامه مشهور او د ګلناباد په جګړه کې د هوتکي لښکرو د ښي اړخ قوماندان ؤ چې د ګلناباد په فتح کې یې لوی لاس درلود.

(۲۴) دا ناره هغه وخت شوې چې افغاني زلمیان په ګلناباد کې سره راټول شول او بیا یې له صفوي لښکر سره چې د محمد قلي خان او عبدالله خان په مشرۍ راغلی جګړه وکړه او هغوی یې له زیاتو تلفاتو نه وروسته مات کړل.

که ځار که پردی (۲۵) ځار که له کوټو نه (۲۶)
په ګلون یې ماتې وکړه څنې پاتې سوه ټوپک، توری-
توپو نه (۲۷)

سری ګولی دی د ګلون په میدان اوری
«نوری» (۲۸) پروت دی په میدان کې، ښایسته صورت یې
نه دی پله پوری (۲۹)

مندی کړی د اصفهان جګړی (۳۰) بوری
وسوه لس میاشتې (۳۱) جګړه په پردو (۳۲) باندی یې پخې-
کړلی توری (۳۳)

---

(۲۵) دلته مراد له پردو څخه د صفویانو لښکر دی.

(۲۶) کوټون د غوځولو، وژلو او ټوټې کولو په معنی دی چې دلته مراد تری د غلیمانو وژل دی.

(۲۷) دا ناره هغه وخت شوی چې د ګلناباد په میدان صفوی عسکرو له زیاتو تلفاتو نه وروسته ماته وکړه او خپل ټول حربی لوازم تری پاتې او افغانانو ترلاسه کړل.

(۲۸) د نوری په نامه په تاریخ کې څه معلومات نشته خو د هوتکی دوری دوه تنه ملی مبارزین یو د نور الله خان او بل د نور خان بړیڅ په نامه باندی شته چې په دی دوره کې یې زیاتې مبارزی کړی نو ښایی چې نوری هم له نوموړو دوو کسانو څخه د یوه تن د نوم عامیانه تلفظ او شهرت وی چې د ګلناباد په میدان کې مړ شوی دی او اغلباً چې نور خان بړیڅ به وی.

(۲۹) پله پوری د قندهار په محاوره کې سره نښتې ته وایی.

(۳۰) دلته د جګړی کلمه د قندهار په محاوره په دریو سیلابونو ویله کیږی او که دوه سیلابی تلفظ شی نو مسری سکته مومی.

(۳۱) په تاریخ کې د دی جګړی موده اته میاشتې ښودل شوی ده چې د ۱۷۲۲ع کال د مارچ د میاشتې په اووم شروع او د همدی کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۲ نیټه د شاه حسین صفوی په تسلیمیدو سره سرته رسیږی.

(۳۲) له پردو نه بیا هم مراد صفوی لښکر دی.

(۳۳) دا ناره د اصفهان د جګړی نه وروسته ویلی شوی چې د افغانی ځوانانو میړانه پکې ستایل شوی ده.

که ګوري له درستو (۳۴) ګوري ځانونه
په ناصرو پروڼ وسوه ستو بانونه (۳۵)

که ورونه د اصفهان دي دوه لس ورونه (۳۶)
پښتنو سره جلا کړل هوتک خلاص سوو د ټول پښتون-
مړونه (۳۷)

رحیم ګل سلیمانخیل (۳۸) و کړی ببکۍ
که زوندي ولاړ هم تر کوره را په سر کې ډرابیا توره
څونۍ (۳۹)

که زرو اصفهان کلا دزرو
شاه محمود ته ور نیولی وه ناصرو (۴۰)

که ځاځي تر شنه زړه مي وینې ځاځي
اصفهان پروڼ زموږ ؤ نن نادر ته نراو ښځې پکې ناځي (۴۱)

---

(۳٤) درسته: اسلحه او د جنګ وسله. یعنې پام کوي اوله جنګي وسلو څخه ځانونه وساتي.

(۳٥) ستو بانونه معلوم نه شول چې څه ته وايي؟ خو په قلمي متن کې ورسره لیکل شوي: «یو ډول وسله وه چې وچاوده».

(۳٦) ښايي چې په هغې وخت کې به د اصفهان ښاري کلا دوولس دروازې درلودې.

(۳۷) دا ناره هغه وخت شوې چې افغانانو اصفهان فتح کړ.

(۳۸) په هوتکي تاریخ کې ددې سړي نوم زما په نظر را نغی خو ښکاري چې ددې دوري یو جنګي سړی ؤ.

(۳۹) څونۍ د پېړونی یو ډول دی چې واړه واړه خالونه لري.

(٤٠) دا ناره هم د اصفهان له نیولو نه وروسته شوې چې د سیدال خان ناصر او د نورو ناصري تورزنو میړانې ته پکې اشاره ده.

(٤١) دا ناره هغه وخت شوې چې اصفهان د نادري قواؤ په لاس کې وتلی ؤ.

که جګړی د مهمان (۴۲) سختی جګړی
که هر څو پښتانه مات شو، په پردو (۴۳) کی یې ښی توری-
کړلی غوړی

میر علم خان (۴۴) له پښو جګ په تن وشیږی (۴۵)
د کرمان کلا یې چور کړه، نغاری یې په تهران وهلی-
کیږی (۴۶)

که خپه (۴۷) د مهمان میدانه خپه
په نادر دی پښتون سټ (۴۸) کی د شاه اشرفه (۴۹)
که ښاغلی دی ناصر زلمی ښاغلی
سیدال خپل نوم باندی باسی په تهران باندی یې ډیر-
زلمی و زلی (۵۰)

---

(۴۲) مهماندوست هغه میدان دی چی په ۱۱۴۲ هـ ق کال د شاه اشرف هوتکی او نادری قواوو ترمنځ پکی جګړه شوی ده.
(۴۳) له پردو نه بیا هم مراد صفوی لښکر دی.
(۴۴) میر علم خان و نه پیژندل شو.
(۴۵) وشیږی ته په متن کی ریږدی لیکل شوی دی.
(۴۶) نغاری وهل کیدل د شهرت ګټلو او د نامه تللو نه استعاره ده.
(۴۷) خپ = تیاره = دوپ او هم اصطلاحاً غمجن او ویر ژلی محیط ته ویل کیږی.
(۴۸) سټ = تباه = تس نس او قتل عام.
(۴۹) دا ناره هغه وخت شوی چی د مهماندوست په میدان کی افغانانو زیات تلفات ورکړل، دا ناره د ډیر تاثر په حال کی ویله شوی او هم څرنګه چی شاه اشرف مخاطب او مسؤول ګڼل شوی ښایی د ده حربی خامۍ ته پکی اشاره وی.
(۵۰) دا ناره هغه وخت شوی چی د هوتکی دوری نامتو جنرال سیدال خان ناصر په تهران کی د شاه اشرف له خوا د شهزاده طهماسپ مقابلی ته مامور شو، که څه هم د طهماسپ قواوو ماته وکړه خو افغانانو هم ډیر ووژل شول نو ځکه د ناری ویونکی په دی تلفاتو تأثر ښکاره کوی.

سیدال خان ویل لښکر می سو بزی - بزی (۵۱)
آزاد خان (۵۲) می چې توری شپې وخوړ کهور ځي

آدم خان اندړ ه (۵۳) ودی خیزولی
دغه ځای دجګړی نهؤ ، باندی خواری دی کړی ډیری-
ناز ولی (۵۴)

کهلوګی دی د «مهمان» پهسر لوګی دی
سیدال کړی ناصری خواری، پهمیدان کی پروت سل کسه-
عمرزی دی (۵۵)

---

(۵۱) بزی - بزی = ټوټې - ټوټې ، مراد ترینه هغه تلفات دی چې افغانی عسکرو ورکړی دی.

(۵۲) سلیمانخیل آزادخان پهتاریخ کې هم ذکر شوی دی خود شفاهی روایت پهاساس سلیمانخیل آزادخان دنادرافشار له سقوط څخه وروسته همد آذربائیجان پهبرخه کی شپږ کاله پاچاهی کړی اوسکهئی وهلی ده او هم هماغلته وفات شوی دی. لهدی نارې څخه ښکاری چې آزاد خان دهوتکو داقتدار پهوخت کی هم دسیدال خان ترسیوری لاندی جګړه کړی اوله افغانی قواؤ سره ایران ته تللی دی. ښاغلی کهزاد په «مسکوکات افغانستان در عصر اسلام» نومی رساله کی د آزاد خان دتبریز ضرب سکه داسی ښودلی ده:

دسکی پهمخ: لااله الاالله محمد رسول الله.

دسکی په شا: تا که آزاد در جهان باشد سکهٔ صاحب الزمان باشد

(۵۳) ښکاری چې آدم خان اندړ هم دهوتکی قواؤ مهم رکن ؤ.

(۵۴) دا ناره دافغانی محوانانو دتلفاتو پهوخت کی دتاثر پهسبب ویله شوی او د آدم خان حربی خامی ته پکی اشاره شوی ده.

(۵۵) دا ناره هغهوخت شوی چې دمهمانندوست پهجګړه کی بیا هم افغانانو دسیدال ناصر ترمشری لاندی دتور زنو دکموالی لهامله زیات تلفات ورکړل.

بابول (۵٦) وویل سل می ایښی خورنی وری (۵۷)
نیکانمی مروردی په میدان می خوارك نه کوی گولۍ

چی پتی (۵۸) په سیدال خان باندی غوټی کړی
دتورو مشغول سوه، سیدال خان دستی دهٔ ال تنی وړپری-
کړی (۵۹)

آزاد خان سلیمانخیل بیا منگولی سری کړی
په منځ میدان ورگډ سو د مراد علی (٦۰) غاړی یی بیښ-
کی ډرپری کړی

که پنگی (٦۱) دپردیو تر ملا پنگی
ملوخان ورپسی سپور سو، ملو گل لا په وتاك کی ښخلی بنگی

له جگړ ی د پر دو لښکرفانی وو
خو نادر (چی) دلته راغی د نادر راتگ یو کانی اسمانی وو

سیدال ویل په کلموی پروښتون (٦۲) دی
د نیا دغم په ورځ پیداده، د نیاز منو ځای په ځای باندی-
بیلتون دی

(٥٦) له بابول نه مراد بابوجان بابی دی چه د توری او قلم خاوند
ؤ او په هوتکی دوره کی یی زیاتی مبارزی کړی دی.
(٥٧) ددی مسری دا برخه گونگه ده.
(٥٨) پتی د فتح عامیانه تلفظ دی او شایی چی مرا د فتح علی
افشار وی.
(٥٩) دا ناره هغه وخت شوی چه د نادر افشار له خوا د کلات د نیو لو
په نیت د فتح علی افشار تر مشری لاندی هغی خواته فوج واستول شو
داوخت د کلات د کلا ساتونکی سیدال خان ناصر ټا کل شوی ؤ.
(٦٠) مراد علی هم کوم، حربی شخص نوم دی.
(٦١) پنگی د سرمایی په معنی دی چی مفرد یی پنگه ده.
(٦٢) پرو ښتون د پرور ښت په معنی دی او مطلب یی په کلمو روزل
شوی دی.

زه (۶۳) هله‌وم دخپل ورور مرگی نتلی (۶۴)
د «میانجی» (۶۵) مرگی می وکښی دزړه ولی (۶۶)
دلاور (۶۷) دمړ و په منځ کی میانجی غواړی
میانجی پروت یوی گوښی ته، دمیانجی په شهادت پښتانه-
زاړی

دزعفران (۶۸) احسان می زړه دی ورور ه وړی
یومی راوستل ور یرونه، بل یی دی دشاه محمود تا بوت-
راوړی (۶۹)

---

(۶۳) له «زه» نه مطلب بی بی زینبه ده.

(۶٤) نتل د لوټ کیدلو اوزبون کیدلو معنی لری.

(۶۵) دمیانجی اصلی نوم پیرمحمد او مشهور په میاجی ؤ، پیرمحمد میاجی دهوتکی دوری یو روحانی او حربی شخص او ملی مجاهد ؤ.

(۶۶) دا ناره بی بی زینبی هغه وخت کړې چې پیر محمد میاجی په ۱۱٤۳ ه ق کال دشیراز تر تخلیه کولو وروسته د «فساد» نومی پله دساتلو په وخت کی له نادری قواؤ سره تر جګړې وروسته وفات شو.

(۶۷) دا سړی معلوم نه شو خوښکاری چی دهوتکی دوری له و تلو اشخاصو څخه ؤاو دشاه اشرف دقواؤ په جنګ کی دنادری قواؤ سره په مبارزو بوخت ؤ.

(۶۸) زعفران هم دهوتکی دوری یو تکړه او و تلی شخص دی چی په توره سربیره یی قلم هم په لاس کی درلود، دپټی خزانی مؤلف د «عالم جامع الکمال» او د «مدار المهام او صدر الافاضل» په لقبو نو یاد کړی دی.

(۶۹) دا ناره هغه وخت دبی بی زینبی له خوا شوی، کله چی دشاه محمود تر وفات وروسته دزعفران په وسیله دشاه محمود تابوت کندهار ته راوړل شوی او هم یی دمحمود هوتک کړی راوستی دی.

که زمری دی شاه اشرف دجنگ زمری دی
شاه اشرف ته کامرانغی، د نادر په اشرف خان محکه بری دی (۷۰)

حسین خانه خدای درو ستی دوروروا ردی (۷۱)
اشرف وزی له سیستانه د مستنګ (۷۲) په لورروان دی (۷۳)

زینبو خوری په څه دی ګریز ز ګیروی وی
که مامړ نادر شاه نکی خوری زما به بیا په سردتا تکری -
وی (۷۴)

که ناورین دی په هو تکو بیا ناورین دی (۷۵)
ابراهیم خو اشرف وزنی ؛ گرم سیل ته ور محی مخ ته اس یی زین -
دی (۷۶)

---

(۷۰) دا ناره هغه وخت شوی چی دا شرف قواؤ ته څو څو محله د نادری قواؤ له خوا تلفات وا و بشتل او علت یی داؤ چی د کورنی اختلاف په سبب له کندهاره د شاه حسین له خوا اشرف ته مرسته ورونه لیږل شوه اودی په بردی وطن کی د ښمن ته له محدود و قواؤ سره پاتی شو څو له یو شمیر کمو عسکرو سره د سیستان له لاری کندهار ته راروان شو، خو په لاره کی ووژل شو.

(۷۱) دا ناره د شاه اشرف آخر نی حال ښیی، چی د بلوڅو خوا ته ته.

(۷۲) مستنګ اوس هم په دغه نامه په بلوڅو کی واقع دی.

(۷۳) په دی ناره کی محینی خلك سهو آدا اشرف نوم وایی چی صحیح نه دی.
(انجمن)

(۷٤) دا ناره د شاه حسین له خوا خطاب بی بی زینبی ته دی (انجمن)

(۷ ۵) ناورین= غم= ماتم=مصیبت=سوگ.

(۷٦) دا ناره د تأثر په حال کې ویله شوی او یکې ښکاره شوې چی ابراهیم خان د عبدالله خان بلوڅ زدی د شاه اشرف وژلو ته روان شوی دی، دی سړی شاه اشرف د ښور اوك په زرد کوه کی ووا ژه. محینی خلك سهو آدا براهیم پرمحای د شاه حسین نوم اخلی، خو صحیح نه ده. (انجمن)

که بکی (۷۷) پښتنی نجو نه‌دی بکی
نادر لوړی تر شاه برج (۷۸) کړی ځز نبور کی (۷۹)
که اوردی دزینو په‌وره کی اوردی
پښتانه په‌غره کی تیت دی، شاه حسین له نارنجه (۸۰) جنګ ته سپوردی

که پر بری دخزی (۸۱) دسرپه بری
نادر راوستی له‌دروخوا لښکری (۸۲)
که مرګی دی دسا کزودمیان مرګی دی
نه حسین دمرګ وړدی، نه اشرف په پښتو باندی هلکی دی (۸۳)
شاه حسین ویل اشرف ته بدی ردی
یومی ورورورو زلی ندی بل یی پر یښودی زمادوریرو کړی (۸۴)

---

(۷۷) بك برند ید لو، منتظر ید لوا ومتوجه کید لو ته وایی.

(۷۸) شاه برج دقندهار دکلا یو برج ؤ چی دقیتول دغره په لمن آباده شوی وه.

(۷۹) زنبورك توپونه دا تلسمی پیړی په جنګونو کی در نه‌وسله وه چی حتی دنادری قواؤ دتوپونود ګولیو وزن دهغی وخت او، اتو منو ته رسیده.

(۸۰) نارنج دهو تکی دوری مشهوره ماڼی ده، چی تراوسه یی هم خرابه دقندهار په زاړه ښار کی شته.

(۸۱) خزه: دښکار او جنګك پټ اومحکم ځای.

(۸۲) کله چی نادر دکند هار مشهوره کلا محاصره کړی او له هری خوا یی حملی بری کولی، دا ناره ویل شوی ده.

(۸۳) دا ناره دهوتکو نا کامی ښیی.

(۸۴) په‌دی ناره کی هغه وخت تمثیل شوی چی محمود په اصفهان کی مړ شواو کلای یی هودی وی.

زینبې ویل نن مې زړه له غمه بچ دی
حسین گل (۸۵) توره ښکاره کړه، له نادري دپښتون-
اخیستی غچ (۸۶) دی (۸۷)

دښالم (۸۸) په کورکې جوړ خدای څه فتور (۸۹) کې
یو وار ولاړ محمود له منځه بیا یې مړ اشرف یا تورکې (۹۰)

شاه حسین ویل په نادر بندوو تول روخی (۹۱)
خوزما قوم ناپوه ؤ، نادر ما ته کړه زما ملا په خپل توخی (۹۲)

---

(۸۵) حسین گل دزینبې له خولې شاه حسین ته خطاب شوی چې دمینې، تجلیل او تحبیب له پاره گل یکې زیات شوی دی اودوړو سره دمشري خوړ دمینې ښکار ندوی دی.

(۸۶) غچ = کینه = بغض = انتقام = عناد = دښمنی او حتی کله کله دجنگ او جگړې په مفهوم هم استعمالیږي.

(۸۷) دا ناره هم هغه وخت دبي بي زینبې له خوا شوی کله چې حسین دنادر مقابلې ته ملاوتړي له.(انجمن)

(۸۸) ښالم خان دمیرویس نیکه پلار اودشاه محمود او شاه اشرف نیکه دی.

(۸۹) فتور دگډوډۍ، بې ترتیبۍ، خرابۍ او خلل په معنی دی.

(۹۰) دا ناره هغه وخت شوی چې دښالم خان په کورنۍ کې دشاه محمود او اشرف په مرگ فتور لوید لی دی.

(۹۱) روخی = لوړی = طرفونه = خواوې.

(۹۲) ښکاري چې دنادري قواؤ له خوا په جنگ سربیره دافغانانو دبې اتفاقۍ له پاره هم کار کیده چې یو توخی هم دشاه حسین مخالف گرځیدلی وو.

او رولی پښتنو مردك ۀ بری (۹۳)
نادر باسی ددووغرو ترترغ (۹۴) لښکری

حسین‌خان ویل څه نادر څه‌یی بری دی
چی‌په جنگ کی یی نادرولید ویل هیڅ‌شك نشته‌شین-زمری دی

چی نادر ترغره ایستلی رسالی (۹۵) دی
سیدال باندی وروزی‌د نادر په‌اوستوربل (۹٦) باندی-حملی دی

گرزوله سیدال اسپه لنډه-لنډه
شاه‌حسین همورووت ایرانیان‌یی تر نادره کړه په منډه

که‌جنگه دورځی (۹۷) سخته‌جنگه
شاحسین په‌شانځی کوی ویره‌درا تلونکی وخت له ننگه (۹۸)

---

(۹۳) له‌مردك اوۀ برونه گولی‌او تیږی مراددی چی ښکاری پښتنو دنادری قواؤ په‌مقابل کی په گو لیو سربیره حتی له ۀ برو نه‌هم کار اخیستی دی.

(۹٤) ترغ دځنگك، طرف او لوری په معنی دی، خود لته دغرو دمنځ معنی ورکوی.

(۹۵) رسالی= سپاره= بوحونه‌او لښکری.

(۹٦) اوستوربل: د لښکروورو وستی صف.

(۹۷) که څه‌هم دا کلمه ورځی لیکله‌شوی‌خوځرنگه چی مسری یی سکته کېږی نوښایی چی ددی کلمې اصل بل څه‌اودی‌سیلا بی کلمه‌وی.

(۹۸) دا ناره دتشجیع له پاره کومی پښتنی میرمنی ویلی ده. لکه چی په‌اکثرو جگړوکی پښتنو میرمنو داکار کړی اود رزمی سندرو په‌وسیله‌یی ځوانان‌جنگك ته تشجیع کړی دی.

له جګړې نادر بېرته پښاوزی(۹۹)
شاه حسین زمری دی، شاه حسین په ښار کلا ننوزی
که باسی نادر فوج کلات(۱۰۰) ته باسی
ډار کوي له دې خبرې سلیمانخیل، اندړ سهاك بې جنګ-
تېراسی(۱۰۱)
لیونی له ډېره ګروم(۱۰۲) پښتنی دی
محمدخان(۱۰۳) نادر نیولی، په پښو کې یې بې دوله-
زولنې دی(۱۰۴)

---

(۹۹) پښاوتل: عقب نشینی.

(۱۰۰) کلات هغه سیمه ده چې د غزنی او کندهار ترمنځ پرته ده، د تاریخ په اوږدو کې په بېلو-بېلو نومونو یاده شوې چه افغانستان ته د عربو د راتګ په وخت کې د زاول، زابل، زاولستان او زابلستان په نامه مشهوره وه چې وروسته بیا په کلات واوښته او اوس - اوس یې بېرته خپل پخوانی تاریخي نوم راژوندی شوی او د زابل د ولایت په نامه یادېږي.

(۱۰۱) دا ناره هغه وخت شوې چې نادر د فتح علي په مشرۍ د کلات د کلا د فتح کولو په نیت هغه لور ته لښکر واستاوه او په ناره کې د دې لښکر کشۍ علت دا ښودل شوی چه نادر د سلیمانخیلو، اندړو او سهاکو د مغښوبولو په غرض دا کار کړی دی.

(۱۰۲) ګروم: غم.

(۱۰۳) محمدخان د شاه حسین زوی و چه د کلات د کلا په ساتلو کې له سیدال خان ناصر سره یو ځای و کله چې نادري عسکرو نو موړې کلا فتح کړه، محمد یې هم بندي او بیا وروسته یې له شاهي کورنۍ سره یو ځای مازندران ته تبعید کړ.

(۱۰٤) څرنګه چې محمد د شا حسین زوی او یو نازولی هلك و. نو څنګه د ناري ویونکي چې د ده په پښو کې د غلیمانو لوی او بې دوله ځولنې ویني له ډېره تاثره یو ډول تنې ناره کوي.

پښتنې لا د سیدال په ستر ګو زاړې ی
د نادر له کام نه نور سپین ږیری غواړې (۱۰۵)
له زمریانو سو ی خالی د هیواد درګی (۱۰٦)
نادر و کښې د سیدا ل میړ نی ستر ګې (۱۰۷)
له زړا د پښتنو په مخ سرپاړ ی (۱۰۸)
د سیدال ستر ګی نادر ایرانی کاږ ی (۱۰۹)
که ګړ ی په غلجی بدبختی ګړ ی
ځکه ولی نادر ښار دغره له پړ ی (۱۱۰)
خد ایه څه سوه زرملی پیاده او پلی
شا ه برج نادر کوره کی، اوس دغره څه د نارنج سرو نه-
ولی (۱۱۱)

---

(۱۰۵) دا ناره هغه وخت شوی چی نادری قواؤ د کلات کلا فتح
او نو میالی افغانی جنرال سیدال ناصر یی اسیر کړ چی بیا وروسته
د نادر افشار په امر ددوا ړو ستو ګو له نعمت نه محروم کړ ی شو.
(۱۰٦) درګی = ځنګلونه.
(۱۰۷) دا ناره هغه و خت شوی کله چی سیدال خان د کلات د کلا
له اشغال نه وروسته د نادری قواؤ په لاس اسیر او د نادر افشار په امر
دد واړو ستر ګو له نعمت څخه محروم شو.
(۱۰۸) سرپاړی یوه ناروغی ده چی مخ او سر پکی پړ سیږی.
(۱۰۹) دا ناره هم د سیدال خان دستر ګو کښلو په موقع شوی ده.
(۱۱۰) دا ناره هغه وخت شوی کله چی له یو نیم کلنی محاصری نه
وروسته د کندهار په کلا د نادری قواؤ سختی حملی شروع شوی او دغره
له خو ا یی پر ښار ګولی اوروو لی.
(۱۱۱) دا ناره هم د کندهار د کلا دبوی برخی د اشغالیدو په موقع
شوی او په همدی موقع نادری قواؤ د نارنج مشهوره ماڼۍ تر اور لاندی
ونیوله.

که خلاصي کړی نادر کړي خلاصي لاري
تر هوتك او ناصر چارسم د توپکو لامبو طي کوي-
واري (۱۱۲)

که حوري د هوتکو ښځې حوري
په منځ میدان ولاړي له دښمن سره په کلکه(۱۱۳) وهي-
توري(۱۱۴)

که کافر دي غلجي ټول په زړه کافر دي
شاه حسین ته خوك راښله په وژلو يي يو هوتك او بل-
ناصر دي(۱۱۵)

که اور دی دزینو په وره کي اوردی
ایر انیان په ښار ګډیږي، شاه حسین له شاه برج میدان ته
سپور دی(۱۱۶)

---

(۱۱۲) دا ناره هغه وخت شوي چي نادري قواؤ له هري خوا نه د کندهار د کلا لاري خلاصي او کلا يي فتح کړه خو بيا هم هوتکي او ناصري توري له دوي سره په کلکه جګړه کوله.

(۱۱۳) په اصل متن کي دا کلمه «کله ـ کله» ليکله شوي .

(۱۱٤) دا هم د کندهار د جنګي کلا له اشغال نه وروسته ويله شوي چي په دي موقع په ښځني څوانانو سربيره ښځني ښځمنو هم په جګړه لاس پوري کړي ؤ.

(۱۱۵) د اناره هغه وخت شوي چي د نادري قواؤ مقابلي ته يوازي هوتك او ناصر پاتي وو.

(۱۱٦) دا ناره هم هغه وخت شوي چي نادري عسکرو د کندهار جنګي کلا اشغال کړه او شاحسين هوتك د مقابلي په غرض په اس د اسپور او د جګړي په ميدان را ګډ شو.

که څټی (۱۱۷) د شاه حسین توری څټی
ایرانیان ځنې په شا سو ود «سورکي» په حدېږ جوړې-
دمړ و کوټی (۱۱۸)

په شاه برج کې زینبه ګړندۍ نبوري
په خپل کام باندې زاړي له هر خوا ګولۍ پې (۱۱۹)
اوري (۱۲۰)

څوک خبر وو چې تقدیر به کوي داسې -
شاه حسین به نادر نسې بیاپې (۱۲۱) لوري د ایران ته بندي
باسي (۱۲۲)

که ولاړې شاه حسین ولاړ په ارمان کې
ده ویل کام به مې راسې د نادر او ما به جنګ وی په میدان-
کې (۱۲۳)

---

(۱۱۷) د لته د څټ کلمه د ښې، قوي او خوړوونکي توري په معنی استعمال شوې ده ښایي څټی وي، یو هغه توره چې د ښمن څټي.

(۱۱۸) دا ناره هم د افغاني او ایراني تورزنو د تن په تن جنګه په موقع ویله شوې خو «سورکي» معلوم نه شو چې کوم ځای ته ویل کیده.

(۱۱۹) پې د په پې مخفف.

(۱۲۰) دا ناره هغه وخت ویله شوې چې بې بې زینبه د افغاني ځوانانو د لیډرۍ له پاره چې د نادري قواؤ له خوا وژل شوي وو، میدان ته راوتلې وه.

(۱۲۱) بې د به پې مخفف دی.

(۱۲۲) دا ناره هغه وخت شوې کله چې شاه حسین هوتک په ۱۱۵۰ هق کال د نادري قواؤ په لاس کې اسیر پروت او له خپلې قولی کورنۍ سره د ایران مازندران ته تبعید شو.

(۱۲۳) دا ناره هم د هغه تأثر په اثر شوې چې د نادري قواؤ او د هوتکو جګړې جاري وې او شاه حسین د پښتنو د نورد کومك ارزو درلوده.

د نادر چې آرزو د هند په خوا سته (۱۲۴)
بل څوك نه دی ځنی پاتی «غني جان» او «پیر محمد» (۱۲۵)
ورولی لاسته

که لښکره د نادر بده لښکره
نه زلمیان په ځای ویده سوو نه وهنت (۱۲۶) څه لاس د پوغلو-
له ځیگره

که غور ځی په قیتول (۱۲۷) کی گولی غور ځی
شا گل (۱۲۸) پروت کاږه بریتو نه یې له پښو تر سره گرځی
که بده شاه حسینه! ورور ه بده
په یو کال نادر مات نه سو باندی وزنی ولی قوم ترا بده (۱۲۹)
په مدت (۱۳۰) سهاك د تور و پلو شی دی

---

(۱۲۴) کله چې نادر د کندهار تر فتحې وروسته د هند د نیولو په نیت د ځ یلی په لور روان شو ، ویله شوی ده.

(۱۲۵) دا دواړه کسان و نه پیژندل شول چې څوك دی؟ شاید مراد غني خان دالکوزو مشر وی.

(۱۲۶) وشنت د جدا شو په معنی ، یعنې د پیغلو لاس له زړو نه بیل نه شو او تل به یې له ځیره درده زړو نه نیولی وو.

(۱۲۷) قیتول د هغه غره نوم دی چې د کندهار جنگی کلا یې په امن آباد ده وه.

(۱۲۸) دا سړی هم و نه پیژندل شو.

(۱۲۹) دا اشاره بی بی زینبې د کندهار له یو کلنی محاصرې نه وروسته په خپل وزور کړی ده او اخطار یې ور کړی چې ستا د مقاومت نتیجه دعوا نا نو له قربانی نه پرته بل څه نه ده.

(۱۳۰) دا سړی هم و نه پیژندل شو خو ښکاري چې به کام سهاك د دمای مجاهدینو لوی ډ کن ؤ.

ډال (۱۳۱) یې همااتاك (۱۳۲) پاته خو په لاس یې دفولادو-
دسکلې (۱۳۳) دی

که زوره دخالق له لوېه زوره
چالید لی زینو به (۱۳۴) وه، نن تر ښاروز ی ټوپیا نو ته-
سر توره (۱۳۵)

که تنګ دی نادرخان په ژوند کی تنګ دی
په زور راغی دښار منځ ته په برجانود پناه باندې یې-
جنګ دی (۱۳۶)

که اړه (۱۳۷) پښتون نر ښځه وه اړه
نادر کړه شروع له درولوروجګړه (۱۳۸)

که زور دی دبدې (۱۳۹) په برج زور دی
شاه حسین (۱۴۰)...

---

(۱۳۱) ډال د سپر په معنی دی.

(۱۳۲) اتاك د اطاق مغفن او عامیانه شکل دی.

(۱۳۳) دسکلی د دستکشو په معنی دی.

(۱۳٤) زینو به دزینبی یو تلفظ دی.

(۱۳۵) دا ناره هغه وخت شوی کله چه بی بی زینبه د کندهار دکلا له اشغال نه وروسته د پښتنو ټوپیانو دلیدنی له پاره راوتلی وه.

(۱۳٦) دا ناره هغه وخت شوی چی نادری قوا وی د کندهار په کلار ادننه شوی او دپناه په برجونو یې دګولیو اورول شروع کړل.

(۱۳۷) اړ = محتاج او مجبور.

(۱۳۸) دا ناره هغه وخت شوی چی نادر د کندهار په جنګی کلا له درولورو سخته جګړه روانه کړه.

(۱۳۹) دبدې برج د کلا لوی برج.

(۱٤۰) دا مسری نوده ترلاسه نه شوه

که ځاله زړه مې دی د غمګې ځاله
ماوی را به سلیمانخیل سی اوس خبر سوم له ړندوالی-
د سیداله

که خیال سو د نادر دغسی خیال سو
اوس به زر قندهار خلاص سی چې په دواړو سترګو-
ړوند جنګی سیدال سو

زینو بی له زړه او یاسته تور کسی
وی ویل سلیمان (۱۴۱) رانغی، نادر زور سو اوس-
زما د پلار ښار نسی

نادرخان چې وکاته د افغان ننګ ته
په دی یوه سو جنګ او بد یری، سلیمانخیل، اندړ، سهاک-
راځی دی جنګ ته (۱۴۲)

شاه حسین ویل د نادر بیلوی ده شکه (۱۴۳)
سلیمانخیل، اندړ رانغلو، په بنګو (۱۴۴) ترکی ولویده-
څه ټکه (۱۴۵)

---

(۱٤۱) دا ناره هم هغه وخت شوی چې د هوتکو په مرسته سلیمانخیل را نغلل او دوی یوازی له ډیری کمی قوی سره د نادری لښکر و په مقابل کی پاتی وو.

(۱٤۲) دا ناره هغه وخت شوی چې نادر فکر وکړ چې دی جنګ ته ښایی دا قامونه هم راشی نو ځکه یی د دوی د مخنیوی په غرض د فتح علی په مشری د کلات د کلا په لور لویه قوه واستوله.

(۱٤۳) دا یوه اصطلاح ده چې دلته د نادر د بخت د بیداری په معنی استعمال شوی ده.

(۱٤٤) د ښاغلی غلام محمد ترکی په قول بنګو د یوه مشهور ترکی نوم دی چې له همدی کورنی څخه بیا د «صاحب جان» په نامه یو بل شخص د انګریزانو په جګړه کی هم برخه اخیستی ده او په کندهار کی دا بدله ده په نامه مشهوره وه: «مسته ساب جانه غازی جنګ پر لاهور دی».

(۱٤۵) ټکه — تندر.

## ((۱٤))

# کاکړۍ

## یا

## دکاکړو غاړې

«کاکړۍ» هم لکه د لنډیو غوندې د پښتو د اولسي نامعلومو سندرو یوه مهمه برخه ده چې د نورو ژبو په ادبیاتو کې یې ساری نه لیدل کېږي؛ که څه هم له نامه څخه یې، د کاکړو غاړې د پښتنو د کاکړو په کام پورې مربوطې ښکاري خو اوس د ټولو پښتنو شریک مال دی او په ټوله لر او بر پښتونخوا کې ویلې کېږي.

کاکړیو ته یو شمېر خلک «کاکړۍ غاړې» او «کاکړۍ لنډۍ» هم وایي اویوالي د «نارو»، «لنډیو» او «غاړو» په نامه هم یادېږي لکه په خپله په کاکړیو کې هم دا ټول نومونه ورته اخیستل کېږي:

پرېږدي، پرېږدي «کاکړۍ» اواز مې ټپ و دریږي
«کاکړۍ غاړې» لا ښې دي ښې د خیال «ټپې» پکې دي
ستا «لنډۍ» دي بې معنا پر «لنډۍ» غوږ و نیسه زما

«لنډۍ» مې راسره وايه
زړه مې سرې (۱) دې څلور ځايه
ما «لنډۍ» ورته کولې
بوره ناسته وه ژړلې
هر سرې «نارې» کوي
«نارې» د ګران خوندرا کوي

د کاکړيو ويونکي او شاعر معين او ټاکلی نه دی او لکه د لنډيو خوندې ټولو پښتنو په ګډه ويلي او وايي يې، کاکړۍ په زيات شمير د پښتنو له خوا جوړې شوې او اوس هم جوړېږي، په دې غاړو کې هر ډول لکه: رزمي، بزمي، ديني، فلسفي، اجتماعي، عشقي، کوميډي، تراژيډي او نور داسې موضوعات راغلي چې د پښتنو د اولسي، کليوالي او کوچي ژوند سره اړه لري او په دې وسيله د کاکړ وغاړې د پښتنو د کليوالي، اولسي او کوچي ژوند هينداره بللې کېږي. د کاکړ وغاړې هم لکه د لنډيو غوندې هره يوه سرتړلی زنځير دی چې په لومړي سر يې شروع او په دوهم ختمېږي او سره له دې چې يو څه سواليه او ځوابيه غاړې يې شته خو بيا هم په يوه غاړه کې سوال او په بله کې ځواب ختم شوی چې بيا هم هره يوه ځانګړی موجوديت او استقلال لري لکه:

- د بوټو تڼۍ تړې  ګله په کومه راځې؟
- د بوټو تڼۍ تړم  د ښکار ميلې ته ځم!

کاکړۍ د اولسي ادب يوه ښکلې او رنګينه برخه ده چې هر بيت يې په ښکلو، ساده، عام فهمه او اولسي تشبيهاتو او استعاراتو پسولل شوی او د خلکو پر ژبه د خلکو د ژوند اړخونه پکې منعکس شوي دي.

## د کاکړيو جوړوونکي:

ښکاري چې کاکړۍ د لومړي ځل له پاره د پښتنو د مشهور قام (کاکړو) له خوا ويل شوې وي او بيا وروسته يې د عام مقبوليت په وجه

(۱) سرې د سوړې مخفف او د لته په يوه سيلاب ويل کېږي.

په قولو پښتنو کې شهرت موندلی او په لره او بره پښتونخوا کې خپرې شوې وې او ددې وجه دا هم کېدای شي چې همدا اوس هم د کاکړیو په جوړولو کې تر نورو پښتنو نه د کاکړو ښځمنې زیات لاس لري او هم د تخمین او اټکل له مخې ویلای شو چې ددې غاړو د ویلو لومړی ځای «ژوب» او د کسې د غره لمنې دي چې له پخوا څخه د پښتنې ثقافت لوی مرکز پاتې شوی او په سوونو کاله پخوا په همدې ځای کې د بیټ نیکه (رح) خواږه مناجات انګازه کړې دي؛ او هم د زیاتو کاکړیو جوړښت د ژوب او شا او خوا له اصطلاحاتو او لغاتو سره سم دی.

د کاکړو غاړې له پخوا را هیسې جوړې شوې او اوس هم د پښتونخوا په غریزو سیمو کې لا جوړېږي؛ د «کاکړۍ لنډۍ» د رسالې مؤلف ښاغلی صاحبزاده محمد حمید الله د پښین، عقیده لري چې د کاکړیو شمېر له پنځوس زرو نه اوړي خو څرنګه چې لکه د پښتو د نورو شفاهي ادبیاتو غوندې زیات شمېر یې هېرې شوې او د هغو کسانو له سینو سره چې دا غاړې یې په یاد وې خاورې شوې دي نو ځکه اوس په دومره زیات شمېر کې نشته خو بیا هم پښتنې ښځمنې یې د خوښۍ او غم په هر راز او ښتو او غیر عادي حالاتو کې چې د یوه شي زیات تأثیر پرې وشي وایي نو په دې حساب که د یوې خوا د واده او ښادۍ مجلسونه پرې تودوي نو له بله پلوه کوم وخت چې کوم ځای ته واده او پردیسه شي نو خپل د پردیسۍ غم پرې غلطوي او د خپل ناکراره زړه تسکین پرې کوي؛ اکثره ښځمنې زړې غاړې وایي خو ځینې ـ ځینې چې د زیات تأثیر او تأثر په ځپو کې ډوبې شي نو له موقع سره سمې نوې غاړې هم جوړوي او وایي، چې بیا خوله په خوله له یوه نه بل ته نقلېږي او له بل نه بل ته. سربېره پر مېرمنو د کاکړیو په جوړولو کې پېغلې، نجونې او ځوانان هم برخه لري او وایي یې چې په دې اساس کاکړۍ د ټولو پښتنو ګډ او مشترک مال بللای شو.

## د کاکړیو جوړښت:

د کاکړیو هره غاړه دوې لنډې مسرې لري چې دواړې مسرې یې په

یوه وزن او یوه قافیه وي او جوړښت يې لکه د عروضي نظم د لنډې بحر (اته څپه ايز) مثنوي غوندې دی؛ که څه هم ښاغلی صبا حبز اده حمید الله په خپله ذکر شوې رساله کې اټکل کوي چې ښايي د کاکړو غاړې ددې ژبې له مثنوي څخه متأثرې او ددې مثنوي په تقلید ويلې شوې وي خو دا اټکل سم ځکه نه ښکاري چې کاکړۍ اکثره د عامو او بې سوادو پښتنو ښځمنو له خوا ويلې شوې چې هغوی نه يوازې دا چې ددې له مثنوي نه يې تقلید کړی وای بلکه اصلا ددې له مثنوي سره څه چې حتی له ددې سره هم آشنا نه وي.

د کاکړۍ يوه هره مسرۍ اته سیلابه لري لکه:

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تو | ره | شپه | ده | تو | ره | خو | نه | | شین | خا | لی | نه | ده | مه | لو | مه |
| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | ۸ | | ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | ۸ |

کله ـ کله دواړې مسرۍ اووه سیلابه هم راځي لکه:

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | بو | قو | ت | غی | ت | ږم | | د | شا | کار | مه | لی | ته | ځم |
| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | | ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ |

او کله ـ کله داسې هم وي چې د غاړې لومړۍ مسرۍ اووه او دوهمه اته سیلابه راشي لکه:

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | بو | قو | ت | ڼیه | ت | ږی | | ګ | ډه | په | کو | مه | را | څه | څي؟ |
| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | | ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | ۸ |

همدارنګه کاکړۍ يو کې هم لکه د نورو اولسي سندرو غوندې دوه سره لنډې حرفونه لکه: «م» او «ن»، «ر» او «ړ»، «س» او «ص» او نور قافیه سره جوړولای شي لکه:

د ما روپ چټي په نامه دی ژړ هلکلان د خراسان دی
زړه مې نه دی پرکراره بوري را که د خولې لاړه

زه چې تلم پورې ژړل دې پرې وهلې وه ژاولن
سپینه خوله لکه ګیلاس ګل د خوارې نه دې راخلاص

د کاکړیو دویلو ترتیب دا دی چې لومړی مسرې یو ځل او دوهمه مسرې دوه ځله په ډېر زړه وړونکي او خوږ ډول سره ویله کېږي.

په هر حال د کاکړو غاړې ډېرې روانې، ساده، دعوامو په ژبه او له خوند او جذب څخه ډکې دي او اعجاز خو یې دا دی چې په دې دومره لنډه دوه مسره ایزه غاړه کې یو پوره او مستقل مطلب ځای کړې شوی دی چې هره یوه یې په یوازیتوب سره خپل مطلب ښکاره کوي او د اوریدونکي په ذهن کې د مطلب د نیمګړتیا په شکله پوښتنه نه پرېږدي.

## د کاکړیو تاریخي بڼه او په کاکړیو کې تاریخي مواد:

که موږ دا ومنو چې د کاکړیو لومړني جوړونکي کاکړان یعنې د کاکړ نیکه اولاده ده نو بیا د کاکړیو د منځ ته راتللو وخت له اسلام نه را وروسته او هغه وخت دی کله چې د کاکړ نیکه اولادو نه زیات او د «کاکړ» په نامه یو ټبر ترې جوړ شو او که ومنو چې بنایي دا ډول غاړې له پخوا څخه موجودې وې خو په وروسته وختونو کې له دې کبله چې کاکړو ډېرې اختیار کړې نو ددوی له نامه سره وتړلې شوې او د کاکړیو په نامه یادې شوې نو بیا د دې غاړو ریښې او بېلګې لکه د پښتو د نور اولسي ادب غوندې چې د آریایي سره دوره سره رالګوي، د اسلام تر دورې وړاندې کېږي خو په دې کې له اشکال او ګومان نه پرته نور څه استناد نشته. څرنګه چې په کاکړیو کې څه تاریخي اسناد ضبط شوي او د عیني تاریخي پېښو ذکر پکې راغلی نو ځکه یې د یو شمېر غاړو د وېلو دوره هم معلومېدای شي چې موږ لاندې د دې ډول غاړو عیني نمونې وړاندې کوو:

ځله مات یې کړه ګورکیان (۲)
ترجرمن (۳) سخت دی «ګلاخان» (۴)

---

(۲) ګورکیان = پرنګیان = انګریزان. ګوره سره سپږی ته وايي.
(۳) په اول جهاني جنګ کې د جرمني مقاومت او جنګ ته اشاره ده.
(۴) ګلاخان کاکړ په اول جهاني جنګ کې له انګریزانو سره مبارزه کوله.

«کلا» ځی «قایم» (۵) یی مل دی
اوږ په سر و ګور کیانو بل دی
«باز» (٦) یی مړ کړ «سره» (۷) په زور کی
«کلاخان» په ولات نور کی
خود بی ژاړی ناوکی
تر «باز» د سر و وزی ګولی
د «بازخان» په مرګ خبر سو
«بوب» له سره پرنګیان سر سو
اوس دې خوښ دی «شیرک خان» (۸)
چې یی کډل ړک کړ په ګور کیان
خودمی خوښ دی «شیرک خان»
پی باجومات یی کړه ګور کیان
خدای دی ابر کی (۹) تور پڅکی
له «ګوسی» (۱۰) «بو حسن خان» ځی
خدای دی مل سه «حسن خانه»
ځی دسر و ګور و میان له
غازیان دیر دی جنګ پهوسی
که «غورلم» (۱۱) «حسن خان» نسی

---

(۵) دا نوم په محینی کاکړیو کې قایم او په محینی کې تایم راغلی خو جرنیل یار محمد خان - چې دده همسنګر مجاهد دی - قایم وښود نو محکه ما هم قایم ولیکه.

(٦) باز هم دیوه مجاهد نوم دی.

(۷) سره اصطلاحاً انګریزانو ته ویل کیږی یعنی هغه ګوره.

(۸) شیرک خان هم دخپلوا کی دغزا مجاهد دی.

(۹) کې د کړی مخفف او لهجوی شکل دی.

(۱۰) ګوسه دځای نوم دی.

(۱۱) غورلم هم دځای نوم دی چې ښایی په زړه پوري حربی موقعیت یې درلود.

## که ژوندی وی «حسن خان»

## په ټاپه اور کې هندوستان (۱۲)

✽ ✽ ✽

په پورتنیو کاکړیو کې کلاخان، حسن خان، قایم خان او شیرک خان هغه کسان دي چې له انګریزانو سره په میړانه جنګېدلي دي. نو په دې اساس پورتنۍ غاړې د پښتنو د آزادۍ د جګړې په موقع کې د غیرتمنو پښتنو ښځمنو له خوا ویلې شوې او پکې ذکر شوي نومونه د ژوب د اوسېدونکو او نورو هغو کاکړانو دي چې د پښتنو د آزادۍ د لاسته راوستلو په لاره کې له خپلو نورو ورونو سره اوږه په اوږه ولاړ وو او د خپل قام د توره زنو او سرتېرو مشري یې په غاړه لرله په همدې ترتیب په کاکړیو کې ډېرې داسې نارې شته چې د ډېرو غازیانو او ډېرو جګړو نومونه پکې راغلي دي چې کاکړیو ته په ادبي او فولکلوري ارزښت سربېره تاریخي ارزښت هم وربښي او د لوی افغانستان د ملي مبارزو په طلايي باب خوندي ساتي.

لکه د خلکو د سندرو په نورو برخو کې هم وویل شول چې د اولسي رزمي سندرو مطلب یوازې د پښتني سربازانو ستاینه نه دی بلکه لوی مطلب ترې نه د دوی تشجیع او په اصطلاح په جنګ ورتودول دي.

دا غاړه چې:

**څوک دې نه مني میړانه — څو لا نور مړه کړه جانانه**

څومره تشجیعي او زړه ورکوونکې ده او خوند یې په دې کې دی چې محبوبه هم د جنګ په ډګر کې ولاړه ده وایي چې خپل جانان یې څو دښمنان له تېغه تېر کړي خو دا دده د تشجیع له پاره دا کافي نه ګڼي او ورته وايي چې څو لا نور هم مړه کړه څو دې خلک میړانه ومني

---

(۱۲) په دې غاړه کې انګرېزان مخاطب شوي او مطلب یې دی چې نه یوازې خپلواکي به له تاسې نه ترلاسه کړو بلکه د خپلې توري په زور به د هند نیمه قاره هم پر تاسو باندې اور کړو.

پښتنې ښځمنې نه یوازې داچې دوی جګړې ته ورتودوی بلکه مهم
حربې موقعیتونه هم ورپه ګوته کوی او وایی:

**غازیان ډیر دې جنګ به وسی که «غورلم» حسن خان نسی**

دوی په دی سربیره له خپلې سپېڅلې عقیدې سره سم د علماګانې
هم ورته کوی:

**خدای دی مل سه حسن خانه ځی د سروګورو میان له**

پښتنې توریالی ښځمنی په جنګ کی هم سربیره په اوبو، ډوډۍ
او کارتوسو رسولو په خپله هم توره اخلی او له د ښمنانو سره جنګ
کوی چې په دې برخه کې د «بخت نامی» نومې پښتنی توریالی په باره
کې ویلې شوې غاړې دلیکلو وړ ګڼم:

**سره دی مړه کړه سیک ټپی**
**«بخت نامی» ځان دی کړ غازی**
**و پیکی ته دی ولور کی**
**«بخت نامی» ملک دی غوبل کی**

خوکله چې دانګریزانو له خوا د «بخت نامی» د بندی کیدلو حکم
وشو نو بیا پښتنه وایی:

**کام دی پری سی په نیمه**
**«بخت نامه» «مچ» (۱۳) ته وړی پیکی**
**پور بی کړ و پیسه - پیسه**
**«مچ» ته دی نه وړی «بخت نامه»**

په همدی ډول په کاکړیو کې ډیر داسی مواد را په ګوته کیږی چې زموږ
دملی تاریخ زرین بابونه تشکیلوی چې درزمی غاړو په برخه کی به بیا
هم خبری وکړو.

همدارازپه زیاتو کاکړیو کی د ځینی ځایونو او قامونو نومونه راغلی
چې ددی غاړو تړون له نومونو ځایونو او قامونو سره کوی:

---

(۱۳) مراد د مچ مچهور جیل دی.

د «ښنګل» په مرګ خبر سو　«ږوب» ته سره پرنګیان تر (۱۴) سو
سپینه خوله دی په ګلانو　پر ضد تل مرۍ «کاکړانو»
د «کاکړو» نوم یې ښه کې ۀ　جنګ «یارو» ترغرمې وکې ۀ!
په دنیا کې بې منۍ　« د کاکړانو » ښه ځوانی
د «ږوب» مریان د «پښین» سیدان　ټول ننګوم پر «بلوڅ خان»
کوټی خو د به نړیدی　په تاکې څه نخری کیدی (۱۵)
اوس یاری سوی بې وفا　بوره تو بې له ځی بې ما
د «ماروپ» چټی په نام دی　ژړه لکان د «خراسان» دی
د «تره کو» کلی بار سوی　شینخالی نجونی کتار سوی
زموږ په قام یې ډک کې جبل　ګرانه راتوی که «سلیمانخیل»
د لته نشته ستا بشر　ځمه دیر وله د «ناصر»

* * *

## د کاکړ یوژبه:

د کاکړ یو دژبې په برخه کې باید ووایو چې دژبې او سو چه وا لی په لحاظ د کاکړو غاړې په دوو برخو وېشلې کېږي: لومړۍ ډله یې هغه غاړې دي چې یا پخوا او یلې شوي او یا دغر نیوا او له تمدن نه لیرې سیمو محصول دي خو دوهمه ډله یې هغه غاړې دي چې یا اوس و یلې شوي او یا په ښارو نو او یا ښار ته ورڅرمه سیمو کې و یلې شوي چې د لومړۍ ډلې ژبه کاملاسوچه او زړه ده خو د دوهمې ډلې غاړو په ژبه کې سره له دې چې د پښتو سوچه لغات شته پښتني سیمو ته ځینې نوي راغلي لغات چې د تمدن د مظا هرو محصول دي هم لیدل کېږي. خو په عمومي صورت سره زیات شمیر کاکړی هغو خلکو جوړې کړی چې په غریزو سیمو کې

---

(۱٤) «تر» د غرو د کاکړو په لهجه د «تیر» تلفظ دی.

(۱٥) په دې غاړه کې د محکوم پښتونستان د کوټې د ښار هغې مشهورې زلزلې ته اشاره ده، چې د ۱۹۳٥ کال د مې د میاشتې په ۳۱ نېټه شوې او د کوټې ښار یې له خاورو سره برابر کړی و.

استو گڼه لري او خپل اولسي او فولکلوري ادب ته په درانه نظر گوري؛ ځکه چې د غریزو علاقو ژبه له پخوا څخه سوچه پاتې شوې نو په کاکړیو کې ځینې داسې لغات موندل کیږي چې اوس حتی په غرو کې هم مصطلح او مستعمل نه دي.

## د کاکړیو ښېگڼې او خصوصیات:

کاکړۍ هغه ریالستیکې سندرې دي چې د خپل محیط او چاپېر عکاسي په طبیعي توگه او له واقعیت سره سمه پکې شوې ده؛ د پښتنې مینې او مین له پاره خاص نوموړنه او اصطلاحات لري او د دوو مینو د راز بیانولو په موقع د دې غاړو د ویونکو او د دوی د سیمې د مینانو چاپېر ښه منعکس کوي؛ نه یوازې د دوی د سره لیدو تنگ، ضیق او سخت شرایط پکې ښودل کیږي بلکه د دوی د ژوند هر څه ـ هر څه پکې وینو؛ د دوی اجتماعي شرایط، اقتصادي وضعه، کلتوري پابندۍ او نور پکې مومو؛ همدا راز د دې غاړو استعاري او تشبیهات، جوړښت او ساختمان یوه ځانگړې، مستقله او ابتکاري بومي او ملي بڼه لري او د خپل محیط له اصطلاحاتو سره سمې منځ ته راغلې دي؛ د کاکړو د غاړو خصوصیات او ښېگڼې زیات دي چې د ټولو لیکل اوږدیږي نو ځکه د لاندې څو غاړو په راوړلو سره تاسو د دې غاړو له محاسنو سره له نژدې څخه اشنا کوم:

دا په گل پرتې ږلۍ دي — که سپین غاښ د شینخالۍ دي
سر به ستا په مړوند کېږدم — خدای مې که به دې پرېږدم
زه د ننه ته د باندې — اور مې بل دی تبۍ باندې
زه دې څه کوم چوړۍ — چې نه راوځې له کېږدۍ
د نرۍ ولې په غاړه — زما ارمان سوې د گران سواله
سپینه خوله لکه دوړه — په خندا راغله شینخالۍ
تنگ پر تا بدی پر ما — شینخالۍ لاس تر کلا را
زه و بړ د دواړو سدرۍ تورې — چې خطا مو نه کې بورې
مخامخ راسه ژړه و — تصویر دې اخم د غاښو
سپینې خولې چینجې به وکې — گرانو غوښتې ور مې نکې
تکتو دې غاښی ـ غاښی — گران به کوم غاښی ته راسي

ټکټو شپېلۍ شپېلۍ دی — ګل نو کر د رسا لې دی
د کوشنی کوټې وشا ته — بورې یخ مې کړم وتا ته
بوره زه هم بور ګڼې ده — بوره ژړ ګل دما خې ده
لو د سرې غرمې کوم — غرمه د سرې کړه ور ځم
مخ را کوږ که ټکې سپینې — تو یوم د سټر ګو وینې
پر دېوال دروازې مسرې — که مات کړم کلپ د دروازې
ناجوړه ده زما ورې — طبیبه! را که دوې ګولۍ
تل به زه وی خوشالی — یو ورځ به غم لېونو وی
زه چې تلم بورې ژړل — ډېره وهلې وه ژاولن
ګرا له ستا پر ټګ وما ته — ګړجن لو یه سز ارا که
زما به دونې بخت دخه وی — چې ژړه و به پروا له وی
نه مې کار کېږی دلاسه — نه ژړ ګل راځی د پاسه
سر دې یو بدی دې ډېرې — ګرانه بار سه ددې مینې
زه دې کړم د چول مرغۍ — بابکه زار دې سه روانۍ
کاریز وو کړې نړاندې — کاریګر مه کړې تړې لاندې

په پورتنیو غاړو کې د «شینخالۍ»، «چورۍ»، «بورې»، «سرې»، «ژړه»، «ورې» او «لېونو» نومونه د مین له خوا خپلې محبوبې او د «ګرانو»، «ګرانو» او «ګل» نومونه مینې د خپل مین له پاره اخیستی دي او هم «ګړجن» او «ژاولن» د رقیب او د ریم ګڼې ته ویل شوی دی چې په دې اساس دا ټول هغه اختصاصی القاب او ټکی دی چې په دې غاړو کې د مین او مینې له خوا یو بل ته ویل شوی چې نه یوازې د نورو ژبو په ادب کې نه لیدل کېږی بلکه د پښتو په نورو اولسی او عروضی سندرو کې یې هم ډېر کم مومو؛ په دې سر بېره تشبیهات او استعارات یې هم بالکل اختصاصی دی. او په دې غاړو کې:

ټګ پر تا بدی په ما — شینخالۍ لاس تر کلا را
پر دېوال دروازې مسرې — که مات کړم کولپ د دروازې

د مینې کې لو هغه سخت شرایط تمثیل شوي چې مین له یو د ته لاړ و پر ته بله لار نه وینې نو ځکه د خپلې مینې د ابکنې بدې ته ملا تړی او ددې په تښتولو باندې راضي کېږي .

او همدا رنګه په دې غاړه کې:

**زه دې کړم د چول مرغۍ    بابکه زار دې سر وپېه**

دو لوړ هغه ناوړه دود چې پلرو نه خپلې لو نۍ خرڅوي په څو مره تراژیدی لهجه او پلار ته د ښېرا په ترڅ کې د لوړ له خوا غندل شوی دی .

## د کاکړیو ډولونه او ویش:

د کاکړ و غاړې ډېرې وسیعې او جامعې دی او لکه مخکې مو هم ووېل چې ریالستیکې سندرې دی نو ځکه هر راز موضوعات پکې مو ندل کېږي: هم د رزم ترانې پکې شته او هم د بزم، هم د دین او عقیدې خبرې پکې وینو، هم د ساده او اولسي فلسفې ، هم د کلتور او خونه پکې منعکس کېږي او هم د فولکلور ، هم د خندا اصحنې را مخ ته کوي هم د ژړا ، مطلب هر څه او هره موضوع پکې مو ندله کېږي چې لاندې یې د ځینو ډولونو نمونې وړاندې کېږي:

## رزمي:

که څه هم فخر او حماسه د پښتو په ټولو اشعارو کې موجوده ده خو د کاکړیو رزمي برخه د پښتنو ځوانانو هغه د استعمار ضد او د وطن ساتنې مبارزې تمثیلوي کومې چې دانګرېزانو او نورو یرغلګرو سره شوې دی . دا غاړې د جنګ په ډګر او د مبارزې په روان جریان کې د پښتنو ښځمنو له خوا د پښتنو ځوانانو د تشجیع او زړه ور کولو په غرض شوي، د ډېرو غازیانو نو مونه او د ډېرو غزاګانو یادونه پکې شوې چې زموږ د ملي تاریخ په خوندي ساتلو کې لویه برخه لري او څو نمونې یې لاندې لیکو:

دشیرجان (۱۶) توری ځنګې — پانسی پورته کړې دمځکې
ستا پانسی پرمچ و لاړه — زه دې لار ګورم شیرجانه
د لته نسته کاکړان — دمچ پانسی له وړی شیر جان
په شیرجان لاړی پسې — لاړی غیرت د زمانې
د کاکړ ور ننګ یې ښه کی — شیرجان خوی دغازی وکی
تر زرو پړی انعام — تاله تربوربې شیرجان (۱۷)

---

(۱۶) «شیرجان کاکړ د ژوب و، د رود جوګیزی و، دی یو ورځ د ژوب د پولټیکل بارنس دفتر له ورو خاتی، چې په غونډۍ باندې لوړه ا پوزې کې دی او ورته وې ویل چې دا د ژوب نوابی چې ده داد قلعهٔ سیف الله د نوابانو څخه واخیسته او ما ته یې را که ولې چې دا زما حق کیږی پولټیکل خو د لکه چې یوه چپه خبره ورته وکړه ـ ده توپنګچه را واړه و له پولټیکل یې وویشتی ـ د پولټیکل کاتب یو کرستان و، هغه ور میدان کړه، چې راغی پر شیرجان ور رهی سو ـ شیرجان هغه هم پسې وویشتی، بیا د پولټیکل چوکیدار را میدان کړه چې د پولټیکل اشپز و، شیرجان هغه هم پسې کرار کی، بیا کښته را ولویدی، بازار له چې راغی ملکان او مشران سره ناست وو، شیرجان په خښم و، دوی ورته وویل: شیرجانه بیا څه قصه ده چې داسې په خښم روان یې؟ ده ورته وویل ورسی هغه ستی پلار خو مې مړ کی، شیرجان ډیر په خښم و، نو یوه زړه نسوار کو لای چې وې نیسی، په پای کې یې په چم و نیو او حکومت ته یې په لاس ورکی ـ دی ملک دولت خان د شاد خوا څه و نیو، دا خپلو تربرو دا چم ور سره وکی، انګریزانو ورته په مچ کې پانسی ور کړه، کاکړو ښځو او نرو پر ده باندې لنډۍ جوړې کړې چې دده زړور تیا یې ستاینې ده» (کاکړی لنډۍ، د صاحبزاده حمیدالله د پښین لیکنه ۷۳ـ۷۴ مخونه)

(۱۷) هغه ملک ته خطاب دی چې له انګریزانو نه یې زر کلدار انعام واخیست او شیرجان یې په لاس ورکی.

وپانسی تې خپژاوي؛ شیرجان سگرټ ولگاوي؛(۱۸)
تر لەدې نەکوی ارمان پرنگی کونږه کړه شېرجان

* * *

وایه دا، دینګ (۱۹) دې څه کی؛
کوریې زنگ توپانچې و کی؛
دینګ سرداردې راسی
ماگور کیان لەکلا باسی
خلک ځی خپلو کوروته
وړی دینګ توروا و بوته
ولې نه راځې دینګه
کلانورو په نامه کـه
خدای لرو ه دینګ پەراسی
بیابه بېرته کلاز ماسی

* * *

پەانگریز بەمځکه سره کی
گران ملځی وړ ی پەاو پړه کې
په تحصیل کې ټکهاردی
نن‌درود دسره۱ ر وار دی

---

(۱۸) په پورته نا ره کې دشیرجان قوی روحیا توته اشاره ده او یکې ویل شوی چې روحیات یې دومره قوی وچې حتی دپانسی کېدو په وخت یې هم چرت خراب نه وو او انگریزانو ته یې دسگرټ په بلولو سره بیا هم دخپلې مېړانې ثبوت ورکړه.

(۱۹) دینګ هم د انگریزضد مجاهد ینو څخه دی اوله پورتنیو غاړ و څخه ښکاري چې نوموړی مجاهد هم دانگریزانو په لاس کړو تی او بندي کړی یې دی.

بنګل (۲۰) مړ ظریف (۲۱) ویشتلی — پر ږوب غر دی نړېدلی (۲۲)
بنګل مړ ظریف ټپی دی — پر ږوب خوپ (۲۳) د پرنګی دی
بنګل سر باز یې مړ کړ — ږوب یې بېرته د کافر کړ (۲۴)

---

(۲۰) «بنګل سردار د سردار دوست محمد خان جوګېزي زوی و، او په ۱۸۸۳ ع کې د خپل پلار په ژوند کې ده د انګرېزانو په خلاف کې بېرغ پورته کړی و او جنګ یې ورسره ونښلاوه، او ددې کاله یې پر له پسې د پرنګي سره جنګ وکړ، دی د باښي وغره ته ځني وخاته، د هغه ځای په ځه یې د ګورو سره جنګ کاوه، یو بل تربور صاحب جان هم ور سره و، د باښي په غره کې او کړه مرغه کې ده وا انګرېزانو ته ډېره کلکه ماته ورکړه، ده د ۱۸۸۳ ع څخه تر ۱۸۸۶ ع پورې دري کاله پر له پسې پر انګرېزانو حملې کولې، لومړی جنګ یې په قلعهٔ سیف الله ورسره وکړ، ولې چې پرنګیانو ده په مقابله کې تربیت یافته فوجونه جنګول، نو بنګل سردار هواره پرېښوده او د باښي وغره ته وخاته، بیا هغه وو چې دوی کلکې ماتې ورکړې، آخر پرنګیانو صلح ورسره وکړه او دی د غره څخه راکښته سو، په ۱۹۰۱ ع کې د هندوستان وایسرای وده ته د هندوستان د میلمستیا او د دورې بلنه ورکړه، ده پنځه میاشتې د هندوستان دوره وکړه، په ۱۹۰۵ ع کې بنګل سردار یوه خپل قریب او تربره باران خان وویشتی، ده سرغوړولی و، نوکرانو یې سر پرېمنځ کاوه، چې باران خان د ټوپک ټکان پر وکړه، او شهید یې کړ، بنګل سردار، ډېر توریالی، مېړه، زړور، غیرتمن، دېندار او پیاوړی سړی و...» (کاکړۍ غاړې لنډۍ، ۸۱-۸۲ مخونه)

(۲۱) ظریف هم د بنګل سردار تربور او ملګری و.

(۲۲) په دې غاړه کې د بنګل د مرګ درونوالی ښودلی شوی او د ده مرګ یوه لویه ضایعه ګڼل شوې ده.

(۲۳) خوپ ــ توره سلطه او تیاره او هم د خوف مفهوم.

(۲۴) مطلب دا دی چې د بنګل په وژل کېدو سره انګرېزانو بیا ږوب ته لاره موندله او ږوب بېرته د کافرو په لاس کې ولوېد.

## عشقي غاړې:

څرنګه چې د کاکړيو په عشقي برخه کې د ښينخالو زياته ستاينه شوې نو ځکه ځينې کسان د کاکړيو عشقي برخه «د ښينخالي ناري» هم بولي او د خلکو د سندرو يوه بېله برخه يې ګڼي. په عشقي کاکړيو کې د اولسي او کليوالي مينې تصوير ډېر ساده، عاميانه او د خلکو له شرايطو سره سم ترسيم شوی لکه د الاندې غاړې چې د يوې ساده او کوچياني مينې تصوير پکې راښکل شوی دی او د مين او مينې د مينې ډکه مرکه پکې سندريزه شوې ده:

مين - خبرې مه کوه بې باکه چورې راسه خولګۍ راکه
مينه - خوله به درکړم خو بېرېږم نژدې مه راځه شرمېږم
- اشنا يې د ډېره ګرانه چورې ځکه شوه پښېمانه
- ترما ښا مه صبر وکه (۲۵) خوله به درکمه ناز که
- ستا د بدن ته يم راغلی نه مې کورسته، نه مې کلی
زه به ووايم اد کړه ته خوک ولاړې وکېږدې ته
- ولاړ به نسم ستا له کلي له ناکامه دې لوړلي (۲۶)
- که ورغومې راته پيايې درکوم به سپېنې ګاړې (۲۷)
لېر بنې د ډېره ګرانه خلاص به نسم له تاوانه
- اري مه ځه لويو غروته لېوه نه راځي کورو ته
- زه لېر به (۲۸) ته وارګرې (۲۹) تنها نه ځم بې ملګرې
- ورې به څرې په غونډيه زه به د روړم پسې ډوډيه

---

(۲۵) وکه د وکړه مخفف.

(۲۶) لوړل = سوګند کول = قسم اخيستل.

(۲۷) ګاړې د مستو د کټوې د بيخ پاتې مستو ته وايي.

(۲۸) لېر به، دور غومو څروونکي.

(۲۹) وارګرې: په ځينې ځايونو کې عادت دی چې له شپانه يا لېربانه سره يو تن له نورو خلکو څخه د څارووښه محافظت له پاره استوي، چې د کلي له خلکو څخه په وار ځي، يوه ورځ يو او بله ورځ بل.. نو ځکه وارګرې ورته وايي لکه لوګرې او نور.

- د شپنو ږوږی دړنه‌وی چې خړېړی (۳۰) وړ سره نه‌وی
- دغه ځه‌وایې هلکه خوله مې پوځه‌ده نازکه
- زړه‌مې خوشې بنه‌کوي خولګې دې ګله‌را کوی
که‌مې خوله نه‌درکولای ته‌ مې و لی ځنلې و لای

* * *

## دینی غاړی:

دینی جذبه او مینه د پښتنو د ملیت مهم جز تشکیلوی او ددوی پاک دینی احساسات د ملیت له سپېڅلو جذباتو سره داسې یوځای شوی دی لکه د ګل د رنګ او بوی پیوستون، نو ځکه په کاکړ یو کی هم دینی جذبات مهم موقعیت لري او دینی مقدسات په ډېره مینه یکې ستایل کېږی:

مدینی سر دې بالا دی په‌تاپاس نوم د پېشوادی
مخ مو کړې په‌هغه‌خوا چې‌ښه‌زیارت دی د پېشوا
په دې ارمان به‌مړه سو پېشو اجاردی تر نامه‌سو

* * *

## دژورې معنی غاړې:

په کاکړیو کې له آسانی او ساد ګی سره-سره ځینې داسې غاړې هم شته چې ډېرې ژورې او فلسفی معنې کانی لری:

ژ ند ګی خرا پوې وجوده باسه‌اند پښنی
هغه‌مځکه، هغه‌ځای ګرانه بر باد ددنیا پای

* * *

## کومېډی او خندوونکی غاړې:

لکه چې مسخرې، ملنډې، پسخند، ریشخند او ټوکې دا کثرو ژبو په ادبیاتو کی شته، همدا راز په کاکړیو کې هم دا راز غاړې ډېرې موندلی

---

(۳۰) خړ ېړی له پوځی نه‌پر ته یو بل شی هی او د جوړېدو تر تیب یې داسې دی چې په لوښی کی یوه کمه اندازه مستې واچوی، بیا نو په هغه مستو کې مېږه، وزه یا غوا را او لوشی ځود قیقې یې چی کېږی دی له دی مستو او تازه پېو نه یو ډول تر وش وزمه شی جوړ شی چې او به یې بېلې او سرېې کلک لکه مستې غوندې پاتې شی.

پېږي چې یاد ښځې له خوا خپل ناسیا له مېړه پکې یاد شوي وي، یا د ظالمې خواښې بد یې پکې تصویر شوې او یا کوم بل د خنداشي ته پکې اشاره وي:

د کور جنه مې خوا ګرځي          په بر پتویي مچان ګرځي
تکتو دې غا ښې غا ښې          چینجي وکړې زړې خواښې
زړه خواښې مې مړه کړي          ما و خپل مخ ته ایله کړي
د سهار له بر کټه          زړه پر و ته لکه کټه
اوردې بل که، اوردې ځای سه          زړې ژوندې په زوال سه
سپینه ږیره خو له کنډوه          مه ر سپږه تر منځ وه
د ما ینی سا تنه ګرانه          جیلبي خوره جلا تخا نه

هسې خو په کاکړیو کې د بر موضوعات شته چې د ټولو بیل بیل اوږدل اوږدېږي نو ځکه په پورتنیو نمونوا کتفا وشوه.

# ((۱۵))

## ساندې

ساندې چې ځینې خلک ټپکی، چیغې، نارې، غږ نګی، کړیکې او غرغرې هم ورته وايي له هغو منظومو ټوټه عبارت دي چې په مړي باندې د ښځو له خوا ویلې کیږي. غرغرې لکه د کیسو د نارو غوندې (چې تفصیل یې وروسته راځي) په دوه ډوله دي:

لومړی برخه یې هغه لنډۍ دي چې موضوع یې ساندې او مرثیې وي او دوهمه برخه یې مخصوصې نارې دي. چې د ادواړه ډوله غرغرې د مړي د غم په وخت کې د ښځو له خوا ویلې کیږي او همدارنګه د غږ داوږدوالي له پاره یې په آخر کې د ژړا مخصوصې

کړیکې هم ورسره یوځای کوي چې په دې وسیله سره د نورو اوریدونکو او حاضرینو زړونه هم ورسره له غږ یوه ځای کوي، د

نوحه ګرې ښځې د هرې غرغرې د خلاصیدو سره سم نورې ښځې هم ګډون ورسره کوي او په یوه غږ ورسره د ژړا مخصوصې چیغې غږ کوي.

د غرغړو موضوع یا د مړي ستاینه، یا هغه ته ګیلې، یا د نورو حاضرینو له پاره د خپل غم او خواشینۍ ښکاره کول او یا د خپل د اتلو نکي تار یخ او تیاره ژوند ویړ و نه کول وي .

غرغړې خصوصاً هغه وخت ډېرې مؤثرې واقع کېږي چې د کومې ښځې مېړه یا زوی او یا د کومې پېغلې پلار یا ورور مړ وي، نو له دې سببه په غرغړو کې هم ددې څلور ومړیو له پاره ډېرې ټېکې موجودې دي.

هغه غرغړې چې د لنډۍ په شکل دي د لته یې د نمونې راوړل لازم نه بولم ځکه چې هغه د لنډیو په برخه کې د مرثیو او سانډ وتر عنوان لاندې راغلې دي؛ او هغه غرغړې چې په مخصوص ډول دي د هغو هم د سپلا بو شمېر نه دی او شکل او لکه مخکې موچې هم وویل د کیسود نارو غوندې دي نو همدا رنګه په وزن کې هم لکه د کیسو نارې غوندې ځینې لنډې او ځینې اوږدې دي.

د مخصوصو غرغړو نمونې په لاندې ډول وړاندې کوو :
یوه ښځه د خپل مېړه په مړینه کې وایي :

ماویل کور به مې آباد ېږي ✿ خبره نه وم چې د کوټې
تیر به مې ماتیږي (وی هه هه)

څوک چې ځوان مړ وي او چنغله یې پېغله پاتې وي نو خپلوانې
یې داسې سانده وايي :

«پلا نکیه» مه شپې کړه مه کلو نه
په تور پېکي ناوي دي واچوه شالو نه

«پلانګه» چارپايي دې ولې غچېږي
خورې ستړګې وخوري ځواني مې خاورې کيږي

* * *

که ګورې د لو نګو وني ګورې
خدای دې زه کړې په دې هسې ځوا زانزي
مينه دې بورې

* * *

دا هم د ساند وځونوري نمونې:

که د ر ګه د غونډۍ (١) لاره درګړې
پلانګې داسې پکې ورک شو لکه لاړه د ملغلرې

* * *

پلانګه څې لاس په لاس کړ را کړه
«پلانګه» دجدايۍ خبر ې مه کړه

* * *

که ګـل دی دسور سا نـد ی (٢)
زه خبره نه یم «پلانګې» چا کا تر خاورو لاندي

* * *

دا و بـو دار زا نـیـې (٣)
شهید غوښتې په زار يې (٣)

---

(١) څرنګه چې اکثره پښتانه په پوښته یا غونډۍ هدیره جوړوي نو دا ساند هم ددې رواج په پیروي ویلې شوي ده.
(٢) سور ساند یو ډول غږ نی او وحشي بوټی دی چې سور ګل کوي
(٣) په «ارزانیې» او «زاریې» کی (یی) د ښځې دا یو دوا لی او مدله پاره راغلې ده.

ستا به خوږ شی دڅوپکو پرها روزنه
ابك (۴) پلار ته دی ورشه په تا به وکړی ملهمونه

* * *

په دی لارچی مځی رضا می نه ده
چی ئخلك تللی راغلی نه دی

* * *

کـه زوره ـ د خـدای - زوره
که دخدای زورنه وای «پلانکی» به چا ایسته له کوره

* * *

«پلانکیه» ته راپور ته کړه د سر تبیې (۵)
چه در ته تشی کړم دا ڼکېخویې (۵)

* * *

«پلانکیه» راشه ګورد پاسه
دا کمکی زوی دې دلاسه کړه دخپله لاسه

* * *

پلانکیه مه شپې کړه مه کلـونـه
کـور تـه دی را دروم‍ـه
په خیالی جامو دې ولویدل ګردونه

---

(٤) «ابك» اولادونه خپل پلارته له ډیرې مینې څخه وایی اودلته کاف دتجلیل او تحبیب له پاره دی نه دتصغیر له پاره.

«٥» تبیې د «تبی» او د قبر د تختو په معنی دی چې دوهمه «ې» داواز داوږدوالی له پاره پکې راغلې، ڼکې خویې دڼك ځړه معنی لری.

که اوږدې دی د (پلانکی) جامې اوږدې دی
په بل چا یې زړې مه کړې د دده د خپلې ښېې (٦) ښې دی

---

«٦» ښېه = قد = ونه .

# دوهمه برخه

# خصوصي سندرې

(هغه سندرې چې یوه معین شاعر او ویونکي ته منسوبې وي)

## ددې برخې مطالب

غبرګونه – د مرو تو کسرونه – مقامونه – چاربيتې – بدلې – بګتۍ – لوبې – کیسې – داستانونه – مشاعرې

# دا سندرې

د پښتو دا سندرې هم له ډېر پخوا څخه شروع شوې او دا سندرې د پخوا هغو پخوانیو اشعارو زېږنده ده کوم چې له آریایي اشعارو سره موضوعي او صوري ټینګ ارتباط او ورته والی لري او نمونې یې له اسلام نه را وروسته دې لکه د امیر کروړ شعر، د بیټ نیکه دعا، د بابا هوتک سندره، د شیخ ملکیار غوري شعر، د اسماعیل نیکه ناري، د خرشبون بابا غلوریځ، د شیخ متي مناجات، د شیخ بستان بړیځ بډله او نور . . .

دا سندرې زموږ د ملي ادب یوه ستره برخه ده ځکه چې پښتنی حماسه او غیرت، پښتني دود او دستور، پښتني خیالونه او فکرونه ورپکې ښه تر ا لیدل کېږي او ښېي؛ حساس دماغونه د پښتنو سندرو او روحي کیفونه له هم دغې ډول سندرو څخه معلوموولی شو ځکه چې د قاموس په نفسیاتو او روحیاتو کې پلټنه غواړي دې ډول سندرو ته په ډېر ارزښت قایل دي او د قیمتي ذخیرو په سترګه ورته ګوري، د دې سندرو تشبیهات او استعارې، تعبیرات او د افادې ډول، خیال او تصور د پښتو په اولسي او عامیانه ژبه اتکاء لري او د اولسي او محلي ژوند تفسیر وته او تعبیرونه دي نو موږ ته هرومرو له دا سې سپېڅلو او خوږو سندرو څخه خبرېدل په کار دي .

په دې سندرو کې رنګارنګ او ډول ډول لارې شته او د نظم داسې ډولونه یې هم موجود دي چې د عروض د بحور او قدرتر زیاتې اندازې کموي. دې سندرو یو بل خصوصیت دا دی چې خپل ماحول او چاپېر په مفصل او بشپړ ډول منعکس کوي او د عمومي سندرو د لنډیو او نورو ډولونو غوندې ـ لنډ، بېړنی او مجمل تعبیر نه کوي بلکه ډېرو وړو پېښو ته هم متوجه کېږي. د مثال په ډول که: اولسي نامعلوم نظم یا عمومي سندرې د یوه ماهر رسام هغه رسم ته ورته وبولو چې په ساده کرښو کې یو غر رسم کوي، نو عمومي سندرې به د غره هغه رسم ته ورته وي چې د غره ټولې کندې، لوړې او ژورې، شېلې او ناوې او ونې یې ښودل شوي او ترسیم شوي وي.

څرنګه چې دا سندرې هم په شفاهي ډول له یوه نه بل او له بل نه بل ته انتقالیږي او ډېرې کمې یې د کاغذ پاڼو ته سپارل کېږي چې هغه هم یوازې د باسواده سندرغاړو سره د خصوصي یادداشت په توګه ساتلې کېږي، نو ځکه د خلکو د سندرو د خصوصي برخې ډېرې ښکلې نمونې په لاس کې نشته، البته په پټه خزانه کې یو شمېر شعرونه موجود چې چاربیتو، بدلو او نورو اولسي سندرو ته ورته دي خو د فولکلور له نظره هغه سندرې د فولکلوري ارزښت ورکړی چې د ټولنې بېسواده شاعرانو ویلي او په خپلو دې شعرونو کې یې د خپل محیط او چاپېر رسامي کړې او له اولس او محیط نه یې رنګ اخیستی وي.

دا سندرې هم ډېر ښه خوند او ښایستګي لري چې وروسته به په مفصل ډول له نمونو او خصوصیاتو سره یې ښودل کېږي.

## ((۱))

# غړونه

غړونو د پښتو له فولکلوري او ډېرو پخوا نيو کيسو څخه سرچينه اخيستې ده، لکه: د فتح خان او رابيا کيسه، د شادي او بيبو کيسه، د مومن خان او شيرينو کيسه، د جلات خان او شمايلې کيسه، د موسی خان او ګلمکۍ کيسه، د ملا عباس او ګل بشرې يا د طالب جان کيسه، د خشکيار او شاترينې کيسه، د قطب خان او نازو کيسه، د نورد لی او شاوو کيسه، د آدم خان او درخانۍ کيسه، د مير باش او بېګم جانې کيسه او... د پښتو داغولې کيسې دوه ـ دوه پهلوانان لري چې يو مين او بله مينه وې او ددې دواړو له خوا يو د بل څخه خوا ښه ـ خوابده سوالونه او ځوابونه د منظومو غړو په واسطه سره رد او بدل شوي وي، نو په دې سبب سره غړونه خاص د پښتو هغو سندرو ته ويل کيږي چې د پښتو په فولکلوري او ملي کيسو کې را غلي وي دې غړلرونکو کيسو ته پښتانه سوارانه نقلونه هم وايي.

## دغړو د پيدا کېدلو تاريخ :

دغړو د پيدا کېدو تاريخ د نوموړو او د نورو پښتو فولکلوري کيسو د پيدا کېدو له تاريخ سره اړخ په اړخ او خوا په خوا مينځ ته راغلي دي، اما له بده مرغه (ځکه چې نوموړې کيسې په شفاهي ډول د پښتنو نسلونو په واسطه له يوه څخه بل او له بل څخه بل ته په همدې سلسله سره تر دې زمانې

بودي را رسېدلي نو د وقوع تاريخ يې چا نه دی را نقل کړی) چې د نوموړو کيسو د پيدا کېدو تاريخونه هم په يقيني ډول سره نه دي ښکاره نو په دې سبب سره سړی داسې قطعي حکم نه شي ورکولای چې دا کيسه په پلانی وخت کښې تېره ده؛ خو بيا هم په ځينو کيسو کی د ځينو غړو د دلالت له کبله څه نه څه د نوموړو کيسو د وقوع وخت سړی ته معلومولی شي او د همدی غړو د دلالت له کبله ويلای شو چې غړونه په پښتو ادب کښې زيات قدامت لري.

## دغړو نوم :

دغړو په نامه کې اختلاف دی چې د کندهار او فراه پښتانه يې ناري بولي او نور پښتانه غړونه ورته وايي. اما موږ په دې سبب سره دا ډله نظمونه په غړو ونومل چې يو خو غړونه په عمومو پښتنو کې منل شوی او بل دا چې غړونه په منظوم ادب کی خاص نوم دی او د «ناري» نوم تقريباً عموميت لري او بې له کومه قيده څخه خاص نوم نه شي ګرځېدلی لکه: داتن ناري، د هوتکو ناري او ...

## دغړو خصوصيات او ډولونه:

غړونه علی العموم په دوه ډوله دي، لومړی ډول يې لکه لنډۍ غوندي دی، لنډۍ غوندي څه بلکه عيناً لنډۍ دی، اما وزن يې په هره کيسه کی بېل-بېل خصوصيت لري چې ستري نمونې يې د مومن خان او شيرينو او د ملا عباس او ګل بشري (طالب جان) نکلونه دي؛ دوهم ډول يې يو بيت دی چې دوې مسرۍ لري اما مسرۍ يې کومه ټاکلی او معلومه قاعده نه لري او تقريباً په خپل کور کی خوږ ډوله دي چې کله دواړې مسرۍ برابرې وي او کله نه وي، ځيني غړونه د لنډۍ په شان هم وي چې اوله مسرۍ يې لنډه او دوهمه يې اوږده وي؛ په غړو کی د قافيې لحاظ بېخي کم دی کله دواړې مسرۍ په قافيه کی د يوې او بلې سره موافقې وي او کله مخالفې، غرض دا چې غړونه لکه نوي شعرونه غوندې يوه آزاده نوعه ده چې د قافيې او رديف د قانون چندان پابندي نه لري او نه د عروضي اوزانو په ډله کی راتلای شي.

## دغږو نمونې:

څرنګه چې د پښتو فولکلورۍ کیسې ډېرې اوږدې دي نوځکه نه شي کېدای چې دلته ټوله او پوره ــ پوره کیسه ولیکم نوځکه له ټولې کیسې څخه تېریږم او یوازې د څو کیسو غږونه راوړم او د ټولو کیسو لوستلو له پاره ګران لوستونکي ملي هنداري ته رابولم نو دادی په دې ځای کې د «فتح خان او رابیا» او «مؤمن خان او شیرینو» د کیسو غږونه او دوقوع په زما نه څه نه څه خبرې کوم .

## دفتح خان او رابیا له کیسې څخه:

هغه وخت چې فتح خان او دده ملګرو د هندوستان د تللو نیت وکړ نو «رابیا» ته یې سړی ورو استاوه او سړي دا غږ پرې وکړ:

که کوترې د کلا په سر کوترې
فتح خان وایې یاهې خوریږې
یار او وزه دروازه کړه دېرې وړې

پلار چې د فتح خان او دده د ملګرو په تګ خبر شو نو راغی او داسې غږ یې پرې وکړ:

څه کې څه کې؟ دا هو ږې فتح خان څه کې؟
پر نیمه شپه یې نغارې وډنګولې
لو یه خدایه خان په کوم لوري واته کې؟

فتح خان د پلار په ځواب کښې دا «ناره» وکړه :

ماسلام درواچاوه رابیا دې نه کې؛
چې په تخت در وخېژم ځای دې رانه کې؛

هغه وخت چې مور یې د فتح خان په تګ خبره شوه نو سیخه ولاړه او د کلا پس دروازه یې ونیوله خو فتح خان چې خبر شو نو په بله دروازه ووت او مور یې چې خبره شوه نو د زړه د سوزه یې ناره وکړه:

که دوې دی لوېه خدایه - کلابس دروازې دوې دي
پره ایوه یې فتح وزي، پردابله یې د مور سوې ناري دي

بیا یې مور ولاړه او سپین ږیري یې بسې ورو استول خو د سپین ږیرو په وزر (عذر) را نه کړ ځیده نو سپین ږیرو ورته وویل چې نه را کوځي نو مکې شریفې ته ولاړه شي، مور یې چې په دې خبره شوه نو ویې ویل:

که اور ګله کړې د بریخو په سپین ږیرو
هر وریې په خولا نه کړل
لا د لاسه ورښي - ورښيي یاغي مـلکونه

بیا فتح خان ولاړ او بی بی را بیا ته یې غږ وکړ:

که پوځي درا بیا خولګي مي پوځي
فتح ځي د هندولورته دغه ګل را بیا مي ځي که د لي اوسي

را بیا یې په ځواب کې وویل:

که ځوړاندې د کورنګ ورو ځي ځوړاندې
فتح خان ځي د هند ولورته
دغه ګل را بیا مي ځي تر تا وړاندې!

په دې وخت کې د فتح خان مور اور سېده او را بیا ته یې وویل:

که بلهلي - را بیا ژړې بلبلي
فتح خان ځي د هند ولورته
په جلو یې لګوه دواړې منګولي

را بیا یې داس جلو ونیوا و فتح خان هم سست شو په دې کې کرم خان غږ وکړ:

که تاک دې د هندوستان په سر کې تاک دي
فتح ځي نه راستنیږي اچولي یې ده بی بی را بیا طلاق دي

دوی چې روانیدل نو دا بیا مور فتح خان ته وویل:

فتح خانه لاس په خپل زړګوټی کېږده
که را بیا د سره څڼې پردل راپرېږده

مخکې له دې چې فتح خان ځواب ورته وو ایی، کرمی نا ره پرې وکړه:

لاس می خپل په زړګی ایښی هم بې کېږدم
داپردل که ناوګړه زه به یې پر پرېږدم

پردل خان ته هم غیرت ورغی او کرمی ته یې غږ وکړ:

که اوتر کړم نن دستا نارې اوتر کړم
ددې لور به پاتې له شم
مګر خدای په سرکه توره برابر کړم

هغه وخت چې هندوستان ته روانیدل نو کرمی سپارد وخته راغی او په فتح خان یې غږ وکړ:

سردسره پالنګه هسک کړه فتح خانه
یاغی شوی هندوستان رعیت ملکو نه

هغه وخت چې هندوستان ته ورسېدل نو یوه کلی ته ور غلل هغوی دروازه بنده کړې وه نو دوی ورته وویل:

دروازه ژر رابېیا کړئ ګوار یانو
او ربه بل کړم د ګوا ریو په سرونو

دوی چې دروازه نه خلاصوله بیا نو فتح خان داغږ پرې وکړ:

دروازه ژر کړئ را خلاصه ګواریانو
راپسې د زرغونو تو تپانو سپل دی

هغه وخت چې دوی ددې کلی له اوسېدو نکو سره روغه وکړه، نو یوه ورځ دې کلي ته د شمس الدین پاچا سپایان راغلل څو محصول ترې یوسي، کرمی څو تنه سپاهیان ووژل او یو تن ژوندی ترې خلاص شو،

پاچا ته ورغی ورته وېي ويل:

دورې يو ساسې پاچا ناست دی لويه خدايه
شمس الدين يې د نوکر په ځای ولاړ دی

فتح خان چې د کرمی په دې ناوړه کار خبر شو نو ورته وېي ويل:

کرميه چې غم نه وی ته غم راوړې
که زما په دعا کېږی کرميه! په لم غوټه سپر وواوړې

بله ورځ بيا د همدې پاچا د سرو او سپينو خزانه په دې لار په کچرو بارتېريده له کرمی چا ورخبر کړ بيا له فتح خان نه پټ ورغی په سپايانو يې تودې دراوا پسته او داغې يې پرې وکړ:

دا کاروان د شمس الدين په طلا بار دی
دغه ټول د بړيخا نو کوکی ښکار دی

سپايانو په ځواب کې ورته وويل:

دا کاروان د شمس الدين په طلا بار دی
دغه ټـول د بـړيخا نو خـون بـها دی

کرمی ته قهر ورغی په سپايانويې بريد وکړ، ځوک يې مړه کړه، ځوک ټپی، خزانه يې ترې راوګرځوله او کورته يې راوړه، شمس الدين پاچا د شپې پوځ تيار کړ او د فتح خان تر کلا يې شا او خوا خېمې ووهلې، سهار دوخته را بيا د بام نه شا او خوا کتل شروع کړل چې خېمې يې وليدې نو را غله او فتح خان ته يې وويل:

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
نن شه نجتې شمس الدين کا پر خېمې دی

هغه وخت چې جنګ ونښت نو فتح خان غږ وکړ:

چې په ډال پټری وهی نمت يې جنګ دی
را پسې د زړ غو لو تو تيا نو سېل دی

هغه وخت چی کور ته راغلل نو را بیا ته فتح خان داسی غږ وکړ:

را بیا توردی لونګین سپین دې رخسادی
دشپېتو بې یخو غبر پر هندوسدان دی

په بله ورځ چې پردل خان په جنګ کې ټپی شو را بیا فتح خان ته داسې غږ وکړ:

که یکرنګ دی فتح خان سپایان یکرنګ دی
دا پوردل لالامې و لې خدایه په یو څنګ دی

بله ورځ چې پردل خان کاری ټپ وخوړ نو دی کرم خان په اس ورسره ژوتاړه اودده اس ورسره جوړه راغی را بیا دا ناره وکړه:

خدای دې خیر کړی فتح خانه، کرم خانه
د پردل نیلی کوتل را مـحلو مـېږی

بیا چې فتح خان دروغی له پاره شمس الدین مغولی پاچا ورو غوښت نوکرمی داسې ورته وویل:

فتح خانه! باور مه کړه دمغول په کلامو نه
د مـغـول اول کـلام پـسې تـیـپو نـــه

خو هغه وخت چې فتح خان دربار ته ورغی د کرمی خبره رښتیا وخته او مغولی پاچا نوکرانو ته داسې حکم وکړ:

لاس یې وتړی ځوانانو نوکرانو
فتح خان د پـاچا یانو ګنـهـکار دی

دلته فتح خان غږ وکړ:

کرم خانه تاچې وېل هغه بیا وشوه
سره مـغول خومې دلاس په لګیده شوه

کرمی چې پوهېده نو له وروسته بیې راورسېد چې فتح خان یې په دې حال ولید غږ یې وکړ:

اوس به جوړ کړم دمغولو په سر شلی
چې تېر یې فتح خان نازه لاسونه

شپېتو بېړیو بیا هم خپلو جنګونو او د ننګ او غیرت کارنامو ته ادامه ورکوله خو دوی ډېر لږ وو او د دښمن لښکر ډېر زیات؛ نو فتح خان غږ وکړ:

هندوستان مې د مچیو ګوېندی دی
هر څوچې یې وهم نه تمامېږی
د شپېتو بېړیو ورځ په ورځ کمی دی

هغه وخت چې کرم خان په جنګ کې ټپی شو داسې غږ یې وکړ:

که وخوری داد سر کسی مو وخوری
که مامړ کړی دا زما بادار ژوندی دی

کرم خان چې په معرکه راولوېد نو فتح خان غږ یې وکړ:

آفرین شه په دې هسې نوکر باندې
ځان یې واچاوه ددې بادار د وړاندی

کوم وخت چې دفتح خان ټول یاران وهل او یوازې دی پاتې شو نو رابیا بسهار (چې دی تر ناوخته وېده و) دا غږ یې وکړ:

سرد سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
رابیا ګلی پونده ورته کړه سور یېږی

فتح خان چې له چورتی غونډی شو نو بیا یې دا غږ یې وکړ:

سرد سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
رابیا ګلی پونده ورته کړه سوره شوه

هغه وخت چې فتح خان د جنګ له پاره یوازې روانېده نو درابیا زړه یې وسواوه او دا عذر غږ یې یې وکړ:

زه څور ته ملامته لویه خدایه
وجلو ته دې ولاړه یم رو یداره

فتح خان داسې له حماسي ډک ځواب ورکړ:

که تېږې د ګوار پوښانګې تېتې
یامې خورېږي یامې مورېږي څوږي نه کړم په دې سپینه سینه پښې

چې څو قدمه ولاړ بېرته پښه نیولی شو او درابیا ته یې داغږ وکړ:

که ښه کړی رابیا نجل نن له ما ښه کړی
دا جنګی زغره دې مخې له راوړی

رابیا چې بوه شوه نه راستنیږی نو داسې غږ یې پرې وکړ:

فتح مې یار پردل مې ورور دی
څوک چې داسې یاران وخوری
هغه نجل که ښایسته وی مخ یې تور دی

فتح خان لکه زمری یوازې د جنګ میدان ته ورغی له هو ښه یې داغږ وکړ:

یو که بوټی - هندوستان مې بوټی بوټی
په سپېڼا نه کې خلاص نه شوی ✿ اوس راواړوه د سپینو چړو موټی

فتح خان په دې ورځ ټوله ورځ جنګ وکړ بله ورځ چې له کوره ووت د بېکسی ماټې ورته ور پېدل او غږ یې وکړ:

زمونږ مرګ په سپینو تورو لو یه خدایه
اسلم خان با بامې ولی نا خبر دی

رابیا په کور کې چورتی شوه: فتح خان یوازې دی چې وی نه وژنی نو داسې ناره یې وکړه:

د فتح کور ژنګه نال-نال به دی زرین کړم
که دی داو ار فتح راووړه ✿ زما امیل به ستا د غاړې لونګین کړم

بېګاته فتح خان بیا روغ رمټ کورته راغی رابیا له وعدې سره سم خپل امیل د فتح خان د نیلی په غاړه کې واچاوه، سهار ته فتح خان ته وطن ور په یاد شو نو دا ناره یې وکړه:

که پاخه دی لو یه خدایه - کندهار انار پاخه دی
اسلم خان بابا دې خوری په ما ترخه دی

په دې ورځ يې هم تر غرمې پورې جنګ وکړ، غرمې ته سخت ټپي شو اس يې د کور په خوا راروان کړ او چې کور ته راورسېده ساه يې ورکړه «انا لله وانا اليه راجعون» . بيا را بيا شمس الدين پاچا ته خبر ور کړ چې زموږ نارينه تمام شول يوازې ښځمنې او يتيمان پاتې يو، شمس الدين پاچا چې راغی ټول شهيدان يې وکتل د فتح خان له مخ نه يې چې شال واړاوه دا غږ يې وکړ :

**فتح بريت دې د سر و زرو په شپېلۍ کې**
**ته لايق د مرګي نه وې     ته لايق وې د ډيلۍ په پاچهۍ کې**

وروسته يې را بيا ته هغه ځای چې مغول کوټ يا امان کوټ ورته وايي ورو بانه را بيا هلته خپل شهيدان خښ کړل او دا غږ يې وکړ :

**مغول کوټ په چاوړ کړي و يتيمانو ته**
**دغه هم د فتح خان د تورې چوټ دی**

## د دې کيسې د غږو په شا او خوا کې :

لکه څرنګه چې مخکې مو هم وويل: غږونه په دوه ډوله دي لومړی ډول يې له هر قيده آزاد غږونه او دوهم ډول يې لنډۍ دي چې د دې کيسې غږونه له همدې لومړي ډلې څخه دي، مثلا په کوم يوه غږ کې چې قافيه برابره ده وزن يې نشته او که په کوم غږ کې وزن شته بيا قافيه درك نه لري نو په دې سبب سره د دې کيسې غږونه د آزادو غږو له ډلې څخه حسابېږي . دا هم شايي ووايو د دې کيسې غږونه سره له دې چې آزاد دي خو نکلچيان يې په يوه داسې وزم سره وايي چې د سړي زړه په خوښ راولي او په سړي دومره اغېزه کوي يقين وکړی چې له ځانه بې خبره شي، ځينې غږونه يې چې د نکلچيانو له وزم سره ښه سمون نه خوري نو بيا د ځينو کلمو تکرار او د وای، وای، هوی ـ های ـ های، وی ـ وي د کلمو زياتول پکښې جايز بولي . د نمونې په ډول لکه دا غږ :

**که دوی دي کلا بس دروازې دوې دي**
**په يوه يې فتح وزي ✿ پر دې بله يې د مور سوې نارې دي**

نو داغه داسې هم نقل کیږي :

«که دوی دي لویه خدایه کلا بس، هوی - هوی - هوی، یو
که دوی دي کلا بس - کلا بس دروازې دوې دي.
پر یوه، هامې فتح وزي، هوی - هوی - هوی پردا بله یې د
مور خدایه د مور سوې اړې دي.»

د دې کیسې له هرې غځه وروسته دالاندې غږ هم د نیمګې په ډول وایي :

رابیاتور دی او ننګین سپین دې رخسار دی
د شپېتو بړیخو غږ په هندوستان دی

همدا راز د محیطي غږ وسره دالاندې غږ هم غبرګوي :

د خدای شپې ورځې به وي یاران به نه وي
د کندهار بازار به وي سودا به نه وي

## د فتح خان د کیسې د وقوع وخت :

محیطي محققین عقیده لري چې د فتح خان او ورابیا کیسه له اسلام نه مخکې تېره شوې خو په دې باره کې کوم پوخ سند نشته. پښتانه شعرا - لومړی ټوک - د دې کیسې د تاریخ په باره کې لیکي چې : د فتح خان د کیسې له یوه غږ څخه چې مور یې کړې داسې ښکاري چې د دوی په وخت کې کلا بست ودان و. دا تاریخي ښار خو د اسلام تر مخ د هیاطله پاچایانو په تصرف کې و، وروسته نوشیران ساسانیو واخیست، هغه وخت چې مسلمانانو اتله هم دا ښار ودان و، که څه هم اسلامي دایرة المعارف د کلا بست ورانی د سلطان علاءالدین له خوا (۵۵۰ هـ) حدود او بیا د ګوډ تیمور له خوا لیکي، مګر د تحقیق له رویه ښکاري چې علاءالدین په بست کې یوازې د غزنوي پاچایانو ودانۍ ورانې کړې وې او تیمور هم دا ښار ټول نه دی وران کړی ځکه د تیمور زوی شاهرخ میرزا (۸۰۷-۸۵۰ هـ) هم په دغه ښار کې سکه وهلې ده. نو داسې ښکاري چې د بست ښار تر دغه وخته لا هم

## ((۲))

# دمروتو کسرونه

دمروتو کسرونه دخلکو دسندرو دمعلوموسرودونو هغه رزمي او په زړه پورې ټول او صنف دی چې ځانګړی سبک، ځانګړی جوړښت او بېل خوند اورنګ لري چې د خلکو دسندرو په نورو برخو کې ډیر کم موندل کیږي، داپه زړه پورې او خوږې سندرې لاترڅو کلونو پخوا پورې هم یوازې دمروتو په سیمه کې محصورې او منحصرې پاتې وې او نور پښتانه یې له خوندنه محروم او له وجوده څخه بې خبره وو، څو چې څو کاله مخکې د پېښور، پښتو اکیډمي «دمروتو کسرونه» ترعنوان لاندې یوه مجموعه خپره کړه او په دې وسیله داکسرونه نورو پښتنو ته هم ورسیدل، څرنګه چې دمروتو دکسرونو چاپ اخیستل او په هغه باندې څه لیکل یوازې دلوستلو په وسیله نشي کیدای ځکه چې په خپله له مروتو څخه په خپل زړه وړونکي وزن وانه وریدل شي، خو زه یې متأسفانه په اوریدلو موفق نه شوم او یوازې دلوستلو زمینه یې راته مساعده شوه، نو ځکه مې په دې ارزو چې له یوې خوا دا کسرونه دبري پښتونخوا پښتنو ته ورسوم او له بلې پلوه زما داڅیړنه له داسې

قیمتي کسرونو نو نه بې برخې پاتې نشي، د پېښور د پښتو اکېډمۍ له نوموړي کتاب څخه چې تر اوسه د مروتو د کسرونو په برخه کې یوازینی او واحد مأخذ دی استفاده وکړه او د همدې اثر په استناد مې دا برخه ولیکله.

په دې مجموعه کې د مروتو نه دیرش (۳۹) مختلف کسرونه چې د بیلو ـ بیلو اولسي شاعرانو اثر دی، راغلي او څرنګه چې دا ټول کسرونه د مروتو په لهجه لیکلي شوي او نورو پښتنو ته یې پوهېدل او حتی لوستل یې څه ګران دي نو ځکه د ښاغلي عبدالرحیم مجذوب «مروت» له خوا ځای په ځای لمنۍ (حاشیې) پرې لیکلې شوې او سمونې (تصحیحات) پکې شوي او هم د مروتو د کسرونو د پېژندګلوۍ په هکله میرشرف خان وزیر یوه په زړه پورې دبیاچه پرې لیکلې او د اکېډمۍ د هغې وخت مشر مرحوم مولانا عبدالقادر د دې کسرونو د لاس ته راتللو په باب سریزه پرې لیکلې ده.

مولانا عبدالقادر د دې کسرونو د لاس ته راتللو په هکله لیکي:

«د ورځو نه یوه ورځ چې زه د خپل زوړ، خوږ، دروند ملګري ښاغلي حبیب الله خان مروت سره په بحث کې بوخت وم چې ناڅاپه یې راته د خپل قام مروت د کسرونو د خوند ذکر وکړ، حبیب الله خان د پښتو ادب سره دومره ډېره مینه او اشنایي لري چې زه یې حق حیران کړم، د پښتو ځینې مستندو شاعرانو د کلام د حوالو نه پس یې راته د مروتو د کسرونو ځینې ټوټې واورولې، ما ورته وویل چې وروره د کسرونو خوند خو دې راتر خولې کړ، ولې دا راته ووایه چې دا کسرونه چېرته وي او څنګه په لاس راځي، حبیب الله خان راته ووې چې شکر دی د کسرونو غرضي راپیدا شو، د کسرونو راپیدا کول زما په ذمه او هغې له یو ادبي او علمي رنګ ورکول ستا کار، لوظ قول پوخ شو، او څه ورځې پس څه ګورم چې دې پیاوړي پښتون په لوی تقطیع لیک د مروتو د کسرونو یو بیاض ما ته راحواله کړو او راته یې

ووی چې د اماله زما دوست او عزیز عبدالله جان بیگو خیل د ا استو لی دی او زه یې تا ته درسپارم ، زه په دی اخلا ص ، مینه ا و مرسته کچه ډیر خوشاله شو م او کتا ب په ترخ کی خپلو ملګرو ته د ا وز غا ښتم ، حبیب الله خان چې یو لوړ ، پیاوړی پښتون او مفکر دی د ډیری شکر یی حقدار دی . . . »

## د مروتو د کسرو نو جوړښت او پیدا ښت:

د مروتو کسرونه یو مخصوص جوړ ښت لری چې د خلکو په نو رو سندرو کی یې ا نډول نشته ، خصو صاً خو ند او کیف یې هلته زیا تیږ ی چې په خپله د مروتو له خولې څخه د دوی په مخصوص وزن او آهنګ سر ه ؤا ور یدل شی ، که څه هم کسر د پښتو د اولسی سندرو په نو ر و ډو لو نو کی یوازی مطلع ته ویل کیږ ی او د ا خو و اضح ده چې اولسی شاعر کوښښ کوی چې د خپلی اولسی سندری کسر زړه وړ و نکی ، جا لب او خو ند ور جوړ کړ ی څو له یوی خوا اور یدو نکی ځان ته را جلب او له بله پلوه یې له هر بند نه وروسته تکرا ر ول د شعر خو ندلا زیات کړ ی خود ا چې د مروتو ټولی سندری ته له سره تر پا یه کسرو یل کیږ ی نو ددی وجه به د ا وی چې ټوله سندره تر پا یه پوری د ا سی زړ ه وړ و نکی ا و خو ږه وی چې لحظه په لحظه یې خو ند زیا تیږ ی او د مروتو د تیرو نو میا لیو یا دد اور ید کو نکو احسا سات را پا رو ی او ددوی هغه کا ر نامی چې کړ ی یې د ی به کسر کی په ژو ندی تو ګه تمثیلیږ ی ، نو ځکه به ټو لی سندری ته کسرو یل شوی وی ؛ ښا غلی میر شرف خان وزیر هم وا یی : « په ا صل کی کسر عر بی لفظ دی چې معنی یې ما تید نه ، حصه ، ټکړ ه ده ؛ په پښتو اصطلا ح کی تخلص ته و ا یی او په علم حساب کی د ا کا ئی حصی او برخی ته ئا یی خو د مر وتو په اصطلاح کی کسر منظوم کلا م ته و یلی شی چې شا عر یکی د دوو یا دد وو نه زیا تو قبیلو یا خیلو نو په منځ کی د جنګ حالات یاد یوې قبیلی د سردار د مر ګ و ا قعات په یو خاص طرز کی بیان کړ ی وی . » خو نو موړ ی ښا غلی د خپلی د یبا چې په بل ځای کی نظر یه

ښکاره کوي چې: «د امشکي و پلي شوي دي چې د کسر معنی ما تيد نه، ټکړي يا تخلص دی، نو که په دې نظر سړی ټول کسر ونه وګوري، بيا به ور ته معلومه شي چې تقريباً هر کسر په يو څو حصو تقسيم شوي دي: (الف) په اوله برخه کې د خدای پاک، معشوق، تقدير ياد دنيا د بې ثباتۍ په باب کې بيتونه وي.. (ب) په دوهمه برخه کې د جنګ حالات او د سړي د مرګ قصه بيان شوي وي.. (ج) په دريمه برخه کې شاعر د مقتول صفت کوي او ورسره ور سره د هغه خپلوانو او ولي ته د پور يا بدل اخيستلو خوا ته هم اشاره کوي...(د) په آخري برخه يعنې مقطع کې شاعر خپل نوم يا تخلص اچولی وي...» خو دا نظريه د کتاب په ټولو کسرونو کې نه تطبيق کيږي، ځکه ډېر داسې کسرونه پکې شته چې وار له واره په مطلب شروع پکې شوي ده او يا له ځينې نورو کسرونو سره پوره تنې ويش سمون نه خوري.

که څه هم د مروتو کسرونه د پښتو د اولسي نورو معلومو سندرو سره توپير لري او په جوړښت کې نه له مقامو، نه له چار بيتو، نه له بدلو، نه له ټکڼيو او نه له کيسو او داستانو سره سمون خوري خو بيا هم لکه د اولسي معلومو سندرو نورڅولونه غوندې کسرا و بيل بيل بندونه لري. د ځينې کسرونو مطلع دوې مسرۍ، د ځينو درې مسرۍ او حتی د ځينو يوه مسره وي. همدارنګه بندونه يې هم د چادوې مسرۍ چې دوهمه مسره يې د کسر په قافيه وي، د چادرې مسرۍ چې د دريمې مسرې قافيه يې د کسر په شان وي او د ځينو څلور مسرې وي چې څلورمه مسره له مطلع سره قافيه تړي.

دا کسرونه څو خاص وزنونه لري او په عمومي توګه يې د مسريو د سپلابونو شمېر دوولس، ديارلس او څوارلس سپلابه وي چې ځينې مسرې پکې پنځلس او شپاړس سپلابه هم موندلې کيږي.

د مروتو د کسرو او د پيدايښت په هکله بايد وويل شي چې دا کسرونه له هغه وخته ويل شوي چې مروت له خپل اصلي ټاټوبي ځخه بې ځايه شوي

او د اقتصادي مشکلاتو په اثر یې متأسفانه له خپلو نورو پښتنو وروڼو سره دوړ شو، محکې او نورو موضوعاتو په اثر جنګ جګړې پېښې شوې چې کله یې خټکو غواوې او مېښې تښتولې، کله یې نیازیو اوښان او کله نورې قبیلې پرې بلوسېدلې دي چې له دې وړو-وړو خبرو نه لویې شخړې منځ ته راغلې او حتی خبره مرګ ژوبلې ته رسېدلې ده. د مروتو او لسي شاعرانو چې د ا د مرګ ژوبلې حالات لیدلي نو په خپلو شعرونو کې یې د پېښې قول جزئیات راوړي او د دې ناوړه پېښو د تأثر په حال کې یې په مقتولانو ساندې کړې،

چې د نظر خاوندان د دوی د دې شعرونو په رڼا کې د مروتو د سیمې او خلکو تاریخ، جغرافیه، کره وړه او اقتصادي او اجتماعي وضعه څېړلای شي او په دې اساس دا ارزمي سندرې هم لکه د هوتکو نارو او کاکړیو غوندې په فولکلوري او ادبي ارزښت سربېره د تاریخي ارزښت درلودونکې دي.

د«پښتانه د تاریخ په رڼا کې» نومي کتاب مؤلف ښاغلي «سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل» د روایاتو په اساس د مروتو له خپل اصلي ځایه د لېږد په لړ کې په هکله اوږد بحث کړی او وایي چې: مروت په اوله کې په کټواز کې اوسېدل، او هلته کې د غلجیو سلیمانخېل اباد دي، له دې ځای نه د دوی لېږد د یدل له سلیمانخېلو سره د دوی شخړې په اثر شوی، دا پېښه غالباً په څلورمه هجري پېړۍ کې شوې ده، بیا د ټانک علاقې ته لاړل او هلته یې محکې و نیولې خو دولت خپلو یا له دې محکو نه پاڅول چې بیا د ټل په قطبي برخو کې مېشته شول او د دامان په سیمه کې یې بیا هم له نورو پښتنو سره د محکې په سر شخړې پېښې شوې ... (۱) د پورتنۍ یادونې په اساس د دې شخړو عمر څلورسوو کلونو ته رسېږي نو د مروتو کسر و نه هم

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کې د ۱۳۵۱، ۱۳۵۲ مخونو لنډیز.

له همدې وخته را شروع شوی او ویل شوی دی چې اوس هم په مروتو کې خوله په خوله را پاتې او وخت په وخت یې وایی چې یوه کمه برخه یې «دمروتو په کسرونو» کې راټوله شوې او نوري یې لا تر اوسه هم همدا سې په سینو کې پاتې او حتی باوردی چې زیات شمېر کسرونه به له دې سینوسره خاورې شوی هم وي.

دمروتو د کسرونو د ویلو په باب باید وویل شي چې دا کسرونه عموماً له سریندې سره ویل کېږي چې سرینده هم دمروتو د ساز په آلو کې لومړی مقام لري. څرنګه چې په کسرونو کې دمروتو د نیکونو او پلرونو یاددې او په ویلو سره یې دهغوی یاد تازه کېږي نو ځکه دوی د کسرونو له ویلو او اورېدلو سره زیاته علاقه لري، همدا وجه ده چې د کسرونو ویل او اورېدل کله له ماښامه شروع شي او بیا له دې چې څوک ستړي یا حس کړي ی تر سهاره پورې دوام مومي. که څه هم ددې کسرونو ژبه لهجوي او ساده ده چې ټول مروت پرې پوهېږي خو بیا هم کسر چیان په کسرونو کې ځینې راغلي پېښې تشریح کوي هم؛ کسر چیان کله ـ کله سرینده هم په خپله غږوي خو په عمومي توګه سازیان بېل او کسرـ چیان بېل وي، د حاضرینو چې کله کوم کسر زیات خوښ شي نو دهغه بیا ـ بیا غوښتنه کوي، لاسونه او سرونه ور سره خوځوي، خود تراژیدي او غمناك کسر د ویلو په وخت کې بیا دهمدې خوښې او ساتېري د مجلس په روان جریان کې د ټولو په مخ سپېنې او ښکې رارواني وي او ټول کسرونو داسې تر اغېزې لاندې راوستي وي چې ځان ورته د پېښې په جریان کې ښکاري او د پېښې له صحنو سره سم حرکات کوي او احساسات ښکاروي؛ ددې کسرونو له ویلو نه دمروتو بل مطلب دا هم دی چې خپل قبیلوي تاریخ له دې لارې محفوظ وساتي او حتی د خپلو ورو ماشومانو ځوانانو ته هم دخپلو نیکه ګانو د سر ښندنو او فداکارېو کیسې ورسوي څو دوی هم د ضرورت په وخت د ننګ او جنګ له پاره آماده او تیار دوي .

## د مروتو د کسرو نو ژبه او خصوصیات :

د مروتو کسرونه لکه څرنګه چې له نامه څخه یې هم ښکاره دي د مروتو په سیمه ایزه او لهجوي ژبه ویل شوي دي، څرنګه چې د مروتو ژبه ځانله جوړښت او لهجه لري چې د نورو پښتنو له پاره یې پوهېدل ان څه سخت دي نو ځکه په دې لهجه کې د واړو د سندرو پرته نشي کېدلای چې سړی په تمامه معنی یې پوه شي او په زړه پورې خوندورې واخلي خود ځینې ګرامري قاعدو لو نو په اساس کېدلای شي چې یې د چا له مرستې څخه یې هم سړی ولولي ؛ مثلا په عمومي توګه د مروتو په ژبه کې د «څ» په ځای «چ» د «ښ» په ځای «ش» د «ږ» په ځای «ژ» او د «ځ» په ځای «ج» استعمالیږي او هم «شو» او «شي» «سو» او «سي» تلفظ کوي خو بیا هم ځینې ځایونه ان څه ګران او مشکل دي .

د مروتو کسرونه د دوی د اولسي شاعرانو له خوا ویل شوي چې هر کسر سرتر پایه په اولسي محاورو، تشبیهاتو او استعاراتو پسول شوي او د اولسي تحلیل په اساس واقعي او ښایسته پکې ترسیم شوي دي ؛ د لاس ته راغلو کسرونو مهم شاعران : میرهوس، جرس، دوران، میخان، دینګ، لاج میرا او کنډائي دي چې حتی اوسو نه یې هم سوچه اولسي او محیطي بڼه لري .

د مروتو د کسرونو د خصوصیاتو په هکله بایدووایو چې دیو داسې مخصوص جوړښت درلودونکي دي چې د پښتو د نورو اولسي سندرو سره سر نه لګوي، که څه هم د ځینې کسرونو جوړښت کله له چاربیتې، بدلې، د کیسو له نارو، بابولالو او نورو سره لږ- ان سر خوري خو بیا هم یو بېل روح، بېل جوړښت، بېل شکل، بېل رنګ او بېل خوندلري چې په نورو ډولونو کې یې ساري نشته .

## د مروتو د کسرو نمونې :

یادونه : د مروتو د کسرو نو په نمونو کې لاندې څو کسرونه چې بېلو - بېلو شاعرانو ویلي او له بېلو - بېلو پښتو سره اړه لري د پښا غلي عبدالرحیم مجذوب مروت له تشریحاتو او حاشیو سره یو ځای وړاندې کوم ځکه که له تشریحاتو او حاشیو سره یو ځای وړاندې نشي او بیا یې هر چا ته پوهېدل څه چې حتی او سنی هم گرانېږي، کومې لمنې (حاشیې) چې ما بېرې لیکلي د «ر» په علامه نښانی شوې دي.

لومړۍ نمونه:

### د مروتو نیازیو وال کسر

### دا کسر د وران شاعر ویلی دی

دې کسر نه معلومېږي چې دا چکړه د مروتو او خټکو ترمنځ شوې ده، خټکو په مروتو حمله کړې ده، او غوا مېښې یې ترې له تښتولې دي، مروت پسې ور وتلي دي او جګړه یې شروع کړې ده، په هغې کې یو سړی چې نوم یې گوهر دی مړ شوی دی، گوهر مروت دی، گل خان ککه خېل د گوهر یاری په دې وخت پر پښې نه ده.

روستو شاعر د دې پلار یو (یوه قبیله ده) کې د گوهر د مرګ د یو دا خیستلو احساس پیدا کول غواړي.

چې په تا باندې بنیا هغه به وسي (۲)

چې په تا باندې بنیا زوره به نه سي (۳)

• • •

سلطان خېل موسیان گنجیو لشکری سی (۴)

الهي په باندې راولی خواری

---

(۲) چې خدای په تا څه شروع کړي وي، هغه به کېږي، چې په تا بنیاوي چې تا خوښه وي.

(۳) چې ته څه کول غواړې هغه به کېږي، ستا رضا څوک نشي نورولی.

(٤) سلطان خېل یو قوم دی، گنجي هم د خټک نوم دی، گنجي د خټکو قوم ته وایي چې د هغو سردار گنجي خټک و.

خوارى په باندى راولى آه سخته (۵)
چه بهوايى د گنجى خټك له بخته (۶)
په غواومشويى وكړه جوارى (۷)

* * *

غواومشى يى بو تلى گړې وړې
يارانو په تنگى يى كړلى كړې (۸)
پسى وراغله شاغلى درى پلارى (۹)

* * *

مخامخ يى سره لكه كړه جگړه (۱۰)
تورو توپكو چكه شوه لوخړه (۱۱)
په تېرى ببرى يى هيڅ خبر نه سوم (۱۲)
زړى پسى جى لكه زمرى (۱۳)

* * *

خټك توپك مى خوله و لگوله
گوهر يى اچولى په غورى (۱۴)

---

(۵) آه ټكى د لته په دوه معنو كى راځى، يو خو د «هغه» په معنى كى، دوهم د «او» په معنى كى.

(۶) گنجى ځ خاص نوم دى، د گنجى خټك له بخته به څه در ته وايم.

(۷) مشه، مېښى ته وايى.

(۸) تنگى دغرو نو منځ كى الگړى يا خوړ ته وايى.

(۹) شا غلى = ښاغلى = نامتو = بهادران؛ درى پلارى قوم دى.

(۱۰) سمدستى يى جنگ شروع كړ.

(۱۱) د تورو ټوپكو تور لوگى اوچت شو؛ لوخړه = تور لوگى.

(۱۲) په لرى برى په پړ وړه يى هيڅ خبر نه شوم.

(۱۳) ځوانان ور پسى د زمري غوندې ځي.

(۱۴) گوهر ديوه سړى نوم دى، اچولى = غورزولى، غورى = نامتو = نامدار.

ارمان دې يي ګوهره سرکي زړه
مېړو چه (۱۵) به چې ناسټوي بهاري (۱۶)

* * *

که شه کړه ګل خان ککه خېل شه کړه (۱۷)
ميدان چه خويي ماته خپله پښه کړه (۱۸)
ګوهر چخه يي نه کړه ويزاري (۱۹)

* * *

که سري دي ار که تيژې مې سرې دي (۲۰)
په پرتي يي د ګوهر غوړې چڼې دي (۲۱)
اباخيل زړې يي زړه چه ګماري (۲۲)

* * *

ګوهره يو دې خپله شهيد ګې په مخه يوړ ړه
بل ئې (۲۳) دري پلاري په ښې مړ سوې (۲۴)

---

(۱۵) «چه» د «شه» لهجوي تلفظ او د ځښه مخفف دی. (ر)

(۱۶) بهاري = ښکلی.

(۱۷) ګل خان نوم دی، ککه خېل قوم دی، ګل خان ککه خېل ته پرښه وکړل.

(۱۸) د جنګ ميدان کي يي خپله پښه ماته کړه.

(۱۹) خوله ګوهر نه يي بېزاري ونکړه، ګوهر سره يي بې وفايي ونکړه.

(۲۰) ار که خاص محاي دی، تيژې جمع ده او تيژه واحد، تيږه سنګينې ښتي ته وايي، لوی کاڼي ته هم توژه وايي.

(۲۱) د ګوهر غوړې ځڼې ور باندې پرتې دي؛ چڼې = ځڼې = زلفي.

(۲۲) ابا خېل دقوم نوم دی.

(۲۳) «ئې» د مروتو په لهجه کي د «دې» تلفظ دی. «ر»

(۲۴) دری پلاري يوه قبيله ده؛ بل دری پلاري د پاره مړ شوې، د دری پلاري په ننګ کي مړ شوې.

خټک سره دي نه کي چوک وروري

* * *

که شه کي دري پلاري زني دي شه کي
ولي دي گوهر ننگه دي وکي (۲۵)
دوه دي پنجه شپږ خټکان مړه کي (۲۶)
چي خټک يې غوښي يوسي په کوري (۲۷)

* * *

اوسنيو زلمو هيڅه توره نسته (۲۸)
جن لاشه ده خوله به درکي په ياري (۲۹)

* * *

«دورانه» برخه غواړه له مهروانه (۳۰)
دي مېړه وستا ينه چر ننگه ده گرانه (۳۱)
چه خوو که شو جوانانو يادگيري (۳۲)

---

(۲۵) دولي ټکي دلته زيات دي، هسي د مصرعې د اوزن دوالي له پاره استعمال شوي دي؛ ننگه کول=پوراخستل=انتقام اخيستل.

(۲۶) دوي (دري پلاري) دي هم پنځه يا شپږ خټکان ووژني.

(۲۷) چي خټک يې غوښي په کوري کي يوسي، کوري=بوډيه يو قسم بوډيه ده چي عموماً له اوخوځه جوړه شوي وي او پرو ړي يا بوس پکي خلک وړي.

(۲۸) د نن سبا ځوانانو ته توره ده، اوسني=نوي=د حاضري زماني ځوانان.

(۲۹) جن=پېغله؛ پېغله هم ښه ده که نور نه وي، خوله به در کړي، ښکل خو به يې کړي.

(۳۰) دوران د ليکوونکي نوم دي، مهروان=مهربان=سبحان=خداي.

(۳۱) مېړه=ځوان=ځوانمرد؛ ستاينه=تعريف.

(۳۲) څه خو د ښو ځوانانو يادگيري وکړه.

دوهمه نمونه:

# د گر لنگ ميد ادخيل کلام

## (د اکسر جرس نومې شاعر ويلی دی)

دې کسر يا کلام کښې د ګلرنګ (ګر لنګ) ميد ا د خيل دمرګ حالات بيان شوی دی، ګر لنګ غازی خپلو مېړ کړی ؤ، ګر لنګ يې په غلا مېړ کړی ؤ، ګر لنګ تهور په انـدې د دښمن د را تګ هيڅ پته نـه وه، ځکه خودی اوده پروت ؤ، تورې شپې کښې جنګ لګيا شو، تورې ماتېدلې، ويښې بهېدلې، تورې بريښېدلې، ګلرنګ يا ګر لنګ هرڅو که خپله مېړ نتيا ښکاره کړه خو قتل شو.

محمد يار مېداد خېل دې وخت بها دری و کړه، نوازد ګر لنګ ملګرو کې ؤ.

د ګر لنګ دمرګه پس «حيدر» د ګر لنګ په پارقۍ بدې چارې وکړې؛ روستو د بل چا حالات ليکلی شوی دی چې پوره واضح نه دی.

**ټيکګ چې جوړيده له پزې و لو يده لونګ (۳۳)**

✿ ✿ ✿

**ګوره غازی خپلو سره کړې مرکه وه (۳۴)**

**حيدر ؤ که اشير ؤ سره جوړيږي که خپل سند (۳۵)**

---

(۳۳) دمروتو ښځې چې پوزه ټيکګ د پاره سوری کړی، نو ځه موده لونګ پکښې کيږدي، بياچې ټيکګ جوړ کړی، نو لونګ تری (له پوزې) لرې کوی.

(۳٤) ګوره غازی خپلو له يو بل مصلحت کړی ؤ، مرکه = مصلحت = مشوره.

(۳۵) حيدر د سړی نوم دی، اشير هم دسړی نوم دی. داسند لفظ غلط ليکلی شوی دی، زما په خيال کې داسنګ دی او سنګ مصلحت ته وايی داسنګ لفظ له سنګت (يارۍ) نه دی.

حیدروئیل اشیره نن مێو نغوژه خبر (۳٦)
گرلنگ‌مو که‌مڕ نه که‌دی به تل غوالڕی کلنگ (۳۷)

✿ ✿ ✿

دوی دێ گرلنگ په‌لوری ملا ده تڕلێ
ور اغله گرلنگ ته‌والڕه شپه یێ ده‌و هلی (۳۸)
گر لنگ و ر خبر نه‌دی جکه خوب کی په پلنگ (۳۹)

• • •

گرلنگ ور بیدارسه، له درستی چخه ایسا رسه
دریغ دی أێ گرلنگه نن خوڕبو تێ له جنگه
مصر یه‌دێ په‌لاس نه‌وه‌چی ساتلی دی گرنگ (٤٠)

• • •

گرلنگ باندێ نارێ دی، گرلنگ‌بوساری یێ درێ دی
دو ه تنه‌یی ساری یو یێ لاندێ که ورڕ نگ (٤١)

• • •

زمن دی یێ ملو کێ، په‌وطن یێ لاڕێ کوکێ (٤٢)
جانو نه یێ ستی کڕل سریێ وشانده په‌زنگ (٤٣)

---

(۳٦) حیدر اشیر ته ووێ چێ نن مێ خبره واوره، و نغوژه = واوره.
(۳۷) گرلنگ که موږ مڕ نه کڕو، قوتل به خراج را نه‌غوالڕی، کلنگ = خراج.
(۳۸) گرلنگ ته‌لاڕو، قوله شپه یێ ویښه په مزل تېره کڕێ وه.
(۳۹) گرلنگ نه ؤخبر، په‌پالنگ محکه ویده پرتؤ.
٤٠) مصریه = توره. گرنگ = قوتی واوره، داو بو په‌سر.
(٤١) ساری = انډول = برابر = همزور.
(٤٢) محامن دی دملو کێ، ملو که‌دیوێ ښځې نوم دی.
(٤٣) محا نو نه یێ قربان کڕل، ستی = سوزېدل = قربا نېدل.
وشانده = قربان که. شندل = قربانول.

شپه وه ټکه توره ، دچیشتن کاروته ګوره (۴۴)
زلمی میداد خیل دي یې سپینکي توري په کیل دي (۴۵)
تور و ټنګه هاده لګولي یې ده جنګ (۴۶)

✿ ✿ ✿

باز که سور کمندوه ، په زړه یې ډېر ارمان وه (۴۷)
نازې کې ککا بولي نه وېې نه لیده ترچنګ (۴۸)

• • •

نر محمد یاروه ، ده مې کړی توري واروه (۴۹)
دښمن باندې یې کړي ئې سپینکي توري چرنګ (شرنګ)

• • •

تیر سوې ترو یجا ړې ، په ارمان له د نیالاړې (۵۰)
بیا به کورته نه راځیسي ، چې سپوري یې په کورنګ (۵۱)

• • •

ګرلنګ یې ده وژلي ، یو یې ټنګ په وطن تللی (۵۲)
ګرلنګ ببر پښتون ؤ ، ژغ یې لاړه ترګړنګ (۵۳)

---

(٤٤) دخدای پروردګار کارو ته ګوره .
(٤٥) ځوانان میدادخیل دي
(٤٦) د تورو شور دی ، جنګ روان دی ، ټنګه هار = د تورو دشنګلو شور .
(٤٧) باز = شهباز = شاهین .
(٤٨) ککا = کاکا = تره .
(٤٩) محمد یارد یو سړي نوم ؤ ، میداد خیل ؤ .
(٥٠) له و یجاړې دنیانه تېر شوې ، مړ شوې .
(٥١) بیا به کورته په اس سوره رانشي ؛ کورنګ = اس .
(٥٢) ګرلنګ یې وژلی دی ، آواز یې په جهان تللی دی ؛ ټنګ = غږ .
(٥٣) ګرلنګ شاغلی بها در پښتون ؤ ، غږ یې په جهان لاړ ، ګړنګ = جهان .

دلی مل یې خان نوازوه، په مړو تو یې آوازوه (۵۴)
زمری ځای (دی) جنګلو، زمري تل شوروی جنګ (۵۵)

✿ ✿ ✿

ګرلنګ ئی مړ کی پسه، د حیدر قصه شوه خلاصه
پورته په سرګی چې د حیدر ډولو ډنګ (۵۶)

✿ ✿ ✿

حیدر وهل ډولو نه، لوټول یې ګرلنګ ملو نه (۵۷)
چېرته ګرلنګ مل وه، په نیستۍ یې که بدرنګ

✿ ✿ ✿

څو ډېر می یادېږي، سرورخان نه رارزېږي (۵۸)
نیم خلق یادېږي، د سرور یې تو پو ټنګ (۵۹)

✿ ✿ ✿

سروره راختلی غازي خېل چې اوولی (۶۰)
د لته یې مړو تو لشکر مخ ته وراغلی
لوهانه که مړه یې، اوس نو ټینګ کړه ورته لنګ (۶۱)

---

(۵۴) دلی یې ملګري نوازخان بېکو خېل و، چې هغه هم په مړو تو کې ډېر مشهور و.

(۵۵) د ځنګلو زمری و، زمری تل په جنګ ګرځي.

(۵۶) سرګی د یو ځای نوم دی، سرګای - سرګی - ولی ته هم وایي.

(۵۷) حیدر ډولو نه وهل او د ګرلنګ ملګري به یې لوټل.

(۵۸) سرورخان د نواب آف ټانک نیکه و.

(۵۹) سرور، سرورخان کټي خېل، د نواب ټانک نیکه.

(۶۰) غازي خېل یو قوم دی او کلی هم دی.

(۶۱) لوهانۍ د یو سړي نوم دی. ټینګ = کلک = مضبوط. لنګ = لنګوټۍ.

جگړه سره لګه لوهانی په ما تی کو ژ سه (۶۲)
د لته یی مړو توز ټولاس ور باندی خو ژ سه (۶۳)
په غره چی ما تی شوری تر صبا له وژی کړ نگ (۶۴)

✿ ✿ ✿

خان سره بیز و وه، تو من ده پر لند اروه (۶۵)
زمری په شان به یی هر سړی ته خپل لاسو نه زووه (۶۶)
چی چوك به ور نزدی سوه ده به پور ته کړه ور د نگ (۶۷)

✿ ✿ ✿

مه وز نه لغړ سی، په بیز و یی وز لو نده (۶۸)
دا یی می تر ډار نو، تر نیستو چخه شه ده (۶۹)
نه ستا یم بی کاره که په پوری وی چور نگ

✿ ✿ ✿

بس دی ئی جر سه ناد بده کسر دی جوړ که (۷۰)
گوره خدای دی مه که ایمان لاسته شا لنگ (۷۱)

---

(۶۲) جگړه لگیا و ه چی لوها نی شکست و خوړ، په ما تی = کېږ یدل = شکست خوړل.

(۶۳) د لته بیا مړو تو ځوا نا نو شه ډیر تر ی نه مړه کړ ل.

(۶٤) په غره کی تر صبا شکست خوړلی وډی نس پر یوتی گرځی، گـړ نگ = تش.

(٦٥) خا ن، معلوم نه دی چی کوم خان یا دوی؛ بیز و = بوزو نه، توږ من = جهان، لندارو = ننداړو.

(٦٦) زوول = چیچل، زوو، = جووه، ز وول = جوول.

(٦٧) چی څوك به ور نژدی شول هغه بیز و به پور ته ور ټوپ کړ ل.

(٦٨) مه وژ نه خوارشی، چی بیز ودوژ لو شی نه دی.

(٦٩) دا بیز و چی کوم دی تر ډار نو خلکو ا و تر کنجو سا نو (بخیلو) خلکو بهتر دی.

(۷۰) بس دی وی؛ جرس دو یو نکی شا عر نو م دی، دا کسر جرس و یلی دی.

(۷۱) گوره خدای دی تادا یمان له لوری خوار نه کړی.

دریمه نمونه:

## نیاز یو کلام بیګو خان ته وال

### (د اکسر میخان نومی شاعر ویلی دی)

په دی کسر کی د بیګو خان او د نیاز یو د جنګ قصه بیان شوی ده، نیاز یو په مروتو حمله کړی ده، خو بیګو خان او نورو مروتو شکست ورکړی دی، بیګو خان په دی جنګ کی مړ شوی دی.

زه حیران سوم لی خنانو چوزول ته (۷۲)

✿ ✿ ✿

لور په لوره یی لښکری ور بهیږی
شپه لنی یی ستړی ورسته ول سنبل ته (۷۳)

✿ ✿ ✿

یارانو یی نیازی لښکر می زورده
دلالان یی چینو لی وه ګنل ته (۷۴)

✿ ✿ ✿

یارانو نیازی په بد وړا مسه
پښی یی رو اخستی مروتو شرمول ته (۷۵)

---

(۷۲) خنانو، د خان جمع ده.

(۷۳) شپه لنی، ممکنه ده دا لفظ سپه لنی وی، «ستړی» دا لفظ را ته سړی ښکاره یږی.

(۷۴) دلالان د دلال جمع ده، دلته هغه خلکو ته وایی چی کوم د دښمن د پوځ چرك بنی (عادل) کوی او اندازه یی لګوی.

(۷۵) پښی یی را اخیستلی — راروان شو.

سبا ته‌سره لکه سوه جګړه
تورو توپکو چیګه سوه لوخړه (۷۶)
بیګوخان زمرای وه، زمرای وراغی جنګل ته

✿ ✿ ✿

په میدان حاجي ننګر سوه سره ساري (۷۷)
ده حاجي په ننګر ډیر کړي ډی واري
حاجي توره وروړي نه وته ګوګل ته

✿ ✿ ✿

شاباس، شاباس دپتی زویه شیرانه (۷۸)
ته یی اچو خیل په زړو ګرانه
نو یو غو ندی مټ کوي غوبل ته (۷۹)

• • •

که مي چار که اچو خیل تر زړو واړه
په جای تور توپک چي شوه په غاړه
نیازای یی نه پریشودی کنی لګول ته (۸۰)

✿ ✿ ✿

نیازای ماتي ګړوی، په باګو پام که (۸۱)
نیازای ماتي ګړوی، درومي کنلول ته

---

(۷۶) لوخړه = تور لوګی.

(۷۷) په میدان کی حاجي بیګوخیل او ننګر نیازی یو بل سره جګړه شروع شوه.

(۷۸) پتی = فتح خان. شیران، عیسک خیل ؤ، دفتح خان زوی ؤ.

(۷۹) نو یو = نوی = نیا (نوی غو ا یی) مټ = مینه.

(۸۰) کنی لګول ته = آرام ته = ټیکی ته = ټیکاوی = ساه اخیستلو ته.

(۸۱) ماتي ګړول ـ شکست خوړا.

مړو تو که بېګو خان ننګه ونکړه
بیا دی بوزی خرڅوی چې دی ګومل ته (۸۲)
✿ ✿ ✿
وه دستګیره ورونه یې چرنګ سره ناست دی
زړه یې خوار شي چې یې وګوري بڼبل ته (۸۳)
✿ ✿ ✿
یا را نو دا کلام «میخان» ویلی دی
زړه یې بیان سه شو میړو مخصو لول ته
* * *

خلورمه نمونه :

ټالي زمنو ال کسر

(دا کسر نور محمد ویلی دی)

ما په زړه یې شیار تو یوه لیره ده
ار ویدلی مې دشو زړو ناره ده
* * *

ټالي زمن حاکم په مخ چې تور سوه (۸۴)
پاینده ؤ اوشان دوی بازدې پور سوه (۸۵)
پاینده په بازدی شوی تسله ده (۸٦)

---

(۸۲) بوزی = بېوزی = پکه . ګومل یو خوړ دی ، ګومل دیو ځای نوم دی .

(۸۳) بڼبل ، دجو اړو د بوټی عین سر ، بڼبل : شمله ، قرقره .

(۸٤) ټالي ، لو نګک خیل ؤ .

(۸۵) پاینده ، جنګک خیل ؤ .

(۸٦) تسله = تسلا = ډاډینه = اطمینان . (ر)

یارانو فرنګي مې ورته وویل:
«که چاسري لوهاڼي بېټني راوړل-
په سر کار باندې یې ډېره مهینه ده» (۸۷)

* * *

دې تالي زمونږ دولت ته توکل کړو
دلکي چې یې سید میر ورسره مل کړو (۸۸)
په نیمو شپو یې په لوهاڼي کړې سوره ده

* * *

لوهاڼي په خوب اوده وه خوبولي
دښمنو تورغوبل تر ګرزولي
له درستي یې که جدا روجې کژه ده

* * *

لوهاڼي باندې یې تورې خرپهار سه
دښمن ډېر وه لوهاڼي په چه ایسار سه
سکوي جواني یې وینو چې خپسته سوه

* * *

شاباس-شاباس دې وي خانزو په وشکه
میړني به یې پلار و نامو نه شه که
زمري غوندې ګینډې وهي په مزکه (۸۹)
تامې کړی لوهاڼي باندې پوره ده (۹۰)

---

(۸۷) مهینه = تنخوا — انعام.

(۸۸) دلکي ، سلیمانخېل و ؛ سید میر ، بیټني و.

(۸۹) ګینډې = ډهال. ګینډې ، دا لفظ له ګونډه (زنګون) اوښتلی دی ، کیدی شي چې سپیني ته وایي.

(۹۰) پوره = پېره.

شاباس-شاباس د ټالي زوې عباسه
په وشلګ باندې مې تاکړله راخلاصه
چې په لاس چه دې (۹۱) مصري توره تېره ده

✿✿✿

وه یارانو بري زوی نوازده (۹۲)
غزني خپل سړي د سپینې تورې بازده
لونګ خپل توره په هر وطن شوروده

✿✿✿

سید مهر بڼني مړې په بریا کړل (۹۳)
لوهاڼي وشي سر و نه یې ګلیا کړل
ځن په لاس یې غزني خپل توره درنه ده (۹۴)

✿✿✿

وه یارانو سلیم خان زوی ظفر ده (۹۵)
ځن ټر بره و راغلی زړه ور ده
سپینې تورې ژغ یې اورې په دیره ده (۹۶)

✿✿✿

اسلامانو رنګې تاشي کړې زلمیه (۹۷)
لوهاڼي سردې راوړې په جولیه
کوټاني ه سړې سپینګې تورې کره ده (۹۸)

---

(۹۱) «چې دې» د مروتو د لهجې په اساس د «کې دې» تلفظ دی (ر)
(۹۲) نواز: دا نواز غزني خیل و.
(۹۳) مړې یې بریا کړل = د خپلو مړو پورې یې ترې نه وشکول، بریال کړل = وصول کړل.
(۹۴) درنه = وزني = درونده، بهادري.
(۹۵) وه = اي ظفر، بیټنی و.
(۹۶) اوري = هوري.
(۹۷) اسلامانو = کوټه د انو زلمیه = کوټاني.
(۹۸) «کوټاني» کوټاني = یو قسم خانه بدوش خلک دي، تکه توروي، دا د هندوستان وختني پاهندګان دي (د راوړ)

ټا لی زمن سره بی وه سرئی غوښته
شیرن غوندی شاغلی چیری نسته
شایسته عباس یی زړو منا ره ده

* * *

ارنه دغی فتح مرغ دی شه سه (۹۹)
چی روغ راغلی بیټینو له دیوسه (۱۰۰)
اوس قراره کورچه (۱۰۱) کټ باندی اوده سه
بټنی بدی دی سر باندې سپره ده (۱۰۲)

* * *

«نور محمد» شهاریی شومیړ وسینګارده
پاك الله ورته شو لی دا اسرارده
دغه برخه می مغد لی یوه ذره ده (۱۰۳)

---

(۹۹) مرغ دې شه سه — مبارك دی شه .
(۱۰۰) «چه» د «کی» تلفظ دی (ر) .
(۱۰۱) دیوس — کلی سره نژدی بهدیا .
(۱۰۲) بدي — دښمنی ؛ سپره — سوره .
(۱۰۳) برخه — حصه (بزرگی ـ شاعری)، ذره — اتوم — لږ .

# ((۲))

## مقامونه

مقامونو ته د پښتنو «رباعي» وایي؛ خو زما په نظر دا تسمیه په خصوصیه سره نه برېښي: لومړی دا چې رباعي هغه نظم ته ویل کېږي چې څلور مسرې ولري، سره له دې چې مقامونه هېڅکله څلور مسرې نه لري او حتی له لس ـ دوولس بیتو څخه هم زیاتېږي؛ بل دا چې رباعي په عروضي نظم کې د یو ځانګړي صنف نوم دی چې له دې رباعي سره یې هم التباس راځي.

همدا رنګه د مقامو نوم ورسره په خصوصیه مناسب دی؛ لومړی دا چې مقام په خپله ځای په معنی دی نو د پښتنو په ادبي مجلسو کې هم د ټولو ترمخ ویل کېږي او بیا وروسته چاربیتې، بدلې، ټکټې او نور دي او نه ویل کېږي چې په دې سبب مقام د مجلس شروع او د نورو او لسي نظمونو له پاره د مجلس انتظام برابروي او خلک بیداروي چې خپل ځای ونه نیسي او په آرامۍ سره مجلس واوري او یا په بل عبارت سره د نورو نظمونو له پاره ځای نیسي او د مجلس د غېږ پښه واوي او نور ...

معلوموي، بل دا چې مقام په پند او نصیحت مشتمل وي نو په دې سبب که د مقام په موضوعاتو سړی مداوم شي او عمل ور باندې وکړي، کېدای شي

چې يو لوړ اخلاقي مقام او ځاى اشغال کړى. موږ هم په دې سبب
چې دا اوروستي تسميه صحيح او معنى داره ده، يا په بل عبارت اسم او
مسمى سره برابر دي، دا برخه په دې نامه ياده کړه.

مقامونه د اولسي نظم يوه خوندوره برخه ده او لکه څرنګه
چې مخکې مو هم وويل په مجلس کې له نورو ټولو نظمو څخه مخکې
په ورو او آرامه لهجه سره د مجلس خواته د خلکو د متوجه کولو له پاره
ويل کېږي او يا په بل عبارت د مجلس د شروع کېدو زنګ دى.

د مقامونو هره مسرۍ ده دوولس دوولس سېلابه وي او کله - کله يوولس -
يوولس سېلابه هم راځي چې دا ډول هم د ويلو په وخت کې د آواز اوږدولو
په سبب بل سېلاب له ځانه سره پيدا کوي او پوره ته دوولس سېلابه کېږي.

د مقامونو او د عروضي نظم د دوولس سېلابي غزلو توپير هم ډېر
مشکل دى يوازې د ويونکي او شاعر په سبب يې بايد فرق وکړل شي،
که چېرې يې د ويونکي د پښتو له اولسي شاعرانو څخه ؤ نو مقام ورته
وايو او که د عروضي شاعرانو په ډله کې ؤ او عروضي غزل يې وبولو.

همدارنګه مقامونه کله - کله د اولسي نظم له ځينو بدلو سره هم
ملتبس کېږي چې په دې ځاى کې يې ځايي په دوو ډولو سره بېل کړو،
لومړى دا: څرنګه چې د مقامونو موضوع پند او نصيحت وي نو که
چېرې پند او نصيحت ؤ مقام يې بولو او که عشقي يا نور موضوعات
پکې ځاى شوي وو بدل به ورته وايو او بل دا چې مقام په ورو او آرامه
لهجه ويل کېږي او بدل په چټکه او چابکه لهجه، نو که په آرامه او ورو
لهجه ويل کېږي مقام به وي او که چالاکه او چټک ويل کېدلو د
بدلو په ډله کې شمېرل کېږي.

څرنګه چې مقام يې له دوولس سېلابي او يوولس سېلابي مسريو
څخه په نورو کې نه راځي نو په دې سبب د همدې دوو ډولو يوه - يوه
نمونه راوړو، د مقامونو نور رنګونه او خوندونه يې په نمونو کې وپلټئ!

دوولس سېلابي مسريو د مقام په نمونه کې د «رمضان» چې
د پښتو له اولسي مجلسيانو څخه دى دا لاندې مقام راوړو:

ته چې ځان ته هوښیار و ایې هوښیار نه یې
ځکه یوه دې پېژو ندون او روزګار نه یې
دقانون او شریعت خبرې تل کړې
یوه ذره آګاه دشرعې په لار نه یې
په ژوندون کې دې دهر مرض دواشه
پس له مرګه بېد هیڅ په کار نه یې
که نیکي کړې ،که بدي کړې داد وخت دی
بیا را تلو نکې په دې ځای کې دوبار نه یې
تمام عمرعبث تېرشو « رمضا نه»
ته لامو ډ ددې دنیا په بازار نه یې
د بو لس سېلابی مسرې یو دمقام په نمو نه کې د«ګلستان»-چې دی
هم د پښتو له اولسی شاعرانو څخه دی- دالاندې مقام د اوبدل کېږی:
د کم اصلو دیاری نه وا خله لاس
مه غولېږه ،دهغه په ښکلي لباس
د کم اصلو یارانه دخره سور لی ده
عاقبت به دې په کنده کړی راخلاص(۱)
که اصیل سره دې لږه نیکي وکړه
شا مدام به در ته ګرځي کوزاو پاس
د کم اصلو نه و فا کله مو ندی شي
دامثل دی په هر ځای کې عام او خاص
چې دلرې نه یې ګورې ور نه تښته!
«ګلستا نه!» ور سره مه کوه باس(۲)

---

(۱) په اولسی سندرو کې د«ص»او«س»سره قافیه کېدل عام دی.

(۲) «باس» د«بحث»اصطلاحی اواولسی شکل دی.

((٤))

# چاربیتې

چاربیتې د اولسي خصوصي سندرو یوه غوره او خوندوره برخه ده، هره چاربیته په پښتني موسیقۍ او ساز کې ځان ته په زړه پورې آهنګ، وزن او زړه وړونکې نغمه لري. چاربیتې د پښتو په اولسي نظم کې د عروضي نظم د مثنوي او قصیدې مرتبه لري او لکه د عروضي نظم د قصیدې او مثنوي په شان اوږدې اوږدې موضوعګانې -چې اکثرې بزمي او رزمي وي- پکې ادا کېږي؛ همدارنګه په چاربیتو کې کیسې او نکلونه هم ویل شوي -چې تاسو به یې وروسته ولولئ- په چاربیتو کې د مضمون ربط او د موضوع تسلسل یو حتمي امر دی نو ځکه د چاربیتو ویل یوه غښتلې قریحه او ځلاند استعداد غواړي.

د چاربیتې د نوم لومړی جز د پارسي له «چهار» څخه مخفف دی، نو په دې سبب چاربیته هغه اولسي نظم ته ویله کېږي چې هر بندې له څلورو مسریو او یا څلورو بیتو څخه جوړ شوی وي؛ بنایي دا هم وایو چې د چاربیتې هر بند به له څلورو مسریو څخه کم نه وي او که له څلورو مسریو څخه کم وُ نو بیا د چاربیتې په ډله کې نه ګڼل کېږي او د بدلې -چې تفصیل به یې وروسته راشي- په شمېر کې راځي، حتی ډېر ځله د څلور

مسریځه چار بیتي او شلورمسریځه بدلي ثو بیر په ډېر اشکال سره کېږي؛ همدارنګه چار بیتي له شلورو مسریو او شلورو بیتو څخه زیاتې هم راځي چې زیاتوالی یې کوم قاکلی حد او اندازه نه لري او داسې چار بیتې هم پیدا کېږي چې دهر بند مسریځې یې له شلو څخه هم زیاتې وي.

چار بیتې دقافیې په لحاظ دا قاعده لري چې دهر بند وروستی بیت یا وروستی مسریځه به یې ارومرو د کسر (مطلع) سره په قافیه کې برابره وي او دهر بند دمینځ نور بیتونه به یې په خپل مینځ کې سره متحدالقافیه وي؛ چار بیتې هم کله لکه دعروضي غزلو په شان یو بیتیز کسر (مطلع) لري او کله بیا په ځانګړي او مخصوص ډول سره دوه کسره لري.

## دچاربیتو ډولونه

چار بیتې په عمومي ډول په دوو لویو برخو وېشلې کېږي:

الف: ساده چار بیتې.

ب: ځنځیري چار بیتې.

بورتني دوه ډوله چار بیتې بیا په خپل کورکې د مسریو دشمېر، دمسریو د برابروالي، اوږدوالي او لنډوالي له مخې په ډېر ونورو ډولو هم وېشلې کېږي، لکه: «دشلورو، یا پنځو، یا شپږو، یا اوو، یا اتو، یا لسو. مساوي یا لنډو او یا اوږدو مسریو والا ساده چار بیته» او یا: «دشلورو، یا پنځو، یا شپږو، یا اوو، یا اتو، یا نهو، یا لسو ... مساوي، یا لنډو، یا اوږدو او... مسریو والا ځنځیري چار بیته».

دادی اوس هره برخه په مفصل ډول سره څېړله کېږي:

### الف-ساده چار بیتې:

ساده چار بیتې له هغو چار بیتو څخه عبارت دی چې د هم قافیه او همردیفو لفظو تسلسل او د موضوع ارتباط پکې شرط وي.

ساده چار بیتې دمسریو دزیاتوالي او دکموالي او د«کسرونو» دمتنو عوالي له سببه ډېر ډولونه لري، دهر بند دمسریو دشمېر څو مهم ډولونه دادي: «شلور مسریځه، پنځه مسریځه، شپږ مسریځه، اووه مسریځه،

اته مسرې، نه مسرې، لس مسرې، یوولس مسرې، دوولس مسرې،
دیارلس مسرې، څوارلس مسرې، پنځلس مسرې، شپاړس مسرې،
اووه لس مسرې، اته لس مسرې، نولس مسرې، شل مسرې او...»

همدارنګه د ساده چار بیتو کسرونه هم ډېر متنوع دي چې پنځلس مشهور ډولونه یې له نمونو سره وړاندې کوو:

۱ـ چې د کسر دواړه مسرې یې په یوه قافیه او یوه وزن وي؛ په نمونه کې یې د «محمد» نومي اولسي شاعر دیوې چار بیتې کسر او یو بند ولولئ!

**کسر:**

**په سپینه خوله کې دې نښه رب د شرابو ایښې**
**او بوله ځې په سرجوغه دې د نوابو ایښې**

**یو بند:**

**په سپینه خوله کې دې نښه ایښې د بنګوده**
**دا ښاسې خندا دې ټوله د بې ننګوده**
**بل په سینه کې خو شبوړی دې د لوننګوده**
**عاشقان وژنې، نن دې توره د قصابو ایښې**

۲ـ چې د کسر دواړې مسرې یې په یوه قافیه او بېل وزن وي؛ په نمونه کې یې هم یوه بل اولسي شاعر چې «سالم» نومېږي د یوې چار بیتې کسر او یو بند را اخلو:

کسر:

**پټ رازمې ځکه کړ څرګند زیاتې مې وارونه شو**
**زما د خپلې طبعې کارونه شو**

یو بند:

**دا به تقدیر، قسمت کې ښکلې وو زما**
**که چېرته لرې نژدې خپل وو زما**
**د دې ګرېوان لاس کې راښکلې وو زما**
**ټول بې مزې لکه شلخې ټوپک پرې ښکارونه شو**
**زما د خپلې طبعې کارونه شو**

۳– چې د کسر دواړه مسرې یې په پېلو قافیو او یوه وزن وي؛ لکه د پښتو د یوه نامتو اولسي شاعر «سید کمال» د څلوربیتي لاندېنی نمونه.

کسر:

آهو چشمې، ګل اندامې، ماه جبینې

زه دې وسوم ولې – ولې څه دپاره؟

یو بند:

وسوم– وسوم څوک مې نه اخلي عرضونه

نه پوهېږم ربه دا څه ننګ تأثیر دی؟

لیلا تورو ربل دې جال نیسي بازونه

باز دزړه نیسي بې شکه هوا ګیر دی

دهر چا له خولې نه خېږي د اغزو نه

شینکی خال دې غونډه زنه کې امیر دی

پاچایي دې شوه په لاس، پاچاد چینې

رسالې در پسې ځي شولې واکداره!

٤– چې د کسر دواړې مسرې په پېلو قافیو او پېل وزن وي لکه د اولسي شاعر «امیري» د یوې څلوربیتي دالاندې کسر او بند:

کوز شو شهزاده د ښاپېرو په ګلستان کې

ته د چین په لار کښه!

۞ ۞ ۞

کوز شو شهزاده په هغه باغ کښې یې دمه کړه

جوړه یې جامه کړه

خبر نه ؤ له ځانه یوې پېغلې پرې ناره کړه

توره یې ورښکاره کړه

داڅوک یې په دې باغ کې مسافره مې په ځان کې

هرګړ دې شو تیار کښه!

۵– چې د کسر لومړۍ مسرې او د دوهمې مسرې لومړۍ برخه په یوه قافیه او پېل وزن او د دوهمې مسرې نیمه نوره برخه په بله قافیه او د خپلې نیمې مخکې مسرې په وزن وي لکه د «مستجاب» له څلوربیتي څخه:

په تور وربل دې کتار کړی زیړ ګلونه دی
ستر ګې دې لالونه دی - د نجونو جمادارې

✿ ✿ ✿

په تور وربل کې دې غنچې دی ښایست لرې د شهزادګانو
ستر ګې دې ډکې تورپانچې دی ښایست لرې د شهزادګانو
ماله ساتلې دې سوچې دی ښایست لرې د شهزادګانو
جبین اسمان لکه د ستورو دې خالونه دی
ستر ګې دې لالونه دی - د نجونو جمادارې!

٦- چې د کسر د لومړی مسرې نیمه برخه په بېله قافیه او بېل وزن او نیمه نوره برخه یې په بله قافیه او همغه وزن او همدارنګه د کسر د دوهمې مسرې نیمه برخه د کسر د لومړی مسرې د وروستنی برخې په قافیه او همغه وزن او دوهمه برخه یې د هغه د دوهمې برخې په قافیه او وزن وی؛ په نمونه کې یې د «خواجه محمد» د چار بیتې یوه برخه وړاندې کیږی:

تاچې وهلې دی رنګ - په شونډو سرو باندی
اخر به ما کړې ملنګ - ګرځې نخرو باندی

✿ ✿ ✿

تاچې وهلې دی رنګ، په مخ حجاب لرې
دا سپینګی مخ دلېره، لکه آفتاب لرې
دندان دې در ځلېږی، لبان عناب لرې
د عقرب ستوری ساتې، پاس په ابرو باندې

٧- چې د کسر لومړی مسره یې په بېله قافیه او وزن وی او دوهمه مسره یې په بېله قافیه او همدې وزن وی او په بل وزن او خپله قافیه یې وضعیه هم ولری؛ نمونه یې د «طالب» نومی اولسی شاعر د یوې چار بیتې دا برخه ده.

جګړه شوه په مخ باندې - د ټیک او د پېز اوان
ټیک وویل پېزوانه، ستا ښایست له ما نه کم دی
منکر لره قسم دی

ټيکګ وویل پېزوان ته ✿ ته ګوره زما شان ته
نجلۍ چې شي بالغه اول پول په ما کاندي
جګړه شوه په مخ باندي
نجلۍ چې ځان سنبال کا ✿ وربل په وروځو جال کا
دپاسه پرې ما سپور کاندي په شا نته دسلطان
دټيکګ او د پېزوان
پېکۍ کې دخالداري ✿ روپۍ سپینې کتاري
ادځل کې یې نصیب داستوګنې داحرم دی
منکر لره قسم دی
۸-چې د کسر دواړې مسرې یې په یوه قافیه او یوه وزن وی او
یوه لنډه ضمیمه په بېل وزن او بېله قافیه ولري لکه د «نور شالی»
دیوې چار بیتې دا برخه:
ماز یګر راشه په تلوار که زما یاري
بر ګودر له ځونه، چې ملګرې شود لاري
ماز یګر راشه
✿ ✿ ✿
ماز یګر راشه په تلوار یمه بېلبله
د جنګو نه پاتې شوم ستا له کبله
تا چې خبره دکوکې راته کوله
راځه چې در کړم سپینه خوله، زلفې تار تاري
ماز یګر راشه
۹-چې دوه کسرونه ولري د لومړي کسر دواړې مسرې په یوه
قافیه او یوه وزن او ددوهم کسر دواړې مسرې په یوه بله قافیه او
همدې وزن وی، د «زر جان» په لاندې چار بیته کې یې نمونه
وړاندې کوو:
په چپا ور اغله ما سپینین باندې
خالو نه یې ایښی په جبین باندی
ټيکګ د وربل په کنار و ګرځوی
غونچه پېزاون په شونډو سرو ګرځوی

غونچه پېزوان سپین یې هیکل دی
بل لو نګین ور سره مل دی
خوله پتاسه خوند هر زمان کړی
سره تاویز و نه ښه نښان کړی
سره تاویز و نه ښه اوږیده
راته ښکارېږی چې بدریده
هیڅ نظر نه ګاندې مسکین باندی
په چپاو راغله ما سپین باندې
هیڅ نظر نه لری نګاره
په غضب تېره شوه دقاره
په سینه چتر دړا و لو ګرځوی
غونچه پېزوان په شونډو سرو ګرځوی

✡ ✡ ✡

۱۰- چې دوه کسره ولري د لومړي کسر دواړې مسرې په یوه قافیه او بېل وزن او د دوهم کسر دواړې مسرې هم په همدې قافیه لومړۍ یې د لومړي کسر د لومړۍ مسرې په وزن او دوهمه یې د دغه د دوهمې مسرې په وزن وي. د ملي شاعر «ملنګ جان» د یوې چاربیتې څخه یې نمونه راوړو دا چاربیته نوموړي د پاکستان د حکومت او د یوه محکوم پښتون د خبرو اترو څخه جوړه کړې او د سوال او ځواب په ډول یې ویلې ده:

س- د بزرګۍ نښې راکښې دې فیض رسان یمه زه
بلند نښان یمه زه
ج- د مکر ګوډیه زه دې پېژنم انسان یمه زه
ګله نادان یمه زه

✡ ✡ ✡

س - د بزرګۍ نښې راکښې دې خدمتګار یمه زه
ستاسو غمخوار یمه زه

راځئ - راځئ په سر راځئ ستاسو بادار یمه زه
د کام سردار یمه زه
تاسو ته سمه لار ښوونم ذمه وار یمه زه
تجربه کار یمه زه
زما په نام اوسئ ✿ تل په آرام اوسئ
خوښ په مدام اوسئ!
زه مسلمان یم طرفدار د مسلمان یمه زه
بلند نښان یمه زه

✿ ✿ ✿

ج- ته چې وایې زه یم مسلم ستا اسلامیت څنګه دی؟
ستا دیانت څنګه دی؟
د خدای رسول په لاره سم ستا عدالت څنګه دی؟
ستا شریعت څنګه دی
په مسلمان باندې ستا مهر او شفقت څنګه دی؟
ستا حقیقت څنګه دی؟
دغه د چا له لاسه مړه شول حیران یمه زه
ګله نادان یمه زه

✿ ✿ ○

۱۱- چې دوه کسره ولري، د دواړو کسرو مسرې په یوه قافیه او یوه وزن وي، لکه «د زرجان» دیوې چاربیتې دالاندې نمونه:

لیلا سپین مخ دې ګلاب ستر ګې لا لونه
د جبین په منځ دې آینې شنه خالونه
باڼه غیشي، تورې زلفې دې مارونه
کږې وروځې دې لیندې غوڅوي زړونه

✿ ✿ ✿

لیلا سپین مخ دې ګلاب بدن دې باغ دی
تورې زلفې دې کږې غوړې په پلیلو

مازیګردې ایښې زما په زړګي داغ دی
خوشبويي درځخه خپری درامه بېلو
سور پېزوان دې آتشي څلا ند څراغ دی
عاشقان دې بې ګناه وسول په تېلو
خوار وزار درته ولاړ یم په دربار کې
خدای دې پاره شاه قبول مې کړه سوالونه

* * *

۱۲ـ چې دوه کسره ولري دلومړی کسر لومړی مسری په بېله قافیه او بېل وزن او دوهمه مسری یې په بله قافیه او بل وزن او همدا ډګه ددوهم کسر لومړی مسری دلومړی کسر دلومړی مسری په وزن او قافیه او دوهمه یې دهغه ددوهمې مسری په وزن او قافیه وی لکه د اولسی شاعر «نور صاحب» دیوې چار بیتې چې د نیمبولا (۱) د نکل په باره کښې یې ویلی دا نمونه:

راغله په زار وملا بادرله بېګم جان جان
ودریده سر توره
پرېږده نیمبولا دخدای دپاره اخوند جان ـ جان
مه کړه ظلم نوره

---

(۱) خلك وایی: هغه نظمونه چې د نیمبولا د نکل په باره کې ویلی شوی چې کوم وخت ویلی کېږی نو یو هلك لکه دمړی غوندې څملوی او ښادر ورباندې وغوړوی، هروخت چې چار بیته شروع شی نو دوه نفر یا ډېر، هلك به یوه ـ یوه ګوته و نیسی نو څرنګه چې په دې نکل کې جنیان دخل لری وایی چې هغه هلك په هوا پورته کېږی او تر هغو پورې په هماغه دوو ګوتو ولاړوی څو چې نظم نه وی تمام شوی، هر وخت چې نو موړی شعر تمام شی بیرته هلك له ګوتو ځخه راپرېوزی او په مځکه راغوزار شی.

راغله بېګم جانه توري سترګې سره لا سونه
سره اننګی شات
ښه يې په وربل کې رنګا رنګ ایښې ګلونه
سرې شونډې نبات
لښته دچندن وه چې کول به یې ویرونه
څه وشو پسات
بند شو په کوزه کې په اور سو ځی مې جانان
هې له داسې توره

* * *

١٣- چې دوه کسره ولري، دلومړي کسر دواړې مسرې به یوه وزن او قافیه او ددوهم کسر اولومړی مسری داول کسر دمسریو په قافیه او وزن او د دوهمې مسرې بې ځانګړې قافیه او همغه وزن وي لکه د «عبدالسلام» دیوې چاربیتې دا نمونې:

په ګلستان کې ګل پیدا شو ګلستان واړه ښه زیبا شو
بورا چې ولیدو شیدا شو اوس دغماز وړی توهتونه

* * *

غماز په مینه کې رسوا کړم لیونی مینې د لیلا کړم
دیاریاری همېش په غلا کړم آه و فریاد تل واویلا کړم
دلر با ولې دې جدا کړم ځان به هر دم تر تا فدا کړم
د سر جلا د مې دلر با شو په ګلستان کې ګل پیدا شو
بدن مې وسو په داور کې خو دعاقبت یې سوی سکور کې
ګرځم مدام په کلی ګور کې رابا ندې پر شوه ستا غمونه

* * *

١٤- چې دوه کسره ولري، دلومړی کسر لومړی مسرې یې په بېله قافیه او وزن، دوهمه یې په همغه وزن او بېله قافیه وي، ددوهم کسر لومړی مسرې دلومړی کسر دلومړی مسرې په قافیه او همغه وزن او دوهمه مسرې یې دهغه ددوهمې مسرې په قافیه او همغه وزن وي. په نمونه کښې یې د «رزق الله» دیوې چاربیتې کسر او یو بند وړاندې کېږي:

تاوی خێی، تورور بل پەماراغلە
خەیی پەخاطرۆچی داتیر دشوە
شنەخالو نە، شنەوەپەخنداراغلە
وی ویشتمە زەپەخندا آتیرەشوە

✡ ✡ ✡

وی ویشتمەزەروغ بەتری کلەشم
غیشی یپ دلاسە بنەتنکی خور مە
هلە بەزروغ شمەچی وریی تر بور جلەشم
توری کەپەسر دپیر نگی خو ر مە
زەخوییقر با ند تور و ر بلەشم
شین خال یی سرەت انگی خو ر مە
یوعلی کە خوا پەخوا همداراغلە
لاهاە اندیشنەددنیا تیرەشوە

✡ ✡ ✡

١٥-چی دوە کسرەولری دلومی ی کسر لومی یەمسری پە بیلە قافیە او یل-بیل وزن، دوهمە مسری یی پە بلە قافیەاوهماغەوز ن، ددو هم کسر لومی یەمسری هم پە بیلە قافیەاو هماغەوزناودوهمە مسری یی د همدی کسر د لومی یەمسری پە قافیەاووزنو ی، لکە دملنگ جان دیوی چار بیتی کسر:

نن می بیازهگی نری - نری خور یری
دردمی بیامرندەد فکر نندارتو ن کی
لەافسوسەمی چشمان دی پەخو نبا ر گلو
کاشکی موبشوی ددی دهر پەباز ار گلو

✡ ✡ ✡

یادونە:

پەدی پورتنیو نمو نو کی دچار بیتود کسر و لەمتنو عوالی شخە پرتە هم پەهرە چار بیتە کشی بیل-بیل او محا نگری-محا نگری خصوصیات پرا تەدی. مثلا: دبندو نودمسر یو شمیری او یا لکە دبندو نود قافیی

ار تیا طاو تړون چې په هره چار بیته کې په بیل-بیل ډول را غلی.
یالک، د وزن له خوا چې د هرې چار بیتې مخصوص وزن، آهنګ او نغمه ده، نو څرنګه چې د ټولو کمي او کیفي خصوصیاتو او ممیزاتو لیکل یې دلته اوږدېږي، په دې سبب د دې چار بیتو ځینو خصوصیاتو ته د ګرانو لوستونکو د ملتفت کولو له پاره د ایادونه وشوه. او څو نور بارز خصوصیتونه یې دلته لیکم:

الف) د کسر د سر کلمې عموماً د لومړي بند په سر کې تکرارېږي چې دا تکرار کلمه - کلمه د چار بیتو په ټولو بیتونو کې هم مراعات کېږي او کلمه - کلمه د چار بیتې د هر بند په سر کې د وروستي بند د وروستي مسرې سر را اوړل کېږي، په نمونه کې یې د «شېر جان» نومي اولسي شاعر یوه ښکلې او خوندوره چار بیته لیکم:

نیغې چې په نیغه زني اېښې نیغ خالونه دي
تاویې له ګردنه توري زلفې ولونه-ولونه دي

✡✡ ✡

نیغې تا په نیغه زنه سپور د مینې خال کړ
نیغ زړه ګی زما دی په غمونو کې پایمال کړ
نیغ دې تور وربل په سپین جبین باندې اوار کړ
تاویې له وربل ځینې کتار سپین تاویزونه دي
تاویې له ګردنه توري زلفې ولونه-ولونه دي

✡ ✡ ✡

نیغه-نیغه ګرځم نیغ په نیغه د ملا تیر لرم
نیغ ابرو کمان او نیغ مژګان پکې تاو ګیر لرم
نیغ مې په سپین صدر کې د سرو زرو ځنځیر لرم
سپینه خوله صدف یاره ستا نیغ پکې غاښونه دي
تاویې له ګردنه توري زلفې ولونه-ولونه دي

نیغه - نیغ، ګرځه - نیغ درکړی رب تصویر نجلۍ
نیغه شه ته نیغه - نیغ دې کړمه په ضمیر نجلۍ
نیغ درته ولاړ یم نیغ به کړم درته تقریر نجلۍ
نیغه شه ای نیغې - نیغ مې تا ته داسوالونه دي
تاو یې له ګردنه توري زلفې ولونه - ولونه دي

✡ ✡ ✡

زه شیرخان چې نیغ ګرځم په نیغو باندې ګیر یمه
نیغو لیوني کړم ځکه داسې رنګ تغیر یمه
نیغې مسرۍ وایم د شاعر په سینه تیر یمه
واړه و شاعرانو کې زما اشعار ګلونه دي
تاو یې له ګردنه توري زلفې ولونه ولونه دي

✡ ✡ ✡

ب) په یو کسره او دوه کسره والا چاربیتو کې سوال او ځواب هم ذکر راځي چې په لومړي کسر کې سوال او په دوهم کې ځواب او نور نو په یوه بند کې سوال او په بل کې ځواب وي، د یو کسر لرونکي چاربیتي بیا نو په بندو کې سوالونه او ځوابونه راځي، چې تاسې یې په پورتنۍ چاربیته کې ګورئ او دوو کسر و والا چاربیتي نمونه مو د چاربیتو د عمومي ویش په «۱۰» نمره کې ولوستله.

ج) په چاربیتو کې د بدیع داسې صنعتونه راغلي چې تر اوسه د بدیع په علم کې نوم نه لري او دا یوازې د پښتنو چاربیتي شاعرانو ابتکار دی؛ لکه تاسو چې (د الف) په برخه کې د «نیغ» چاربیته ولوسته او یا لکه د رنګونو مراعات چې د «سید مهربان» په یوه چاربیته کې راغلي او دلته یې لیکم:

سپینه ده نجلۍ، سپین یې په غاړه هیکلونه دي
سپین یې انګۍ، سپینه یې خوله، سپین یې غاښونه دي

تورە دە نجلیێ تو ریێ پەغا ڕە لو نگین د ی
تور زڕۆکی کڕی، تور کەمیس یێ کەمر چین دی
توری ستر گی ڕاغلە، تور ور بل خو یێ ڕنگین دی
توری لیێ نی کڕم، تور د زلفو یێ ڕتا لو نەد ی

✿ ✿ ✿

خڕە دە نجلیە، خڕ یێ جامێ دیا ڕ ا ی کڕی
خڕ • شپە کی ڕاغلە، خڕی ثەدغلو کانی کڕی
خڕی نە خو لەغوا ڕم، خڕێ دارا تە بانێ کڕێ
خڕ موزێ موبڕوینێ، خڕ دمینێ تو متو نە دی

• • •

ژێڕە دە نجلیە، ژێڕە، ژێڕ ی کەتبی کو ینە
ژ یڕ کەمیس یێ کڕی، ژێڕ بە ثوك ور پسی شینە
ژێڕ دعاشق ڕنگ وی، چی ژێڕ ی معشوق لر ینە
ژێڕە نجلیێ ڕاغلە، ژێڕ یێ ثڕو کی گلو نە دی

• • •

شنە دە نجلی شنە، شین یێ پە سر دی زرین شال
شین باغ یێ تالا کڕ، دشنی کبر کڕی زوال
شنە کشما لی گوڕی؛ دشنی ثومرە دی ڕ پر خیال
شین می پسی زڕە دی، شنە یێ ثە عجب خا لو نە دی

• • •

بر گە دە نجلیە، بر گی دورا کوی کتل
بر گی یێ جامێ دی، بر گیە نن کوی سپحل
بر گك بر گك ور تە گورم د بر گیە نە راعی چل
دی بر گی خوڕ لی پە ڕنگی ڕا نە ما لو نە دی

• • •

بر گە نجلیە پر پڕ دە اێ پا چا «سید مهر با نە!»
بر گك ور تە ولاڕ یێ خوارە، ڕ یر بە یێ ستو ما نە

برګه زمانه ده، ګیلې څه له کړې له چا نه
برګې یارانې دي، برګ یې ګوره تومتونه دي

* * *

## ب: ځنځیري چاربیتي:

ځنځیري چاربیتي هغو چاربیتو ته ویلی کیږي چې د موضوع په تسلسل سربېره د همقافیو او همردیفو لفظو تسلسل هم پکې راغلی وي. دا چاربیتي تر ساده چاربیتو یو څه زیات خوږوالی او تأثیر لري.

ځنځیري چاربیتي شمېر لږ، پېچلې او مشکلې وي؛ دا چاربیتي هم د مسرېو د زیاتوالي، کموالي او د کسرو د متنوعوالي له پلوه لکه د ساده چاربیتو غونډې ډېر ډولونه لري. حتی چې ډېر ډولونه یې د ساده چاربیتو د ډولو په تعریف کې راځي او یوازې ځنځیروالی یې که تفاوت سره ولري چې هغه هم دومره زیات تفاوت نه دی نو په دې سبب یې د ټولو له ځېړنې څخه تېرېږم او یوازې څو نمونې یې راوړم؟ چې له هغو څخه یې تاسې ځینې خصوصیات معلومولی شی ؟ !

## د ځنځیري چاربیتو څو رنګارنګ نمونې:

### شپږ مسرۍ

(( کسر ))

ښه سینه، رنګینه، سنګینه د لیلی
شین یې خال، دی دلال، دادی خال د لیلی

✡ ✡ ✡

۱) قلندر ستا د در، هر سهر دی جانان
ټیک د سر، دی سره زر، ښه نظر، د جانان
خزانه، نازدانه، جانانه، که ګیلی
ښه سینه، رنګینه، سنګینه د لیلی
نن یې شال، دی کشال، زانګې خیال د لیلی
شین یې خال دی دلال، دادی حال د لیلی

۲) پەغرى ، داکړى ، پەدړى يې دسر
رنگەژړى ، سرى کړى ، شال شړى يې دسر
سخت کينه ، زنانه ، کە آينه ، تجلى
پە سينه ، رنگينه ، سنگينه د ليلى
تە هر کال ، کړى جنجال تل ديارە گولى
شين يې خال دى دلال ، دادى حال د ليلى

✿✿✿

۳) لە شوطان سا تە ځان ، چې آسان دى شي کار
هر انسان ، چې خزان ، شي آسان ، يې شي کار
اوگانه ، دپگانه ، يگا نە ځان تلى
پە سينه ، رنگينه ، سنگينه د ليلى
اس دې نال ، کړ الحال ، ځه کړې حال ، تسلى
شين يې خال ، دى دلال ، دادى حال ، د ليلى

اووه مسرى

کله پە راوړى دواړه ليې دى رنگين ، شير ين
سپين ، دى جبين ، زرين ، مخ دى ځلېږى

✿✿✿

کله پە را کړى دواړه لب شات او ملهم ، صنم
مه کړه ستم ، هر دم ، پە غضب نور ى
سرى دې منگولې ، همېش وړى زړه و نه قلم ، قلم
اخلي قدم ، پە چم ، ستر گې دى تورى
پە درە ى پروت يم همېش غواړم سدا کرم ، محکم
لرى کړه غم ، الم ، کە رب تە گورى
نن دى پە غاړه باندى زانگى ، لو نگين ، رنگين
سپين ، دى جبين ، زرين ، مخ دى ځلېږى

کله به راوړی لنډۍ زنه لکه قند، که خوند
ستا په کمند، شوم بند، یمه اسیر
بانړو دی غیشی د لیندۍ کوی خدنګ، غورزنګ
راشه پر څنګ، یودرنګه، زه یم دلګیر
نن دې پر غاړه باندی زانګی تور لونګه، قشنګ
زه شوم ملنګ، پتنګ، صورت زهیر
شینکی دی خال دی پاس پر تخت پادشاه د چین ماچین
سپین، دی جبین، زرین، مخ دی ګلپری

* * *

دلګیره مه شه خوله می شه تر تا قربان، جانان
دا سره لبان، په شان، د قند لرمه
حسن می ډیر دی هنګامه یې په جهان، عیان
ابرو کمان، زلفان، کمند لرمه
ښه راته وګوره چې څه ښه می دی شان، دوران
درمې دندان مرجان، ډهندلرمه
د ښکلو نجو نو شنه خالونه پر جبین، سنګین
سپین دې جبین زرین، مخ دی ګلپری

✿ ✿ ✿

کله به راوړې سپینه خوله د شکراب، ګلاب
مزه د ناب، شراب، په شان کوینه
زلفی دې زانګی پر سینه دی، پیچ و تاب، تناب
ساز درباب، دولاب، آو از کوینه
ژړدی پیزوان دی، د زاهد غریب قصاب، جلات
ستا د نقاب، د باب بیان کوینه
په دردی پروت یم همیشه یمه خواشین، غمګین
سپین دی جبین، زرین مخ دی ګلپری

اته‌مسری

عنبری، اثري، ز رزری، ستا صورت
زرین شال، شین دی خال، ټيک دی لال که شغلی

✿ ✿ ✿

وکړه پام، په غلام، ور که لام، چې شی سپر
شه ملنګ، پر یده ننګ، زمار انګ د سا هو
کړم سلام، شا مدام، ستا د فام، حسن و یر
زړه دی زنګ، شو لی تنګ، په دار نګ شوی لا هو
لوی دی نام، لوی دی قام، ستا په دام، شو مه ګیر
په پا لنګ، خنګ په خنګ، ګوره شرنګ د با هو
هر واری، کړی زاری، زر لری، د دولت
غم په خیال، په هر کال، ته لیوال می د خو لی

✿✿✿

خو له دی شات، خو ندیی زیات تر نبات مرمری
هینداور، ته شوې تور، لکه سکورد دو کان
یی د سوات، لوی دی ذات دی نبات سری اوری
نوم می خور، په لاهور، زما زور په خاقان
راغلو قات، په هرات، شته زکات د یاری
زما مور که پېغور، را ته کور، په مکان
سره موران می کړه دور، په ضرور د اساعت
بد دی حال، کوږ دی خال، شه کوټوال د بنګلی

✿✿✿

ټیک دی ګل، په ور بل، تا بلبل کړه رنځور
سره می لب، ژویه شب، په ادب زما یارې
چند دول، د کابل، په محل فتح پور
مرکب، سا تی لب، په هر شب نیسی لارې

هم قاتل ، یی سخت دل، په زلزل لری نور
سپین ذهب، راکړه لب، خوره عنب که بیمار ئې
کتورګ، پېښوری، بلوری قت په قت
وکه سوال، په دلال، په مخ لال دو شالی

* * *

تېر شه وار، درخسار، په تلوار خندګه سور شه
او ربل وران که هجران، په سوران ما سپښین
ډېر شه خوار، دا بیمار، دوه انار غواړي تر شه
ریباران، خوری موران، بیماران که غمګین
نشته لار، شو ایسار، بدکردار خپه زر شه
شاعران، که سوارن، په نیران «نوره دین»
اوس لری، همزری، بټیاری ډېر قوت
ما دجال کړ وپایمال په اقبال دچملې

## ((۵))

# بدلې

بدلی چې عموم پښتانه غزلی ورته وائی او په همدی نامه سره یی شهرت موندلی دی، خو ددې له پاره چې د عروضی نظم له غزلو سره یې التباس رانه شی او که بدلې ورته ووایو هم ویلای یی شو، سره له دی چې بدلې د پښتو په ځینو قبیلو کی یو عام نوم دی او د پښتو ټولو نظمو ته بدلې ویلی کېدای شی، نو لته که د التباس د ورکوالی له پاره خاص غزلو ته بدلی ووایو بده نه ده، لکه یې له التباس څخه چې پوهاند عبد الحی حبیبی د «عبد القادر خان ختک» د دیوان چې په «۱۳۱۷ ش ه» کی یی خپور کړی دغزلو برخی ته د «بدلو» جلی عنوان ورکړی دی، نو په دی صورت چې د عروضی نظم د غزلو په ځای د «بدلو» نوم استعمالیدای شی او د اولسی نظم د غزلو په ځای خو دا نوم لامناسب دی؛ همدارنګه د «پښتانه شعراء» په دوهم ټوک کی هم او لسی غزلو ته د بدلو عنوان ورکړ شوی دی.

بدلې د پښتو د اولسی نظم او د خلکو د سندرو یوه اغیزه ناکه، خوندوره او زړه وړونکی برخه ده. بدلی په ډېره چستی او تندی سره ویلی کیږی چې د آواز سستی او د آهنګ اوږدتیا نقصان پکی پیدا کوی؛ د بدلو موضوع غالباً مینه او محبت دی او بدلې هرومرو د مینی کلام یا په

بلهار تداسې کلام وي چې انسان په وجد او نشاط راولي او په وجود کې يې هيجان او يو بې ساري ذوق پيدا کوي نو همدا سبب دی چې پښتني سندرغاړي د بدلو او مقامو ترمنځ همدا توپير کوي چې په مقامو کې مداماً پند او نصيحت ويل کيږي او په بدلو کې يوازې عشق او مينه د بحث موضوع ده، څرنګه چې په بدل کې يو شاعر د خپل عشق او مينې سوز او ګداز په ډير شوق او رغبت سره ښکاره کوي نو په دې اساس اوريدونکي هم د عشق او مينې په سبب د بدلو اوريدو ته په ډيره بې صبرۍ او شوق حاضريږي په پښتو اولسي نظم کې هم د بدلو متاع ډير اخيستونکي لري او بازار يې تود ليدل کيږي .

بدلۍ په خپل کور کې د مسريو د شمېر او د مسريو د اوږدوالي، لنډوالي او برابروالي په اساس په ډېرو نورو برخو وېشلی کېږي ، د بدلو هر بند اکثره له دوو مسريو نه زيات هم راځي چې کله يې هر بند درې مسرۍ، کله څلور مسرۍ او کله له زياتي مسرۍ هم لري چې څو مهم ډولونه يې په لاندې ډول ښودل کېږي :

۱ - هغه بدلۍ چې هر بند يې دوې - دوې مسرۍ وي. دا برخه ډېر ډولونه لري نو په دې سبب يې د يوې په ځای څو نمونې راوړل کېږي.

الف) لکه د زرجان د يوې بدلۍ دا څو بيته:

تور بخمل د تورو وروځو په سر خور که
د سهار شبنم او وريږي بلبل شور که
د خزان ګل غوندې شومه هسې مړاوی
يا مې موړ که په ديدن يا مې ځای ګور که
په ارمان- ارمان به لاړ شم ګورستان ته

شاه صنمې نور نو بس له تيرې زور که

ب) د «نوروز» له بدلۍ څخه :

چېرې مې په زړه څې د غم داسې - داسې
ژوندون مې شه تنګ ستا ستم داسې - داسې

نه مجنون شه پاتې، نه فرهاد نه شیرین

فنا شو په عشق کې عالم داسې - داسې

سیلاب مې داو بنکو په مخ ځي همیش

بهیږي دستر گو مې نم داسې - داسې

ج ) د «محمد دین» دا بدل:

گل دې په زلفو باندې کتار دې

دواړه چشمان دې محبوبا گل دانار دې توبه - توبه

تا چې آیـنه مـخ ته نـیـولـې

شینکې خالونه دې په مخ وهلې چار دې توبه - توبه

چمن یې جوړ کړ گل دیـاره

یکې بلبلې شنه توتیان گډ په چغار دې توبه - توبه

رب چې پیدا کړی، زموږ رسوله

بنایسته نبې - مخ گلابې یاران دې چار دې توبه - توبه

ته فضل وکړې په «محمدینه»

څو مره غموله په تیلې غریب امبار دې توبه - توبه

۲ - هغه بدلی چې هر بند یې څلور لنډۍ او په یوه وزن مسرې ولري چې په هغو کې یې درې مسرې په خپل کور کې متحد القافیه وي او څلورمه مسرې یې د کسر په قافیه وي، لکه د «خسرو» نومې اولسې شاعر له یوې بدلې څخه دا څو بندونه:

مجنون په شان ته گرځم | د لیلا پسې دیوانه
ځنګل په ځنګل سر شوم | هیڅ آگاه نه شوم له ځانه

* * *

زه سوخته سینه کباب یم | تش گو گل لکه رباب یم
زه په لاس کې د قصاب یم | اې صنم شه مهربانه

* * *

د مجنون په شان فریاد کړم | ستا څېره چې را په یاد کړم
زه ستا مینې نامراد کړم | شوم ستې لکه پروانه

۳- هغه بدلې چې هر بند یې څلور مسرې وي، په دې ډول: لومړۍ مسره نه یا لس سېلابه، دوهمه مسره هم همدومره سېلابه په همغه وزن او همغه قافیه، دریمه مسره پنځه سېلابه په بېل وزن او بېله قافیه او څلورمه مسره څوارلس یا پنځلس سېلابه په بېل وزن او د کسر په قافیه وي؛ لکه د «عبدالسلام» له یوې بدلې څخه:

په دوا ډولا سوې نیولی ستا لمن محبوبا
په دوا ډولا سو محبوبا

• • •

هنګول په ستا په لمن کېږدم    وطن به واړه تا ته پرېږدم
که مې روزي شوه
هغه وعده چې کړې دې تا دا نجمن محبوبا - الخ ...

• • •

پېزوان دې زانګي په سرو لبانو
لب دې خوراک دې د مېخوارانو
که دې رانه کړه
ناره به واوري په زړګي یمه خوږمن محبوبا - الخ ...

٤- هغه بدلې چې د الفاظو په تسلسل کې د ځنځیري چار بیتي خوندي وي چې ځینې خلک یې سپرۍ بدلې هم بولي او هر بند یې څلور مسرې ولري په لاندې ډول: لومړۍ مسره په بېل وزن او بېله قافیه او دوهمه مسره په همغه وزن او همغه قافیه، دریمه مسره اوږده په بېل وزن او بېله قافیه او څلورمه مسره بیا لنډه د دریمې مسرې په قافیه او بل وزن، یا په بل عبارت د کسر او دوهمه مسره د تکرار په ډول راوړل کیږي، د «محمد دین» له یوې بدلې څخه یې نمونه را اخلو:

په موسم راغله سرایي غاړه غندل
لیلا کړې قتلول
ته کړې قتلول صنمې ته کړې قتلول
لیلا کړې قتلول

زلفې دې دام - په خپل مقام
وايه سلام - زما په قام
خاورې ايرې - ذرې ذرې ستا په بورجل   ليلا کړې قتلول

✿ ✿ ✿

سترګې مې سرې - په شوګيرې   وهم ناري - ستا په ديرې
ميندان ولاړل جلاتان يې وپوښتل   لېلا کړې قتلول

٥ - هغه بدلې چې هر بند يې څلور مسرې ولري، لومړۍ دوې مسرې يې په يوه قافيه او يوه وزن، دوې نورې مسرې يې په بله قافيه او هماغه وزن وي نمونه يې د «خان شاه» په بدله کې ولولئ:

چې راته رادې که پېغور   ودې سوم ليلا په اور

✿✿✿

په اوردې کړمه ستې   شوم په عالم تو متې
ولې کوې راسره شور   ودې سوم ليلا په اور

✿✿✿

هله بدرکړمه خوله سپينه   کالې به واغوندم رنګينه
چې مې راضي کړې پلار او مور   ودې سوم ليلا په اور

✿✿✿

٦ - هغه بدلې چې هر بند يې درې مسرې ولري، لومړۍ مسرې يې لنډې په يوه وزن او يوه قافيه او دريمه مسره يې اوږده او د کسر په قافيه وي. د «ميران» له يوې بدلې څخه يې نمونه را اخلو:

خپل ځان کړي قلندر نو کندوا چوه اوږو ته
چې مست شي قلندر نو روان شي سر درو ته

✿✿✿

تالاش تکل يې ويردې   دزړه نه يې چاپير دې
راووت ميخانې نه ته يې ګوره ستر ګوسروته

✿✿✿

ياسخت خوزما بند دې   چې يار زما د لبند دې
محتاج يم درته ناست احتياج دې يم داروته

۷ـ هغه بدلی چې هر بند یې درې مسرې ولري، لومړۍ مسرې یې اوږده او په بیل وزن، دوهمه مسرې یې لنډه په هماغه قافیه او بیل وزن، درېیمه مسرې یې بیا اوږده ـ د لومړۍ مسرې په وزن او قافیه وي. په نمونه کې یې د «توکل» د بدلې دوه بنده وړاندې کیږي:

خماري سترګې چې راواړوي صنم
زړه مې شو قلم ـ قلم

✿✿✿

په دنیا کې رب پیدا کړې ماه جبینې
زه دې یاریم پر بښتینې
راشه ـ راشه په لیمو مې ږده قدم

✿✿✿

زه په تا باندې مین یم تل مدام
سروي قد ګل اندام
دغم او ښکې مې په مخ ځي دم په دم

✿✿✿

۸ـ هغه بدلې چې هر بند یې څلور اوږدې مسرې ولري، لومړۍ درې مسرې یې په یوه قافیه او یوه وزن او څلورمه مسرې یې په همدې وزن او د کسر په قافیه وي؛ د «میرهاشم» د بدلې څو بنده یې په نمونه کې ولولئ!

خوشبو یې دې همیشه ځي له ګریوانه
لیونی دې کړم آ ګناه نه یم له ځانه

✿✿✿

خوشبویي دې همیشه ځي په هر لور
تاپسې له ویره درد کوم شور
ته خویي زما ددواړو سترګو تور
راته ګران یې خپله یاره له هر چا نه

راته ګران یې خپله یاره له تا جار شم
خاک پای دې بېلابېل د هر ربېار شم
ارمان چې یمه که موړ دې په دیدار شم
هغه وړاندې سخت سفر مې کړی اسانه

✿✿✿

۹- هغه بدلې چې هر بند یې درې اوږدې مسرې ولري - لومړۍ دوې مسرې یې په یوه قافیه او یوه وزن او دریمه مسره په هماغه وزن او د کسر په قافیه وي. په نمونه کې یې د «بهایي جان» لاندې بدل وړاندې کوو:

خوند کوي تا ته کتل، تل، تل
زلفې لرې الول-ول-ول

✿✿✿

خوند کړي بوسه په پیاله د شراب
سازوي، آوازوي، کباب وي، رباب
ورشه پالنګ ته په چل-چل-چل

✿✿✿

خوند کوي چین په جبین د نګار
سوال نه ځواب وي، نه دار او مدار
وران به کړي واړه په جل-جل- جل

✿✿✿

۱۰- هغه بدلې چې هر بند یې څلور مسرې ولري - لومړۍ درې مسرې یې لنډې په یوه قافیه او یوه وزن او څلورمه مسره یې اوږده د کسر په قافیه او هماغه وزن وي، نمونه یې د «عیدو خیل» له یوې بدلې څخه را اخلو:

هسې فریاد دې راغی چې ځان سنبال که
بیا دې تازه خال که

✿✿✿

شونډې دې سرې کړه هم لاسونه
په سرکې وټومبه ګلونه

بیا پری را بند کړه تاویزونه
هله تا دی وکړه په سر دی زرین شال که

✿✿✿

رنګ او رانجه په سترګو که
د پردیسی اشنا زړه بنه که
ورته په خیال باندی کاته که
مخ یې ورپاك بیګا پالنګ کی په دسمال که

✿✿✿

۱۱ـ هغه بدلی چی هر بندیی او وه لنډی مسری ولری (او دوه ـ دوه مسری یی کسرونه یی هم وی) په دی ډول چی: لومړی شپږ مسری په یوه وزن او یوه قافیه او اوومه مسری په همدی وزن او د کسر په قافیه وی، لکه د «خسرو» دیوی بدلی ـ یوه برخه:

ژړیږم هر زمان په غم کی د جانان
افسوس کوم ارمان ای سروی خرامان

• • •

دیدن که یو ملت وای غمونه به په ځت وای
د یار تر څنګه می کت وای بیخی به روغ رمټ وای
تاویز د یار دمت وای لستوڼی لاندی پټ وای
د ادی زما ارمان الخ...........

✿✿✿

له غمه کړم فریاد ځوانی می شوه برباد
له عشقه نامراد په عمر نه شوم ښاد
اخته شوم په فساد چی یاردی پریزاد
خجل ورته خوبان الخ.........

✿✿✿

۱۲ـ هغه بدلی چی (دوه ـ دوه مسریز کسرونه ولری، د دواړو کسرو لومړی ـ لومړی مسری په یوه قافیه او یوه وزن وی او دوهمی ـ دوهمی مسری یی په بله قافیه او هماغه وزن وی) هر بندیی اته لنډی او

په یوه وزن مسرې ولري په دې ډول: د بند لومړۍ مسرې په بېل وزن او بېله قافیه، دوهمه مسرې په هماغه وزن او بله قافیه؛ دریمه مسرې د لومړۍ مسرې په وزن او قافیه، څلورمه مسرې د دوهمې مسرې په وزن او قافیه، پنځمه مسرې د لومړۍ او دریمې مسرې په وزن او قافیه؛ شپږمه مسرې د دوهمې او څلورمې مسرې په وزن او قافیه وي؛ اوومه مسرې د کسرو د لومړیو مسریو په وزن او قافیه او اتمه مسرې د کسرو د دوهمو مسریو په وزن او قافیه وي. د «زرجان» له بدلۍ نه یې نمونه را اخلو:

ساقي د مېو جام        به کله کړې تیار
ولاړ یم لاس په نام        دیدن ته انتظار

✡✡✡

هغه ماه دې هر خواکې        د حسن او جمال
جدا که را نه غم کې        محبوبې دا مې سوال
رسوا شوم په عالم کې        ویده مې نن اقبال
ورځم بېګا ما ښام        که سو ځم په انګار

✡✡✡

دا ستا شونډې شربت        صنم ما پرې سیراب که
پنا زاو نزاکت        زلفانې پېچ او تاب که
د حسن په نعمت        داخل مې په ثواب که
پرېږده د ګل د پام        احتیاج یم خریدار

✡✡✡

۱۳ـ هغه بدلۍ چې دوه کسره او هر بند یې څلور مسرې ولري:
لومړۍ مسرې اوږده په بېل وزن او بېله قافیه، دوهمه مسرې لنډه په هماغه قافیه او بېل وزن، دریمه مسرې یې اوږده د کسرو د لومړیو مسریو په وزن او قافیه او څلورمه مسرې یې لنډه د کسرو د دوهمو مسریو په وزن او قافیه وي؛ د «مخلص» د یوې بدلۍ نه یې نمونه وړاندې کېږي:

عاجزه سرنګون پروت یم په غم کې د جانان
خوړنه یم په ځان
توئیږي مې له سترګو د فراق او ښکي باران
همېش یمه نالان

* * *

یار لاس په لاس تېرېږي له رقیب سره خاندي
سور اور په ما بل کاندي
لا نه مرم ژوندی پایم و خپل ځان ته یم حیران
چې سنګ یم که سندان

* * *

چې سر مې فدا نه کړ د وصال په شکرانه کې
د یار په آستانه کې
لایق یمه چې وسوځم په اور کې د هجران
بتر شم سرګردان

* * *

۱۴ – هغه بدلې چې دوه کسرو نه ولري – د کسرو لومړۍ مسرۍ یې په یوه وزن او یوه قافیه او دوهمې مسرۍ یې په هماغه وزن او بیله – بیله قافیه وي او هر بند یې څلور برابرې مسرۍ ولري: لومړۍ مسرۍ په بېل وزن او بېله قافیه، دوهمه مسرۍ په هماغه وزن او هماغه قافیه، دریمه مسرۍ د کسرو د لومړۍ مسرۍ په وزن او قافیه او څلورمه مسرۍ د کسرو د دوهمې مسرۍ په وزن او قافیه وي، د «شیر افضل» بدل یې په نمونه کې ولولئ:

لو غوړېږ شوم د مینې له ناره
شاهدامې هر ځای کې ګریان ځي
کړم بېلتون په زړه ګې پاره – پاره
چې په خنګ را نه خپل دلبر جان ځي

هسې بند شوم دمينې په دام کې
خدايه ما ته په کله انعام کې
سره پياله شوه دميو تياره
چې له دل نه پرې تاود نيران ځي

✡ ✡ ✡

چې راپورته دخيال له بصر کړي
زړه مې غوڅ دبازوپه خنجر کړي
هغه دم په صورت شم نا توانه
تورې زلفې په مخ ښاماران ځي

✡ ✡ ✡

«شير افضل» چې رباب کړي سنبا له
خوږدمينې هغر وايي له خياله
شاقربان درمرجان شه له تازه
ستا ديدن ته دملك شاعران ځي

✡ ✡ ✡

۱۵ ـ هغه بدلې چې (يو کسر ولري ، د کسر لومړی مسری اوږده په بيل وزن او قافيه وي ، دوهمه مسری يې ډيره لنډه او په بله قافيه وي) هر بند يې څلور مسری ولري : لومړی مسری يې اوږده په بيله قافيه او په بيل وزن ، دوهمه مسری يې لنډه په هماغه قافيه او د کسر ددوهمې مسری په وزن ، دريمه مسری اوږده ، د کسر د لومړی مسری په قافيه او بيل وزن او څلورمه مسری يې لنډه د کسر ددوهمې مسری په قافيه او وزن وي او دې ته سپره بدلهم ويله کيږي چې دځنځيري چار بيتي رنګ لري .

د «احمد ګل» له لاندې بدلې نه يې نمونه وړاندې کيږي :

محبوبا په وربل ، نن کړلي سنبل          عاشقان ځورو ي

* * *

تاداغ دجدايي ايښې زما دزړه دپاسه          همدا به دې له لاسه
کيدل زه بيدل ، ستا خندل مې په دل          کې نيران لګوي

جامی می په تومت کی شو لی رنګی دد لېر
زخمی دز ړه په سر
په خندل، په ګو ګل، مخ دی ګل، د کابل
ښنه تو تیان بندوی

✿ ✿ ✿

د ړدب دی دخو با نو محبو بادز ړه ملهمه
سپین مخ د ی لکه شمه
دی سنبل، که کا کل، کړی سپېڅل، کړ ې داغل
ګل جهان ور انوی

✿ ✿ ✿

# ((٦))

## بګټۍ

بګټۍ هم د پښتو د اولسي نظم یوه خوندوره او ښکلې برخه ده، د بګټیو وزن هم د لنډیو غوندې مرغوب او خوندور دی، د پښتو اولسي شاعران چې دابړۍ له نورو آلایشاتو څخه بې خبره دي او خاصه یې شعري طبعه اول لنډیو او بیا بګټیو ته میل کوي؛ بګټۍ یو داسې چست، ساده او روان شعر دی چې د اوربدونکو او ویونکي وجود په حرکت او ارتعاش راولي او یو هیجان پکې پیدا کوي. بګټۍ په مجلس کې له مقام، چاربیتو او بدلو څخه وروسته او بلکه د مجلس د انشاط او تازګۍ د پاتې کېدو له پاره د چاربیتو او بدلو په مینځ کې ویلې کېږي.

دا یوه عمومي قاعده ده چې بدلې خلکه په اوږد او اوچت اواز وایي او هغه وخت چې ټول مجلسیان یو اوچت اواز راواخلي په دې مینځ کې د مجلس اداره له لاسه وزي او د مجلس د شوق او ذوق روح له پاتې کېږي نو په دې وخت کې یو مجلسي بګټۍ راواخلي او په دې ترتیب سره د مجلس اداره او تنظیم بېرته برابر او مجلس اعر ته اوي

او تازه کړي چې په دې واسطه بګتۍ د مجلس د خوند او ذوق د محفوظ پاتې کېدو یوه آله ده؛ بګتۍ په ورو وزو جلت او له سره ویلې کېږي په څېرتیا کې د څلور بیتۍ غوندې ده خو آهنګ یې نرم او هوار دی او په بل عبارت په بګتۍ کې او ازانه او څپېړي بلکه په تیز او ټېټ او له سره ویله کېږي.

بګتۍ هم د څلور بیتو او بدلو په شان کسرلري خو د بګتۍ کسر د ځینو څلور بیتو او ځینو بدلو په خلاف اکثراً یو بیت (دوه مسرۍ) وي او اکثره وخت په قافیه کې هم دواړه مسرۍ سره برابرې وي او د بګتۍ هر بند غالباً څلور مسرۍ وي چې د هر بند دوې لومړۍ مسرۍ یې په خپل کور کې یوه قافیه لري او څلورمه مسرۍ یې د کسر سره هم قافیه وي؛ سره له دې هم ټولې بګتۍ په یوه وزن نه راځي بلکه وزنونه یې مختلف ــ مختلف او بېل ــ بېل دي؛ ځینې بګتۍ چې له ځینو بدلو او څلور بیتو سره ورته والی لري او سړی ته تشویش پیدا کوي چې دا بګتۍ ده که نه؟ خو د ویلو په وخت کې ټول په ښه معلومېږي؛ نو هم دا وجه ده مجلسیان چې بدلې یا بګتۍ او یا څلور بیتې وایي، نو سړی یې په پوره صورت سره معلومولی شي چې دا څلور بیته ده، دا بګتۍ ده او دا بدله ده. ځکه چې دا دري واړه ډولونه بېل ــ بېل وزنونه او بېل ــ بېل طرزونه لري، په یوه وزن او یوه ډول نه راځي؛ مطلب دا چې بګتۍ هم په اولسي او د خلکو په سندرو کې ستره برخه لري او لوړ مقام اشغالوي.

د بګتیو څو رازه نمونې:

۱) د «طالب جان» دالاندې بګتۍ:

دا تورې سترګې، سره تېر پرې
له حیا یې زما، کله خبر پرې

* * *

دا تورې سترګې سره یې لا سو نه
په بام ولاړه کوې سېلونه

ور بل گی ایښی تازه گلونه
موزی دله خان ، به تر ی جار یږی

* * *

موزی دله ته، و کوی ږ پام
د کوره وزی، سری ما ښام
چی بیر ته راشی ، کوی سلام
تومت دجینی ، پهما ور یږی

* * *

تومت دجینی کړمه بیمار
دخیاله کوی ډول او سینگار
څرک ورپسی کړ ځی د پلار
ورځی طالب جان، لهایسار یږی

* * *

۲) د «چا چا گل» بگتی :
دماز یگر او بو لهمستهٔ په نخرو راځی
شوریی دگنگر وراځی

* * *

دمازیگراو بو ته لاړه-ښه سوراړی غندلړی غاړه
هینه امن دسر غواړه
دسو یلو ور پسی ډ لهٔد سپر وراځی
شوریی دگنگر و راځی

* * *

دسویلو پسی لښکر دی -مځ یی ښا یسته شمس او قمر دی
ډیری یی پهستر گوکی اثر دی
زماگومان ور باند ی خاص دښا پیر وراځی
شوریی د گنگر وراځی

زماگومان ڤیرێ دوخته -داداصیل چند پولبنده
بل اوی‌پەدە دچاله بخته
شا پە ڤوپو نوکی پەمثل دبنارو راگهی
شوریی دگنگر وراگهی

* * *

شاپە ڤوپو نوگهی پە دانگه -دادلاچی لوالکو شانگه
ورتەدفکر پەڤال زانگه
داتورێ زلفی د سینی پە انار و راگهی
شوریی دگنگر وراگهی

• • •

داتورێ زلفی یی سمو رێ -بنەگلا بی عطرو رپورێ
هم پە کجلو سترگی تو رێ
بل‌دسرو ڤیکە یی دوربل پەکنارو راگهی
شوریی دگنگرو راگهی

• • •

زلفی سنبل سینەدێ باغ دی- بلبل دێ خپل دبنمن دی زاغ دی
پەزپە یی تل دمینی داغ دی
سمور گلو نوتە تو تی دسردر وراگهی
شوریی دگنگر وراگهی

* * *

زەخو توتی ستا دجما ل یم-ڤپردی دیدن پسی لیوال یم
پەعشق کی تیر له سراو مال یم
دپا چاگل ە بگەی چو ستی پەمسر وراگهی
شوریی دگنگر و راگهی

* * *

## ((۷))

# لوبې

لوبې هم د پښتو نظم یوه خوږه او خوندوره برخه ده، لوبې هم ساده دي او هم خوږې، او ولسي مینه تمثیلوي او هم د ساده او کلیوال ادب نمونې دي.

د لوبو خوند او رنګینی هغه زیاته ده چې دا ولسي سندرو له یوې مهمې برخې یعنی لنډیو څخه رنګ اخلي او کسرونه یې اکثره د لنډیو په شان وي، لنډۍ په خوږه خلکو د سندرو هغه زړه وړونکې برخه ده چې د پښتو په نورو سندرو او هم په نورو ژبو کې یې سیال او همځنګ نه پیدا کیږي شو، نو که لوبې له لنډیو نه رنګ اخلي نو د نورو سندرو خوند هم ترې اخلي، چې په دې توګه د لوبو اغیزه هم له لنډیو نه چندان کمه نه ده.

محققي پښتانه لوبې ته په نوعیت قایل دي؛ یوه ډله په دې عقیده دي چې لوبه او بګټي تو پیر نه سره لري، خو ځینې بیا دا عقیده لري چې لوبه او ټپه کي سره یو دي؛ بیا هم یو زیات اکثریت په دې دي چې لوبې

دخلکو د سند زو یوه ځانګړي او مستقله برخه ده، لوبې له بګتیو سره یودو یلو په وخت کې توپیر لري او بل دا چې د کسر مسرې اکثره وخت سره په یوه قافیه وي او لوبې داشان نه دي، لوبې له نیمکي سره په دې توپیر لري چې په نیمکي کې لنډۍ هیڅ راوړل کېږي او په لوبه کې په خپله لنډۍ نه راځي او بل دا چې نیمکۍ د خلکو د سند زوله عمومي برخې سره چې معلوم ویونکی نه لري - تړلي او لوبې د خصوصي سند زو په ډله کې راځي ځکه چې شاعر او ویونکی یې معلوم دی. او دا دی د لوبو دوه نمونې:

په لومړۍ نمونه کې د «محمد نور» دالاندې لوبه وړاندې کوو:

«کسر»

غمونه لري کړه له ما عاجز غمګینه راتاوشه لونګینه

• • •

ودې و یشتم روغه دې نه کړم نوره یاري در سره نه کړم
